
# مناجات


زما ربه په زړه مینه د جانان را
د خوښۍ پیاله لبریزه په جهان را
بیماري مي د ساقي له خُمه واخله
د سره مى پشان په خوله مي سره لبان را
يار چي هم په خوش آمد پهلونشين سي
لاس مي بر په رقيبانو او هجران را
د حباب په څير دريا څپه نوشي کړم
په هرموج کي مي ضعيف بدن ته توان را
هريوخُم چي ئې دا ستا دنور تصوير دئ
زلال څاڅکى ئې ( تائي ) ته د ايمان را

هانو ـ جرمنى دروژې مبارکه مياشت ـ ٢٠١٠



زما ربه مینه ستا په نازنین را
چي مقام ئې مایشآء دی پرې یقین را
برق د زړه مي د انوار په څپه بل کړه
تلاوت دي د کلام په خوله شیرین را
یوه پانه مي غنچه غوندي بیده که
د جانان غېږه کي پروت سرپر بالین را
د زړه ویني چي مي جوش له سترګوراسي
د لاله په شاني جام مي آتشین را
هغه می چي ( تائي ) تل له خمه غواړي
پیاله ډکه ئې په پانو د یاسین را

هانو ـ جرمنی دروژې مبارکه میاشت ۲۰۱۶




زمزمه د گل پرښاخ د صبحدم را
د غنچې پرپاڼه خواب لکه شبنم را
بيا شانه غوندي چي تاب د ولونو وخورم
پريشاني د توروزلفو په هر دم را
يو قطره چي ئې لا خُم کي پاته نسي
د هغه ساقي وجام ته مي قدم را
دعشق اورچي ئي شعلې آسمان ته يوسي
په سينه کي خيال د ښکلو مقدم را
هريوسپند چي د ( تائي ) يارته دوديږي
د هغه خاکستر سوځنده مرهم را

زما شخصي باغچه ، هانو ـ جرمني

زړه کي مــینـه ستــا ، پیــداکړې ربه زما
خوله مي ستا په وصف گویا کړې ربه زما
بــرابــر مي هـــر کردار کانـدې په شرعه
ورک لـــه مــا فـکـرخـطـا کړې ربه زما
یـو قـدم مي پـر نـــا حـقـه لاره مــه کړې
هــــــر قــــدم مي ر هـنـمآ کړې ربه زما
د شــیطــان له وس وسـو نــه پـناه راکړه
را قـــبولـــه دا دوعــــا کـــړې ربه زما
هــره ســتا رضـآ ( تائي ) ســترگو منـلې
تــوره شـــپه مي را رڼـا کــړې ربــه زما

هالند ـ دامسټردم ښار جون ـ ۲۰۰۶ م



زه چي خدای ته کړم لاس پورته په دوعا
ځني غواړم ژوند صحت د خپل اشنا
بخت زما چي رنګ د يارله زلفو واخيست
اور د ميني کړ سوخته لړمون زما
يو په يومي د زړه سر په غشو ولي
کوږ بانه ؤ کږي وريځي کج نګا
دا آسمان ئې بيا په سرو لمبوکی ونغښت
که مي عکس د وينو راغئ په سما
هرپلو ئی عليحده په تمکين چين که
تري به مومي د ( تائي ) درنځ دوا

دهانوبنار ـ جرمنی مارچ ـ ۲۰۰۰

زیبا ښکاري د زلفو پیچ ؤ تاب جدا جدا
ساقي پټ کړه جامونه تر نقاب جدا جدا
بایلمه سرومال دي نن د میني په قمارکي
ایرٍدم د زړه ټوټه ټوټه کباب جدا جدا
یودم دي خورې زلفي دمطرب وخواته تاؤکه
نغمې چي مستي سرکي د رباب جدا جدا
د غرونوپه لمن کي د فرهاد تېشه سوه مسته
په سروسترګو د زرکو انقلاب جدا جدا
همېش که د ( تائي ) دفکرتال تصورغواړې
په پاڼه پاڼه لوله دا کتاب جدا جدا


اوفن باخ ــ جرمنی دسمبر ۲۰۲۰

زلال څـــاڅکی د شبـــنم ســـه د سبا
د چـــمن ګلـــونـــه مست کـه پـه خـندا
بې اجله دي رخسار په خط کي کښلي
د مرګي مضمـون مي وينو کــي حـنا
يـوطـرف تــه دي دلبـو ګـرم می شـه
بل طرف تـه د رخـسار پـورتــه رڼـا
دا افعي ماران دي سر پرسر تاويږي
که دي زانګي اوږدې زلفي سررا پا
هميـشه ( تائي ) دا تور ليـمه اوبـه کا
د قـلم پــه شـــان د خـط پـه تـمـاشـا

کندهار ـ المکه کلينک
دسمبر ـ ۰ 2020

زړه ئې ښه راته ښکاره سو د اشنا
نا اشنا ؤ په جامه کي د اشنا
بېهوده به ئې سوگند د اشنائي کړ
ؤعمل کي تر همه و بیوفا
یوه ورځ راته په مکر مکرراسي
بله ورځ بیا کا زما د سر سودا
دا د چا په مینتوب کي پر ماراغلې
سل بلاوي سل جفاوي د دونیا
همه واړه په تائي د غموشور دی
چي ئې تل ده په سرواوښکو مشغولا

مشن هسپتال کوئټه ـ پاکستان مارچ ۱۹۸۷



زلفي چې ليدلي دي ماران ستا
لاس د هغو ونيوی گريوان ستا
بيائې كليشه د ايكسرې وگوره
صدركي كاږه كاږه مژگان ستا
يو تار ئې گنډلوته كافي بولم
زخم دسينې ته مي زلفان ستا
دلته هديره كي د عشاقو زه
وينم قبر قبر شهيدان ستا
هر څه جستجو كوه د زړو د ښكار
زړه د ( تائي ) وړی دی چشمان ستا

قرغه ، كابل ـ افغانستان
اسد ۱۳۹۴ هـ ش

زمانــې که مـي پــاره پــاره ځيـګر کا
پــه قُل قُل د صـراحي ئې زړه خبرکا
بـوريا نقش پــه بدن باندي ښکاره کړم
چيـري يارکه مي پـر لوري بيا ګذرکا
يـاد ئې بيـا دی د دلـبر پـه زړه راغلې
کلـــه فــتـح بـــه د حُـــسن دا لښــکر کا
دهيـواد ياران چي تللی راتـه يـاد سـي
کسي تـورمي ګـرمي اوښـکي مکدرکا
هره ورځ وي تائي  ناست دخم په دور
څـو ساقي ورتـــه ډک جـام د ميو وركا

ټورنټو ـ کاناډا    فبرور  ـ  ۲۰۰۲

بـوريا نقش =  کله چی په بوريا باندی زيات کښينی دبوريا نقش ئې په بدن باندی راځی  دلته مطلب دانتظار څخه دی .


زنگي مار چي په رخسار ئې نشستن کا
د سنبل گلونه ناز پر نسترن کا
بیا دي سرې کړلې منگولي په سرو وینو
په مستي د سروگلونو زیب گلشن کا
یو یو غشئ ئې ښکاره تر زړگي وزي
هر گذارئې نن رسا رسا کشتن کا
دا چي خوا لره په ډکو پیالو راغلې
هر یو جام دي علیحده شیرین دهن کا
همیشه چي ئې په سرو منگولو باسي
د ( تائي ) زړه په سینه کي تپیدن کا

پراگ - دچیک جمهوریت -
اپریل ۲۰۰۶ م

زړه مـي هـــله سو سينــه کي پټ کباب
چــي فلــک راکړتـرڅنـګ دعشـق کتاب
بـوی د زلفـوچي نسيم پـه ځپـو راوسـت
شـوه پـــه بـڼ ښـيـښــه نــازکه د ګلاب
يوئې تيغ دخوشحال پروت پرجبين راغی
بـل ئې زلفي ول پـه ول دي تاب په تاب
دائې زړه زما په سـرو لمبو کي ونغښت
که آسـمان پـه پـريــواتـــه مخ د آفتاب
هسي رنــګ سو د تائي زړه په داغونو
لکه رنــګ چـي آمـيزش سي پـه پنجاب


هانو ـ جرمنی اکتوبر ـ ۱۹۹۳

تيغ دخوشحال = دخوشحالخان له عکس سره يو تبرزين شانی تيغ دی داتبغ داسی معلومیږی لکه ديار د تندی پيکۍ




زما د زړه د وینو رنگ واخیست شراب
هم آسمان په پریواته مخ د افتاب
بیا ئې مست د آبرو مینځ کي خال لیده سی
که مي تور هندوگئ ولید په محراب
یائې ول د زلفو کج پر سینه پریوت
یا افعي پر خزانه سو پیچ وتاب
دامحراب چې په لیدو قبلې ته شا کړه
زړه زما ئې مقتدي سو په آداب
هغه چاؤ ته معلوم د ( تائي ) حال دی
چي ژوندون کي وي دعشق سیندکي غرقاب

فرانکفورت - جرمنی
ډسمبر - ۱۹۹۸




زه به لولمه د حُسن ستا کتاب
چي گرمي پر سينه را سي د شراب
برق ئې وبوله خندا صدفي څاڅکي
که دا تور پوړنۍ ليري سي حجاب
يو ساعت چي سترگي نسي بيله اوښکو
سمندر ته رسوي موج د سيلاب
دا د بدر په تصويرچي آسمان واخيست
دا رخسار زما د يار دئ نه مهتاب
هېشه چي و( تائي ) ته ساقي راسي
په نشه کي ورکوي شونډي شراب

هانو ښار ـ جرمنی ـ
اگست ۲۰۰۱ ـ م



زړه مي شين کړ تورو سترګو شکرلب
چي د ترکو حال ئي ولید د مکتب
بېله عشقه په ګناه ګناهکار نه یم
له عاشقه طلب مکړه د ادب
یو لحظه چي خبر نه یم له خپل ځانه
بې وطنه ، بې مسکنه تشنه لب
دلاله غوندي مي هجر زړه داغدار کړ
په بوسه ئې د رخسار مومم طرب
هسي زه ( تائي ) مغروره یار میئن کړم
نن چي یم د آهو چشمو په طلب

کندهار ـ جوزامیاشت ۱۳۹۳




زه چي گرځم په طلب
لټوم قلم مکتب
بې تکبیره حلا لیږم
هسي مرگ مي سو د کب
یولبریزپیاله کړم تشه
بله پورته کم پر لب
د مطرب هري نغمې ته
غوږ نیولئ په ادب
هیڅ تائي لیدلئ نه دی
گل په شان د شکرلب

حیدری کلینک کندهار ـ اقفانستان

زه چي نن باده نوشي کړمه په لپ
ساقي ډک جامونه ږدي راته په سپ
بلبل ځکه سره غنچه په نوا وا کا
چی پتنگ په اورسوځل کا ځان په رپ
يوور زړه راخه خوبانو کرشموکي
تش کالبود سينه مي وچه ځيگر ټپ
د اغيارو د ليدو پروامي نسته
چي آوازئې ترخولې وزي په غپ غپ
هغه دم به د تائي هوس جبين کا
په نسيم چي ټال وهي پبکئ په چپ


لپ : ـ د لاس لپه
سپ : ـ ټوله ، گرده

د ډاکترانو اتحاديه نوی کوټه پاکستان




زما به وخت دمازیګر ؤ ملا قات
په بهانه به می دیدن کړه د خیرات
بې عنقا راته عنقا دیار دیدار سو
مونده نه سي په څلور واړه جهات
یار خیرات راته دسپیني خولې رانه کړ
اوس ئې ناست یمه په دور د زکات
د ماښام په وخت ورځمه دروازې ته
څو په سپینه خوله مي وسي روژه مات
هلکان په جمع ناست د دربشت ګوره
( تائي ) یو له بله وائي ستا ابیات

کندهار دسمبر - ۲۰۱۳
دربشت = درویشت کلن یا بیست و سه ساله



زړه سینه کي مي ونه لید فراغت
چي دا ستا د ورځو خال ئې سو قسمت
بار د میني ئې تړلی رگ په رگ دی
پرې اثر د زاهد نه کا نصیحت
یار جدا ، منزل جدا ، مېنه جدا سوه
څه به اوسم په صحراکی سلامت
دعشق بار به مجنون نه ؤ نصیب سوی
که لایق وائ نور اشخاص ددې حاجت
همیشه د خُمه می له ساقي غواړي
( تائي ) مه بولی د میني ملامت

سرانان شفاخانه ـ کوئیټه پاکستان ۱۹۸۵




زیبا خال ناست دی د شونډو پر کنار مست
تور افعي سره سیالي کا وار په وارمست
برائي چې می نوشي وه په محفل کي
صدف مست وه یاقوت مست وه سره انارمست
یو قدم ئې د مستۍ په عرق وا خیست
مست کاته وه مستي شونډي وې گفتار مست
د مطرب په نغمه مسته پیاله راغئ
ساقي مست ۀ مطرب مست نی و سیتار مست
هیڅ آگاه نه سو تائي له سر سوزۍ یه
لکه شمعه درسته شپه ۀ په انگار مست

د فولدابنار ـ جرمني

زړه زما چي ستا پــه غيږه کي آرام غوښت
د سرو شونــډو د شرابو ئې ډک جام غوښت
بـَلي شــمعي و پتــنـگ تـه پـه نــــاز ووې
ما دعشق په لمبو وريت هسي جانان غوښت
يار چي ول د تـورو زلـفو رخــسار پــټ کړ
پــه نـظر د شـوخ کتــلو مــي مــدام غــوښت
د ا د خـُم پـه دور چي ناســت د مېــخانې وم
د ســاقي لــه ډکــه جــامه څه مي کام غوښت
همېــشه چې د مــحراب خــــال دآبــرو وم
مــا ( تائي ) دا امامت په صبح وشـام غوښت

لورلائي ـ بلوچستان ۱۹۸۳ م



زهیر زړه که مي د میني په داغ پریوت
د فراق باد ته د وصل څراغ پریوت

بریالئ به مي قاصد په خوښۍ راسي
چي رقیب مي بېنوا لکه زاغ پریوت

یا ګرمي دسپین رخسار عرق پاشي کړي
یا هم څاڅکئ د انارو له باغ پریوت


دا چي سرولمبوتصویرپه شفق واخیست
د یاقوتو په ګرمي کي ئې داغ پریوت

هر یو کارته چي تائي اندام سستي کا
ستا د مړو کتو عادت پر دماغ پریوت

پراګ ښار ـ دچیک جمهوریت
جولای میاشت ۱۹۹۵

زړه مي هـلـه د نـرګس پـه جهان پـريوت
چي نـظرمي د دلبـر پــه چشـمان پـريوت
بـيلـتانـه يـې فـوج د صـبر تـار پــه تـارکړ
زړه دعشق پـه اسـتانه کي ناتوان پريوت
يـا رخسار بـاندي خولې سوې سحر ماتي
يا خـو څاڅکي پـه ګلـپاڼـو باران پريوت
د پتـنــګ وځـان سـوزيـه تـه چـي ګـوري
ځکه شـمعه پـه مجلس کي ګريان پريوت
هـردانـه ئـې ده ( تـائي ) لـه مسـتۍ ډکـه
د انګورو تاک نشـه چـي نـاتـوان پريوت

فرانکفورت ـ جرمنی اکتوبر ـ ۱۹۹۸



زلفو ول چي په گريوان ئې سحر پريوت
گويا ښاخ ؤ د سنبل په کوثر پريوت
بيا مي ياد د يار د لبو په زړه راغئ
د مستئ څه مي له لاسه ساغرپريوت
يائې خال دا ستا د زني په څنگ ونغښت
يا د چين د نقاشانو هنر پريوت
دسهار نسيمه وران ئې شوخي مه کړه
ول د زلفو اوس پر لب برابر پريوت
هميشه چي ئې د لبو مينوشي وه
ها !( تائي ) دي لکه تاک په ځيگرپريوت

لووف ښار ، پولند ۲۰۰۱ م

زه چي زبېښم نيمه شپه کي لبان پټ پټ
د خپل يارسره ترمه پېمان پټ پټ
بېګاه څمه د ساقي و ميخانې ته
تشومه د سرو ميو خُمان پټ پت
يوه ورځ به مي له حاله يار خبر سي
دا چي وړمه لوند پراوښکو ګريوان پټ پټ
دا د يار بې وفائي نده نو څه ده
چی مي وينی سرې اوښکي جهان پټ پت
همه واړه په ( تائي ) د ميني اور دی
زړه ، اينه ، لړمون چي سوځي هجران پت پټ

داوري کلېنک . کندهار   ۵ ـ نوامبر   ۲۰۱۴

زلفو راوړ تور لښکر پرسپین رخسارکج
په گردش د حُسن ول سو تار په تارکج
بېمارکړی یم لکۍ کجلي سترگو
چي پر لاره باندي وینم هر دیوار کج
یوه مسته تجلا لکه نگین کړي
خال چي بند سي په ځپه کي د ښامار کج
دا ئي بیا کاږه مژگان په کمان وینم
پر سینه سینه چي ولي مي گذارکج
هر نفس سو د حباب په شان خاموشه
چي ( تائي ) د ساحل ولیده مدار کج

هانو ښار ـ جرمنی
دسمبر ۱۹۹۳

زه په ژوند اره اره سوم لکه ږمونځ
پر ځيګر پاره پاره سوم لکه ږمونځ
بيله شمعي هيڅ يو شپه مي باري مکړه
بند د زلفو په ول زه سوم لکه ږمونځ
يار چي غيږه کي د زلفو په شان خپورسو
تور پيکۍ ئي صدقه سوم لکه ږمونځ
دا افعي تورښاماران چي را تاؤيږي
و هغوته سميده سوم لکه ږمونځ
هندو هم د ( تائي ) غم ته مسلمان سو
چي په سل ځايه اره سوم لکه ږمونځ

هانو ښار ـ جرمنی ۲۰۱۱ م

زه چي ښکل په مېخانه کړم دساغرمخ
د زُم زُم پرچينه کښېږدم برابرمخ
بريالئ سم دعشاقو په ټولۍ کي
چي د اوښکوله سيند باسم د گوهرمخ
يوساعت چي ئې کاکل ته نظر وکړم
حاجت نسته چي کتل کړم دعنبرمخ
داچي مينه مي د شمع پشاني سوځي
ليده نه سي په دې اور د خاکستر مخ
هره اوښکه دي تائي گريوان ته درومي
چا ښودلئ وسيلاب ته سمندرمخ

ستا ياد پېښور پاکستان ١٩٨٨

زلفو ول نسیم چپه کړ د جانان شوخ
چي پریشان ئې تارپه تارکړپه گریوان شوخ
بیلتانه مي کړروان سیلاب د اوښکو
لکه خال د زني پروت یم په زندان شوخ
یم خندانه لکه شمعه په لمبوکي
پټه خوله مجلس کي سوځمه د ځان شوخ
دا چي مار د تورو زلفو غېبر. کي نیسم
د سوزن پشان سوزان سم ترآسمان شوخ
هریو جام ته دي ساقي ( تائي )هوس کا
د روژې پشاني وچ دروږم لبان شوخ

........ هانو ـ جرمنی

زه چي وينم د يـارسترگي اومژگان شوخ
نورهيڅ نـسته هسي رنـگه په جهان شوخ
بـس حجاب د زلـفو لـيـري که له ستـرگو
چـي د بـڼ بلـبلي وويـنــي چـشـمان شـوخ
يـو زمـان مي عـقل و هوش آرامي نـه کا
داچي ويـني نازک څـاه د زنــخدان شوخ
داغ دهجردي حبش په زړه کي کښېناست
لکه ناست چي پرتخت ووينې شاهان شوخ
هــسی جام سـاقي چـښل ( تائي ) ته ورکه
چي ئې لاس دفلک ونيسي گـريـوان شوخ


استانبول ـ ترکيه ٢٠٢٠ م

زمانې چې کړ غنچې باندي ګريوان لځ
پـه ګريـان کي دشبـنم سـو دوچندان لځ
بلـبل سـازه چــي چــمن کي تــرانه کړه
دعـشق آه ئې لـه سينې څه کړداستان لځ
يـارهغـه چي دسـرو ميـو جـام لبـريز کا
سـاقي تــل پــه ميخـانه کانـدي بيـان لځ
د اوبــو پــشان بــه دروممـ وصحــراته
چي لـمن مي سـرسبزي اخلي بـيابان لځ
هرلحظه د( تائي ) پټه خوله ژوندون سو
د حــباب پــه شـان بـدن ئې کړآسمان لځ

کندهار ـ افغانستان

زر و لعل په خزانوکي د شاهانو بيله تا هيڅ
چي د يارله لوري راسي نورجامونه ؤ مينا هيڅ
بېله تا مي بل مراد نسته  ته محراب دعشق زما ئې
زما شفا ستا ميخانه كي نورنورخُم ته تمنا هيڅ
يو يو ځاځكئ څڅېده كا دآسمان گردش په څرخ كي
د زړگي چينه مي جوش ده موج ئې نه كا انتها هيڅ
داچي سري لمبې پرسروړم د محفل د خندا شورته
دآ مجلس روښان ساتمه تورتاريک دامن زما هيڅ
هره ورځ هزارغمونه دي زما سينه كي پټ سي
پيراهن به څيري نه كا د تائي په شان شيداهيڅ

درمستاد ښار ـ جرمني ، ٢٠٠۴



زمانې مي کړه لې خاوري پرسر باد
چي ئې وايستم سرې سترګي له هيواد
بهار ژوند مي ژيړه پاڼه خزان يووړه
د کاغذ پر مخ تصوير غوندي په باد
يوعجيب دګردون څرخ په دوران کښېوت
په ګردش د ستن ګړئ ګړئ فساد
د کوهکن پشان وهی ډبری سختی
چي تېشه ئې ده په لاس کي د فرهاد
هسي رنګه په فغان ( تائی ) له هجره
لکه نی د نبستان وي په فرياد

ستاياد کوئيټه مشن هسپتال ۱۹۸۵

زرکو بیاکړی توري خاوري پنجه باد
چي قفس کي ئې نصيب سو د صياد
بهبودي کله حاصيل کاندي سرې سترگي
چي ئې سيل دکوهستان سي ورته ياد
ياد ئې کله د دانې په زړگي راسي
چي اسير په پنجره سي د فولاد
دا قهقه خنداگۍ ورځني پاته
د صياد قفس کي کړي ککړی فرياد
هسي رنگه د ( تائي ) پشان پرديسه
تل ئې ياد د غرو شبلې دي د هيواد

د کسل ښار جرمنی جون ۱۹۹۵

زیــبـا یـار تـه مــي لـــیـــږلئ دی کاغذ
پـــه سـرو اوښـکو مـي لیکلئ دی کاغذ
باربارخط مي د قاصــد لاســته ورکړئ
یار چـــي سر پر سر خیـرلئ دی کاغذ
یـو جـواب ئـې لا د لـیـک راکـړی نـدی
که هـــرڅـو قـاصــد ور وړئ دی کاغذ
دا د یـار بـــې وفـــائـي نـــده نـو څـه ده
پـــه ســره اور ئـې سـوځـولئ دی کـــاغذ
هسي نه چی ( تائي ) ياردي خبر نه دی
رويبار لاس په لاس په ورکړئ دی کاغذ


د پاریس ښار ـ فرانسه
د می میاشت ـ ۲۰۰۱

زما د یار چي دي دا سره لبان لذیذ
نه لري هسي چمن گلان لذیذ
بلبل ځکه سره غنچه په صفت واکا
چي لري د میني ډک داستان لذیذ
یاد ئې هسي زما له سترگو باران توی کړ
مونده نه شي هسي رنگ باران لذیذ
د جرس آواز چې ورسي تر یاره
د وصال کاروان ئې کړي هجران لذیذ
هر ویشتلیَ چې د سترگو( تائي ) وینم
شهید سوئ په کمان د جان لذیذ

مشن هسپتال کوئټه ... ۱۹۷۹ م

زه چي و وینـــــم اغیـاره سـره یــارګډ
سـره لمبـه ســـمه لـه غـمه په چـغـارګډ
برایي چي مي د لـبر پـه خوب کی ولیـد
لکه زرکه پــه سرو سترګو په کوکار ګډ
یــاسنبل پـروت د ګلانـو پـه غـنـچه کي
یـا نسیـم پیـکئ تارتار کـړپـر رخسارګډ
دا ئې خط په سپین رخسارچاپیره راغئ
که مارجـه بـانـدي رامات سوله کفارګډ
هسي ومـره دا ( تائــي ) دعشق له رنځـه
چي ئـی نـوم سي د عـشاقو پــه بازار ګډ

فرانکفورت ـ جرمنی جولائ ۲۰۱۱
دهلمند د مارجې وجنګ ته اشاره ده .




زیبا یار چي په رنجوکړه چشمان تور
سترګو تور ولیدی ټوله جهان تور
بَلي شمعي چي محفل کي ئې رڼا کړې
پتنګان ئې یوپه بل و سول په اور
یوه تللې بلا نه وي نوري راسي
د جهان بلاوي تاؤ دي زما تر کور
د آسمان خړي اوریځ پشان دي توی سي
زاهدان که راکوي د عشق پیغور
همیشه ( تائي ) چي ګل مخي ته شین ؤ
ښه چي ښاخه سره و سو خار په اور

السینارو غتون کندهار ـ افغانستان می ۲۰۱۱
وسو - وسوځید


زنه ، خال و توري سترګي سپین رخسار
دي همه واړه عاشق ته دل آزار
بیا به ګډ کا شور د زړو په میخانه کي
چي نسکورکاندي نرګس جام د دیدار
یو یو تار چي ئی د زلفوتصویرکاږم
قلم بند پر بند تاو ویږي لکه مار
د حباب پشان پرسرد ګرداب ناست یم
په یاغي څپه د سیند و د ابشار
هسي خوښ دی خوله په خوله تائي ویارته
لکه مست د لبو خال وي په کنار

د پاریس ښار ـ فرانسه
د می میاشت ـ ۲۰۰۱



زما دیاردی سپین رخسار    بله شمعه د سهار
بله شمعه د سهار    یوه پانه د بهار
یوه پانه د بهار    ده غوټۍ د سره انار
ده غوټۍ د سره انار    هم د لبردی هم د لدار
هم د لبردی هم د لدار    د تائي حنا ئي یار

ده خواجه ، کندهار ـ افغانستان



زانګي زړه مي په هر ټال کي وار په وار
چي ګيسو ئې په رخسار سوه تار په تار
بيا پيداسي نوی شور په ميخانه کي
چي ويشي پيالې د ميو يار په يار
يائې غړوشکي زلفي پرې وتې پرليچو
ياپر ګنج باندي تاويږي مار پر مار
د ګريانو سترګو خاڅي سره اورونه
چي ئې ځي اوښکي ګريوان ته لار پر لار
هميشه لکه حُباب خانه بدوش دی
( تائې ) ستا له غمه ګرځي ښارپه ښار

هانو ښار ـ جرمنی
اپريل ۲۰۰۲

زلفو ول پرليچوپروت لكه بېمار مار
مست په غاړه ئې زنگيږي هرسهارهار
بهار وخت د گلو ښاخ په چمن راسي
شگفتن كي ئې غنچه كا افتخار خار
يودم زړه مي د آسمان په لمن اوركا
دا چي وينم په څنگ كي د اغيار يار
د رويبار په سترگو غواړه ديدنونه
پدې كلي كي لري هرحوالدار دار
هره پانه ئې پياله سوله ناصحه
د ( تائي ) پاڼي چي راوړ شكربار بار


ونيزيا يا د ( اوبو ښار) ايټاليا
جون ٢٠١٣

زړه بـه نه سـي هيڅ له ښکلو توبـه ګار
که هـر څـو سـي د ښـو پــه غـشو ښکار
بـرايـي مي دي پـه خوب ليـدلي شـونډي
نن مي سوځي زړه ، ينه ، لړمون په نار
يــوه ورځ بـه انـتـقــام لــه زاهــد اخـلـي
دا چـــي تـل کـړي د مينــــو زړو آزار
د شېخـۍ خرقـه پـوشـــي په مېـخانه کړي
د تـسبو لاړئـې ســـاقي لـه خـُـمه جـار
هر يو ول ته چې تائي په ځيرځيرګوري
آخــر تـاؤ بې سـي لـه غـاړي افـعي مار

ده خواجه ، کندهار

زه چي غـوارمــه د تـورو سـتـرګو تـور
خـــود به سـوځـمه د ميني پـه سـره اور
بيـلـتــانـه دي هسـي چـاري پـه ماکانـدي
عـنـدلـيب غونـدي فريـاد کړم شر و شـور
يـو ئـې زمـا د ميـني تـنـــده اوبــه نـه کا
ښـايـســــته که د يـــورپ دي يـا لاهـور
دا زمـــا د زړګـي ويـــنـي نـدي څـه دي
ســـرې منـــګولي دي جلوه کا لـورپه لور
هـرهـرچـاتـه چـي مي ســتـا وفـا ستا يلې
اوس ( تـائـي ) وړي دهـغو خلـګو پيـغور

دهانوښار ـ جرمنی
جنوری ۲۰۰۵



ستا څه غواړم چي کاته کړې زما پرلور
زما سینه چي را کباب کړې هسي اور
ستا ولور ته که مي اوښکوسیلاب راوړ
بیا به راوړي دا دریاب د مستۍ شور
ستا چي زلفو له رخساره کمر پټ کړ
یوپه بله نقاب ولویدئ نسکور
ستا رخسار د توروزلفو تر ول لاندي
د سکندر په آئینه گوره سپین، تور
ستا د میو په ساغر ( تائي ) مدهوشه
همیشه د خُم تر څنگ ئې جوړ دی کور

یارانه شفاخانه ـ کندهار
اپریل ۲۰۱۸ م

زه پتنگ پشان له شمع سره همراز
زړه . ينه . لړمون . سينه کا دا آواز
بېله سروشونډو له ياره شراب نسته
که هزار خمونه تش کړم راز په راز
يارته مخامخ خپل حال ويلای نه سم
د محمود پشان مئين سوم په اياز
دائی خط نشونما په سپين رخسارکا
که آسمان باندی د لمر ترنده آغاز
هميشه چی د دلبرخط و خال ستائی
د ( تائي ) هره غزل سوه پرده ساز

هانو ـ جرمنی
اگست ۲۰۰۳

زیبا سترگي وې نشه په خواب هنوز
ما چي غوښته ترې پیاله شراب هنوز
بیا ئې سرپه سنگ آبشار وهلئ بویه
گرمي اوښکي دي سینه تالاب هنوز
یاد ئې همره زماله سترگواوښکي توی کړې
چي مي دروميي له بستره آب هنوز
د لته وینمه پتنگ په سوځیدو کي
ځي لمبې ته په بدن کباب هنوز
همیشه به ( تائي ) هجرکي کړیږ ې
دا چي لولې پټ د عشق کتاب هنوز

کندهار ـ افغانستان
د مارچ - ۲۰۱۴

زمـا اوښـکوچـي ګـریـوان پـاره پـاره کړ
غوټۍ څیري کړ کمیس ګل ئې ښکاره کړ
بنـفــشـــه ده لالـه زار کـي غـوړیــدلــې
کــه مي ګډ تـُـخم سیـنه کي زړه پـاره کړ
یـار چـي راکړ راتـه جــام د سـرولـبانــو
ډک سـاغــر مـي بـیـا د خـُم پـه کناره کړ
دا مـي اوښـکو کـورد صـبر راڅـه یـووړ
که سـیـلاب ئې د جــهان پـه نـنداره کـړ
هــله ول ( تـائي ) د زلـفـولاس کي نیسه
کــه دي ځـان لــکه شـــانـه اره اره کړ

هانو - جرمنی نومبر - ۱۹۹۹

زخم مي د زړه د ميني تاب راڅخه يووړ
سرپروت په زنګون دسترګوخواب راڅخه يووړ

بخت مي افسانه سو باندي نقش د ګلرخو
عقل ئې د سَره په شتاب راڅخه يووړ

ياد چي ئې ساقي سو د سينې په مېخانه کي
جام ئې د لبانو زړه کباب راڅخه يووړ

دا چي د دلبرو سترګي واړه شوې قصابي
زړه ئې له لړمونه دې قصاب راڅخه يووړ

هرکله تائي چي له خپل ياره خوله طلب کړه
ګل ئې د نرګس د کتو تاب راڅخه يووړ

منزلباغ جاده ـ کندهار ـ افغانستان
دسمبر ۲۰۱۲

زړه ئــې سوئ له ځيګر پـه ارمـان يو وړ
چي پـه شوخ کتو ئې ستـرګو ميدان يو وړ
بــيـا مي مـه بـولـۍ پټــنــګ د بلـي شمـعي
روغ رمـتـې که مـی لـه ښـکلو ايمان يو وړ
يوکـو هستان ئې د قامت پــه سيالي وينم
خيـال د شـونـډوئي شفـق تـرآسمان يو وړ
د وصـال پــــه طمـع طمـع عمر تيـرسـو
کــو د صبـر مي د زلـفو تــو پـان يــو وړ
هلتــه يار د ( تـائی ) زړه له سينــې وکيښ
چي لړمون ئې مشکين خال د جانان يو وړ

دکاروان کوڅه / کنـــدهــار

زلفي توري دي پر مخ وينم خم خم اوس
اوښکي درومي تر ګريوان لمن په نم اوس
بار و بر مي د ژوندون بيګانه ملک کړ
مسافر شوم مرغلره په عالم اوس
يو يو رګ ويني له اوښکو سره ولاړي
پاته نه دی په رګونو کي مي دم اوس
د بدن په دم کی ټوله زه صنم يم
څه به وايم چي تا ئی يم که صنم اوس
هجران اور ئې ( تائی ) ټوله دارو سوځي
که طبيب مي په پرهار ايږدي مرهم اوس

د کاروان کوڅه - کندهار افغانستان
اکتوبر ۲۰۱۲

زه به ښنګه کړم ستا سترګي فراموش
لکه ګل چي د نرګس سي سیاه پوش
بل ځاي نسته بې صدفو له بازاره
ډک خُمونه په دوکان د می فروش
یوځل بیا دي خُم د مَیو په جوش راغئ
ساقي ستا اواز چي اورم نوش بنوش
دا ئې ولیدې زما د زړه تنهاکي
تاک چي ځوړند کړانګورپه سرخاموش
هیڅ خبر ئې په بازار د یاقوت نه سم
زه ( تائي ) چي سم د لبو پیاله نوش


هانو ـ جرمنی جون ـ ۲۰۰۴

زیبا خال چي پـه جبـین مي جانـان وکیښ
هغـه دم می طبیب لاس لـه درمان وکیښ
بل یـی غـشی دمـــژګان پـــه کمان راوړه
یـو پـه یـوئـی د زړه سـرپـه نښـان وکیښ
یـــاغي زړونـو لـره جـوړي زولنې سوې
ول دزلفو چي ئې درست له ګریوان وکیښ
درســته شپه چي پـه ژړا شــبـنم سبا کړه
سحـــرګاه پـــه ګل بـوسـه ئې ارمان وکیښ
هارته جوړي کړې ( تائي ) ستا مرغلري
په ځیګرچي ئی سرو اوښکو توپان وکیښ

ستا یاد مشن هسپتال کویټه ـ پاکستان
دسمبر ۱۹۸۵

زړه زمـا چي ســتا له زلـفو شـانې وکيښ
هــغــه دم مـــي انــتــقـــام لـــه پيـالې وکيښ
بـــهار راغئ د ســـروگلـــوپـــه چمن کي
پــر ځـيگرئې اوس ارمـان دُر دانې وکيښ
يـارچي مست سو د مـطرب د تـار آوازتـه
شـمعـي سـم ورسـره اور له سيـنې وکيـښ
د ســحر نسيم چي ول د زلــفو خـپـورکړ
بـــلبــلانو تـې ځـيگر لـــه غـنچـــې وکيښ
هغه تورخال دی (تائي) له سپـين رخساره
که تـازه سنـبـل زمـزم لـه چيـنې وکيښ

هانوبنار ـ جرمني ۱۹۹۵ م



زني خط چي په رخسارئې مضمون وکيښ
د کتاب په حاشيه ئې سمون وکيښ
بانه غشي دي د ورَځو له کمانه
زړه زما ئې په سينه کي پُرخون وکيښ
يوګړئ که ئې له حاله خبرنه سم
بې تابۍ مي له تلواره سکون وکيښ
د حُباب په ځبر کميس په بدن وچ کړم
ساړه آه که مي له لاسه ژوندون وکيښ
هر يو سوزچي د ( تائي ) له سينې ووت
د مينا غوندي ئې آه جګرخون وکيښ


مشن هسپتال ـ کوئيټه پاکستان

زيبا زيبا کوي رقص ، نن چي ليلا کوي رقص
په سره سالوکي ناڅي ، منګول حناکوي رقص
بلي لمبې ته د شمع ، پتنګ پشان تاويږی
په سروګلونو دبڼ ، لکه بورا کوي رقص
يو دم پريشانه زلفي ، پر سپينه غاړه راسي
پرملا تاؤيږی نجلۍ ، ډيربی پرواکوي رقص
دسپين ځيګرپه ميدان ، مست دسينی موجونه
لکه کښتۍ د اوبو ، په لوی درياکوي رقص
هزارخرخونه وهي ، په کمرچين کي نجلۍ
د( تائي) مخ ته کښېنی ، په نري ملا کوي رقص

د ماين راده غاړه ـ هانو ـ جرمنی
جولائ ۱۹۹۹

زلفو ول پـه غير کي ونـيو د رخسار خط
چي ښکاره سو پـرسپين مخ د ګلعذار خط
بــزم و رزم د محــفل مـطرب ربــاب هم
زيب زينت کا مشکين خال سـره ديار خط
يـا وريـځ ده د بــهار بـــاران تـيزي کړي
يا مي ستر ګي دي چي ويني د دلـدار خط
دائـې ول تــرســيــاهــي جلـوه نـمـاسـي
خورې زلفي چي پـه ښکار کا ګرفتار خط
همـيشه ( تائي ) لــه خم پـيـا له نـوشـي کا
ځـکه نـاست پـه ميـخانـه وي د خُمار خط

کابل ـ افغانستان مئ ۲۰۱۳



زړه لاله غونــدي فـراق کـړ هسي داغ
چي هيـخ نـه مـومي لـه غـمه څـه فـراغ
بـوی د زلفـو ئې نسيم پـه ځـپـوراوست
کــه د مشـکو اثـر پـريـوت پــر دمــاغ
يو يو رګ مي ستا د ميني په اورسوځي
لـــکه ســـوځـي پـوليتـــې چـي د څـــراغ
د جامـونـو شرنګاشرنګ له ميخانې څه
د بلـبـــلو اواز هـــم راځـــي لــه بــاغ
هـــله راســه و پـرسان تـه ئـی دلـــبـــره
چي ( تائي ) پـه زړه سينه لري داغ داغ


هانو - شفاخانه جرمنی
نوامبر ۲۰۰۲

زما د زړه وينو رنگين كړد آسمان تېغ
په سرو گلو ئې سهاركړ گلستان تېغ
بله شمعه چي ساتي مجلس په وينو
څخوي گلگوني اوښكې د زمان تېغ
ياسمين غوندي ښايست د رخسار هم دي
چي رسا رسا ويشته كا كج مژ گان تېغ
د آفتاب په شان چي گرم سي راپورته
شين به سوركي د شفق ارت ميدان تېغ
هسي شوخ چي په هندي ادا كي راغلې
زه( تائي ) دي لكه زلفي كړم پريشان تېغ

هانو ښار ـ جرمنی ۱۹۹۹

زه کـه نـه وای ښـکلول بــه دي لـبـان څوک
مشکين خال ؤ سپين رخسارو زنخدان څوک
بـيـا پـه ښکار وتـلـئ يـار بـه زړونه راوړي
دا چـي ولــري لـه ځـان تـيـرؤکـمـان څــوک
يـار چــې نـه وي د بـهار مــنـظر بـه څه وي
که د سـرو ګلو پـه بڼ کي وي مهمان څوک
داغ د زړه مي نـن د اوښـکو پـه موج مينځـم
د راتــلـو خـبـر کـه راوړي د جــانــان څـوک
هــغـه څـاه د زنـخـدان ( تـائي ) اسـيـر کړ
د يـوسف پـشان چي پـريوزي د زمان څوک

د فرانکفورت ښار ـ جرمنی ۲۰۱۱



زلفي واړه دي شانه کا پـه گريوان څوک
اوربـه څـرنگه قبول کا د هـجران څوک
بـــا ده نه سوله لبـــريزه زما لـه ويـــنو
د ساقي به څه رنگ ونيسي تاوان څوک
يــو تـصويـر ئې اې زاهـــده راتـه ښـيه
چي پـشان مي د دلبـرلري چشمان څوک
دا چي زړه د گرمی ميـني سيلاب يوسي
دفلک په نيرنگ چيري سته خندان څوک
هيــڅ به نــه سي د ( تائي ) په فـانوس بلـه
د خوښــئ شمعه چــې ويـنـي پتنگان څوک

ستا ياد  هامبورگ ښار ـ جرمنی ۲۰۰۰ م

اوربـه ځـرنګـه قبـول کا د هـجران څوک
زلـفي تاؤ به دي شانه کا پـه ګريوان څوک
چي ئې زما دزړه له غمه نبض ښکاره سي
بيا به نازد توروسـترګو وړي ترکان څوک
که يــوځــل د مېخــانې پــر کــوڅــه راسي
يــوبه نــسي د پيــالې جــوهرپــنهان څوک
يــو تـصوير ئې اې زاهـــده راتــه ښـــيه
د دلبر په څېرمي مست لري چشمان څوک
تــور پيــکئ که د ســحر نسيم پـريـشان کړ
هيڅ به نــسي د تائي پــه شان پريشان څوک

هيسن ښار ــ جرمنی اکست ۲۰۲۰ م

زړه ئې و پيیه دلبر په تار دعشق
راوړ راوړ دا خبر رويبار د عشق
بلي بلي لمبې پورته د محراب سي
واعظان چي کا خطبه اظهارد عشق
يو يو تار که يې زما تر لاسه راسی
ما منلی دی د زلفو دار دعشق
د لاله په زړه ئې هم داغ لګولۍ
سره لمبه کاندي پتنګ بيمار دعشق
هر ديار قدم ( تائی ) په ليمو ايښی
چی يې وتړی پرسر دستار دعشق

هانو ـ شفاخانه جرمنی
دسمبر ۱۹۹۹

زه چــي و وینم شفـــق سـهـار دعشق
شـي پـه زړه مي ستا دشونډو بار دعشق
بیـابـه وسـپــړي تـازه غنـچه ګلشـن کي
مست بلبـل چـي کا چـغارچــغـار دعشق
یاد دي اوښکو لوند ګریوان په څپوراوړ
پــه ژړا ژړا چـي کـړم اظـهار دعــشق
د سروشونډ نقش دي هسي په ځیګرووړم
لـکه وي پـــه زړګي سـور انـار دعــشق
همیشه بـــــه دي په یـار یـار یــادومــه
( تـائي ) وتـړئ پـر سـر دسـتار دعــشق

هانو ـ شفاخانه      جرمنی
دسمبر    ۱۹۹۹

زمـا له سترگو سره يـار د ســترگو جـنـگ
غــشــي وارکا لـه کـمـانـــه بــانـه چــنـگ
بيـا بيـا زړه راشــکسـتـه لـــکه ښيـښه کا
چي پـه قـهر ئـې د عــشـق ولي په سـنـگ
يـــو نشـه ئې د ســروشـــونډولـه شــرابه
بـل نــشـه د سپـين رخـسار ئـې لـکه بنگ
دائـې داغ دی د غـاټـولـو پـه زړه ايښـئ
که زمـا يـنه ، لـړمـون ويـني دا رنـگ
هم ئې رنـځ هـم ئـې دوا هم ئې طبـيب يــو
دا تائي ويار دوې سترگي ځنگ پرځنگ

لوؤف ښار پولـنډ
سپټمبر ۲۰۰۷

زما د یار په غاړه وه لونګ لونګ
چې پر کټ مي وه پراته لونګ لونګ
بیګاه ناسته وه په ناز پالنګ د پاسه
پر ځیګر ئې زنګېده لونګ لونګ
یو د لبرؤ بل ئې حُسن د زړه کورکي
ور سره وه میلمانه لونګ لونګ
د لبانو په سیالي ئې لونګین کي
څنګ پرڅنګ وه خوله پرخوله لونګ لونګ
هغه زړه چي د ( تائي ) له غمه پوخ دی
هسي رنګه دي پاخه لونګ لونګ


دکاروان کوڅه ـ کندهار ۱۳۹۲
دثورمیاشت

زړه مي هله ؤ مئېن په خط وخال
زه چي ختمه وم په ځرخ کي د کولال
بوی د زلفو ئې څپو په مستئ راوست
په رخسار چي ټال واهه زلفو شمال
یارله حُسنه په کمان ورځي نری کړې
په تصویر ئې آسمان واخیستی هلال
د پتنگ پشانی ټول لمبه لمبه سم
له هجرانه زیات سوزان دی ستا وصال
ها افعي دی چي ( تائي ) په سپینو اَوږی
که سنبل پر لیچو پریوتی بی حال

کندهار ـ افغانستان مارچ ـ ۲۰۱۰

زمانې په مينه کښيښود د رخسارخال
په سايه د خط ئې ونغښت د دلدار خال
بارتړلی د سفر جرس ته غوږ يم
لا هم خوښ يم په ديدن د ستمگارخال
يوه لويه غلغله په چمن اورم
ټول بلبلي په ژړاکړې په زار زارخال
داچي غلی ناست د لبو په کنار دی
پيمانې د ميو اخلي دا بيمار خال
هرگز مه وايه ( تائي ) له توره بخته
تورو زلفو غيږ کي ونيود نگارخال

هانو ښار ـ جرمنی اگست



زړه کباب لرم د میني په اور تل
شیخه ستا لاره خلوت سوه زما بل
بیگاه نیسم نازک تن یار تصورکي
سبا اچوم د گل د پاسه گل
یا کوثرپه چینه ښاخ د سنبل پریوت
یا جبین باندي تار تار راغئ کاګُل
د رخساردگرمۍ تاؤ ئې بدن واخیست
ځان مي جارسه ستا د زلفو تر هر ول
هریو ښکلی ئې منگول په سینه ښخ کا
توراوربل کا په ( تائي ) باندي اوربل

کابل ـ افغانستان
جون ۱۹۷۸

زړه چې په منګول کښې غزالې راسره وژړل
دومره بې وسي وه زمانې راسره وژړل
بلي سرې لمبې چې په سینه لکه د شمعي سوې
خواته له محفله پروانې راسره وژړل
ياد چې ئې سحر کړه د پيکي نخا جبين باندي
داغ ئې لاله واخيست او شانې راسره وژړل
دا د هجر آه چي له ځيګره و آسمان ته تلئ
څاڅکو څاڅکو اوښکو او خوَلې راسره وژړل
هلته چي تائي ؤ دساقي د خُم وڅنګ ته ناست
مسته له شرابو څه پيالې راسره وژړل

کندهار ښار نهمه ناحیه ۱۳۹۴ هـ ش

زماپـه زړه کي چي دميـني لمبـه تـا را پُـو کل
مـاهـم صـنمـه ښـايـــسـتـه غـزلـه تـاتـــه ليـکل
بيـا مي دشونډوخيال دزړه په وينوسـتا رنگاوه
تـا چي رنگين رنگين يادونه په کوگل را پيـيل
يـارچي زما دلبـونی ميـني داستـان ته غـوږ ؤ
سـتـرگي زمــا ئـي پـاکـولي هـغه خپله ژړل
داغ د سيـنې مي د لالـه پـــه شـاني چـا وليـدی
تـا چي په ول د تـورو زلـفو کي يـادونه نغښتل
همـيش تائي غـواړي داستا لبـريزجامونه دلــبر
کلــه نــژدې رسـي تـريـاره آواز زمــا دغــزل

ډهانو ښار ـ جرمني ۱۹۹۹

زړه دي په منگول کښئ خو حِنا راسره وژړل
تا را سره نه ژړل دونیا را سره وژړل
بنگي وې شراب وه اونڅاکي دبنگړو شرنگئ
شمعي اور اخیستئ ؤ بورا راسره وژړل
یاد د بېوفا مي په فغان غنچه دلگیره کړه
څاڅکي د شبنم سوې چي سبا راسره وژړل
دا مي و مُلا ته نن د صبر شکرانه راوړل
حال چې له ما و پوښته مُلا راسره وژړل
هلته مېخانه کي چي تائې ؤ د ساقي ترڅنگ
ټوله رندان مست سوه چي مینا راسره وژړل


هانو ـ جرمنی

زلفي ولونـه په رخسارباندي چين چين سول
د دلـــبر د مخ خالـونـــه چـي مشـكين سول
بيـــله يـاره چـي بـل لـورتـه ستـانه نـه وه
هغه تـورنينـک په اوښـکو واړه سپين سول
يـالالـه غـونــدي تـورداغ پر سيـنه راغـله
يــا د شمع پـښان پــه سـره اور آتشين سول
دا ســـرخـي د سـرولـبـانـو چـي ئـې ويـنـې
دا زما د زړه پـه ويـنـو ټـول گلـگين سول
هغه وخت ( تـائـي) د يار پـه تيغ حلال سو
تـورپيـكي چـي د خـوبـانـو پـرجبـين سول

كابل ـ افغانستان جون ١٩٧٨

زړه له غمه مې چشمان په اوښکو سپین شول
د هــجران د اور پــه تـوبش بیـا گلـگـین شول
بــلي شمــعي دمـحـفل تــه چې نځـــاکــړه
حال ئـې بـل سو پتـنگان په اور رنگین شول
د ســـاقي د میخانې د خُــم پــه خـــــواکي
صـدفـي جام کي شـراب واړه شــیرین شول
یــومـي خـــال داستـا د ورځـــو نـظر ونــیو
بــل ئې ولـــونـه د زلـفېنو همنشـین شول
هغه وخت دي ( تائي) عکس په شفق ونغِښت
چي سینه ، لړمون د ي عشق کي آتشین شول

پارک هوټل ـ د لاهوربنار پاکستان
اپریل ۱۹۸۵



زړه مي غواړي د سرو د لبو ښکلول
چې ئې و وينم جبين باندی کاکل
بند په بند باندي چې مار هسي تاوېږي
دا ئې تاؤ د زلفو وليد ول په ول
يو يو زړه ئې دعشاقو لمن ډکه
وائی وړم د ناز له باغه تازه گل
دا جامه زما د تن سوه اور د ميني
مه چليږه د هجران باده پر بل
هسي سور لکه حنا ( تائي ) په وينو
ځکه ښخ ئې کړي خوبان په زړه منګل

امين هوټل / پېښور جون ۱۹۸۴

زه به جانان ته سپینه خوله سره اننګي وساتم
زلفي اوږدي نازک لبان به اناري وساتم
بخته یاري وکه دلبر و میلمستیا ته راشي
انار انار به ئې راتګ ته کندهاري وساتم
یوځل په مړوکتو مي سترګو ته په سترګوګوري
بیا را ته وائي چي نظر ته سپلني وساتم
د نیمو شپو په مستۍ مست د پایزیبونو شرنګی
په مینه مینه به ټوټه د مات بنګړي وساتم
هر روژمات راځه د سرولبو جامونه غواړي
دې لیوني ( تائي ) ته څه په پېشلمي وساتم

کندهار ـ افغامستان

زلفي توري چي په سپين مخ سي خم خم
پرسينه باندي راتولي سي جم جم
بلي بلي ئى لمبې کا خيال د ترکو
که ډير ډير ئى يادومه يا کم کم
يو ئې غشي د مژګانو بل کاته شوخ
لکه بني جنګ ويشتل کاندي سم سم
دا ګريوان مي ترلمني پوري لوند کا
شپه ؤ ورځ چي له چشمانوځي نم نم
هيڅ مي زخم د سينې پرې نه رغيږي
زه ( تائي ) که يې دوا کړم که دم دم

نوی دهلي ـ هندوستان     فبروري ۲۰۱۲

زه د هجر په اورو کي سوځم سوځم
د پتنګ پشان لمبوکي سوځم سوځم
بل ډک جام د میخانی وکنج ته راوړه
درست د خُم په کنارو کي سوځم سوځم
یو د میني راز مي ووایه په شپه کي
سومه شمعه نیمو شپو کي سوځم سوځم
د چمن له زیبا غیږ ي چي بهر سوم
د لاله غوندي دښتو کي سوځم سوځم
هیڅ دي نه کا نصیحت زاهدان ماته
زه ( تا ئي ) د عشق لمبوکي سوځم سوځم

منزلباغ جاده ـ کندهار
اپریل ـ ۲۰۱۱

زه په در د میخانه کي د ډک جام نشې ته ژاړم
په طواف د کعبې ګرځم و همدې کعبې ته ژاړم
بَلَوي مي يارد ميني په سينه کي سره اورونه
سرې لمبې چې کوګل سوځي و هغې لمبې ته ژاړم
يو لحظه حباب ژوندون مي د دريا په موج کي ناځي
په ساحل د سمندرکي وځپې ځپې ته ژاړم
د زړه ويني چي بهيږي وګريوان ته مي له سترګو
په مستي راځي لمن ته زې قطرې قطرې ته ژاړم
هغه زړه چي له سينې مي تائي ښارکي راځه ورک سو
اوس کوځه په کوځه ګرځم ددې ښارکوځې ته ژاړم

هانو ـ جرمنی

زیبا تـــازه ګلـونـــه ســـره وسپـــین درتـه راوړم
پخـــپله پـــه خپل لاس ئې آتـــشین درتـه راوړم
بنګړي مي په لاسونوکي دمستي ځوانۍ شورکړي
پـــټ پـــت بې پـه بوسه کي د آستین درتـه راوړم
یـو څـاڅـکۍ د سـاقي له ډکه خـُمه لا مستي کړي
د سـرو نــازکو شونـډو جام شـیرین درتـه راوړم
د ګلـو پـه ګېډۍ کي مي دي پـاس سنُـبل ټومـبلي
پېـکۍ مي الــول پـرسپیــن جـبین درتـه راوړم
هــرڅـاه د زنـخدان تې د حـافـظ فـالـونـه نیسـه
( تائي ) بـله د یـــوه ئې پـر بالــین درتـه راوړم


هانو ـ جرمنی　　　سپتمبر ۲۰۱۶

زه د نـقلو سـره جـــام د شراب غواړم
ول د زلفو پـرسيـنه پيـچ و تاب غواړم
بخـتور سم ستـا د ستــرګو اشــــارت ته
هــر کاته تـه دي د ميني کتــاب غواړم
يوه شپه که راته جوړمېخور مجلس سي
دې محفل کي زړه په ميوخراب غواړم
د بـهار غــنچه چـمن کي چي سپـړيـږي
و بلـبل تـه ئې غــوټۍ د ګلاب غــــواړم
هر څه زړه که تائي ډير درته ښکاره کا
بيــا ئې هم پــه قـنـاره د قـصاب غوارم

قناره : دقصابۍ په دوکان کي هغه غټ چنګک لرونکی لرګۍ دئ چي مکمل دلبند د خرڅلاؤ لپاره په ځړول سوي وي .

زخمي زړه څه مي څخيږي په هردم دم
په پرهار مي نمکين ايږدي مرهم هم
بيکسی می د پرديو په ولات ده
سپينه ورځ د ژوندانه مي ده تورتم تم
يا رخسارڅاڅکي خولې د خط نقطې سوې
يا پر پاڼه د گلاب پروت د شبنم نم
دا چي کج باڼه ئې غشی رسا ولي
هرگز نسي د خو بانو دا ستم تم
هيڅ محتاج ( تائي ) فلک د بازار ندی
که دنيا ټوله فروخته سی يو درهم هم

د ويسباډن ښار - جرمنی
می - ۱۹۹۳



زه چي تل وخپل آشنا ته ژاړم ژاړم
سپينه خوله ؤ سره لبان ورڅخه غواړم
بيگانه عالم که وائي توري بدي
ټوله ژوند کي به د يار په مينه وياړم
يارته ما تازه زړگئ ورکړی
اوس ئې مړاوی د بيلتون په ټغرنغاړم
د فلک د سود و زيانه خبر نه وم
داغ د هجر مي په زړه واخيستی ولاړم
همه واړه مي د يار د ميني اور دی
زه تائي چي په سروسرواوښکوکي ژاړم

د چمن ښار ـ پاکستان
مارچ ۱۹۸۳

زه چي تاته ځير کاته کړم
غواړم شونډي دي په خوله کړم
بوسه ګل ده د ګلابو
چي بلبل پرې الوته کړم
يا که سي په ګرد آلوده
تل بې پاکه په ليمه کړم
دغه ستا د بڼو غشي
په سينه کی پټ ساته کړم
هسي ځير ( تائي ) ته ګوره
چي دي سترګو کي ميلمه کړم

کوټه سنگی - کابل    اگست    ۱۹۸۰

زه و چـــاؤ تــه اخـتــــر مبــارک بـــاد کړم
چیري ولا شم بیا په څه شي زړگی ښاد کړم
بیـــګانـه عـالـم کــي پــروت یـمــه یـوازي
تـــل په دوست او پـه آشنـا پسي فریاد کړم
یـــار مـــي کلـــه لـه احـوالـه خبـــر اخـــلي
که شیـرین شیـرین داستان ورتـه فرهاد کړم
د لاله پـــه شـان آتــش پــر سیـــنه داغ سم
پـه نـکریـزو سـره لاسـونـه چي راياد کړم
هسـي چـاري بد نصیـب په ( تـائی ) وکړې
سـرګردانـه مـلک پـه مـلک ئې لکه باد کړم

هانو ـ جرمنی     دلوی اختر دوهمه ورځ
۲۰۱۱


زه چي ستا پـرېشـاني زلفي تـار په تارکړم
لکه مـار غونـدي به پېـچ وخـم رفتـار کړم
بـادام نه يـم چي د سـترګو خيال دي واخـلم
د نــرګس پــه څــيـر کـتـلو دي بېـمار کړم
يـار چي لاس د ميـني و نيـوئ په لاس کـي
ټيـنګ پـه غـېږ کي ئې انـار د کندهارکړم
دا خــو سـتا د آتـشــي شــونډو ګــرمي ده
چي سيـنه کي دسـره اور سره روزګارکړم
هومره زړونــه ئــې ( تـائي ) يـو بـل پېـيلي
دا بــه زه پــه قنــاره څــومـره شــمار کړم

قناره : دقصابئ په دوکان کي په يوه لرګي څواوسپنيز چنګکان ځړيږي چي پر هغه باندي دقصابئ دلبندان اوزړونه دخرڅلاؤ دپاره ځړوي .

د ډوبی امارات جنوري ۲۰۱۷

زه چي اور د هجر ټوله سیاه پوش کړم
د بلبل غونډي د ګل څانګه آغوش کړم
بهار ستا د رخسار ووینم په سترګو
هیڅ آواز د بزم نه اورم که ګوش کړم
یوه مسته د ځوانۍ څپه ساقي ده
په لبریزه پیمانه به دي نور هوش کړم
دا چي تل دغم په خُم کي سره اوړم
تشنګي مي په دوکان د میفروش کړم
هر نفس مي د حباب څپه نوشي سي
زه تائي چي د ساحل موجونه هوش کړم

داديسه ښار ـ د اوکراین جمهوریت



زه چي تل د بڼو غشو ته ځيګرووړم
دا ئې ستر ګو ته په سترګو کي نظرووړم
بيا ئې خال د زني خط په لمن نغښتى
چي بغل کي ئې د خال وخط دفتر وړم
ياره ستا د سپين رخسارو په تجل کي
ځکه شپه ؤ ورځ احسان د شمس قمرووړم
د يوې لحظې وصال په طمع طمع
سرپه لاس تحفه دربا ر ته د دلبر وړم
هلته تورحبش په تخت دشاهي ناست دى؟
که د هجرداغ ( تائي ) د زړه پرسر وړم

على آبادشفاخانه ـ کابل ۱۳۶۰

زه ګيله څه له اغزي کړم
زه خو ګل په زړه زخمي کړم
بخت مي تور د سترگوتور کړ
زه ئې غم د تنهايي کړم
يو ډک جام د ميو راکه
چي ئې زړه ته دوائي کړم
دا ينه ، کوګل ، لړمون به
ستا رخسار ته سپلني کړم
هره ورځ چي لاس په لاس ؤ
څنګه هير دي زه ( تائي ) کړم

منزل باغ جاده ـ کندهار اپريل ۲۰۱۱


زلفــوخـورو دخــپل آشــنا وخـوړم
دشـوخـوسترګو شـوخ نــګاه وخوړم
بلـبل که کانــدي پـه سـروګلـو چـغار
زه خو پـتـنګ د شـمع رڼـا وخــوړم
یـــامي د عــمـر تـانــستـه شـلیدلې
یـائـې د دوو سـتـرګـو غــزا وخـوړم
د آشـــنا خیـال لـه مـانـه عـقـل وړی
که د احـتـیـاج تــوري بــلا وخـــوړم
همره دي ویـني اوس لـه سترګوڅاڅي
( تائي ) سیلاب د اوښکوستا وخوړم

ستا یاد مشن هسپتال کوئیټه ـ پاکستان
فبرور ۱۹۸۵

by - Dr. Taie


زه به تور سپلنئ جوړسم  چي نظرته دي دودیږم
ته غوټۍ د سحرگاه سه زه شبنم به پرې اوریږم
بیا مي مخته راسه کښېنه د آئینې په شان مي گوره
زه به نقش ستا تصویرکړم درخسار خال ته ځلیږم
یوه مسته خوله خنداکړه  زنخدان ته مستي راوړه
زه یوسف غوندي وڅاه ته په صحرا کي دررسیږم
د زړه حال مي لکه شمعه د سره اور په څپه نعښتئ
ته محفل ته گرمي راوړه زه به درسته شپه سوځیږم
هیڅ مرهم منلای نسي د ( تائي ) د زړه زخمونه
ستا په تش کتو شفاسي  په هم دې مرهم رغیږم

کوئټه ـ پاکستان
فبروری میاشت ـ ۱۹۸۵



زیبا سترگي که پورته چي سترگوکي دي خپل سم
د میني لاس دي راکه میلمه د ي د اوربل سم
بهار په مسته غیږ کي نسیم په نښا راسي
تازه بڼ د سهار وي ته گل سې زه بلبل سم
یو خیال چي دپیکي دي سینې په کورکی اخلم
د سپین جبین د پاسه چپه گل د کاکل سم
د تورو زلفوول دي تاؤ اخلي له رخساره
په تن د گلاب گل کي لکه پانه د سنبل سم
هوسا غیږه که خلاصه ( تائي ) په کي کښېکاږه
چي دواړه گلدسته سو زه گل غیږه کي گل سم

د ادېسه ښار ـ اوکراین



زړه مي پرارام سي چي نګار په غېږکي ونيسم
خوب وينم عالمه قندهار په غېږکي ونيسم
بلي کړمه شمعي د زيارت په خلوتونوکي
کښينم ورته غلئ خپل دستار په غېږکي ونيسم
يوځلي تکيه وکړم وتاک ته د انګورو زه
راسمه و ښارته مست انار په غېږکي ونيسم
دلته چي ماڼۍ د ميني جوړي د نسلونو وې
هر قند ئې شيرين سي چي ئې هارپه غېږکي ونيسم
سرې اوګرمي اوښکي د ( تائي ) تر ګريوانه ځاځي
چغي د آرمان سي چي هرخوار په غېږکي ونيسم


د ګيزن ښار ـ جرمنی ۲۰۲۱ م

خوب وینم عالمه کندهار په غېږکي ونیسم
زړه مي را آرام سي چي مي یارپه غیږ کي ونیسم
د سترګوپه کتو کي مې جهان د سترګو ولیدی
بخته ښنګ ته راسه چي نګارپه غیږکي ونیسم
مسته کندهاره درواري دي تر هرښکلي سم
یوځلي په مینه دي انار په غیږکي ونیسم
کښېنم لکه خال د میخانې ډکو جامونوته
دا د مستۍ خُم او دا ګلزار په غیږکي ونیسم
ښاښکۍ د خولوبه زه ( تائي ) د رخساروو ینم
هغه وخت که تورافعي ښامارپه غیږکي ونیسم

د ګیزن ښار ـ جرمنی ٢٠٢١ م

زه چي ستا دشـوخوسترګوپـه کاته شم
پـه کاتـه کاتـه مـي کسی پـه واتــه شم
بيـا وصال دي پـاچهـي زمـا پـه وارکا
چي په غيږه کي داستا په پريواته شم
يـو يـو غـشی د مـژگانــو دي صنـمه
سخت ګذارته په سينه سينه ويشته شم
دا زمــــا اه وســــلګۍ بــه څــه اثـرکا
چي تصويرددلبر پټ په زړه ساته شم
هسي ورک شمـه تائي ستا تصورکي
لکه ستورۍ چي دلمر مخ ته خاته شم

کندهار جون ـ ۲۰۱۱




راسه ملنگه ځواني مرگه ستمگاره ښه یم
زما پرڅښو ستا مړوند پروت ترسهاره ښه یم
لکه پیاله د میو ډکه د ساقي له خُمه
بیا دهررند په لاس کي مسته له اسراره ښه یم
زه دهجران بندیخانه کي چي ژوندون تیروم
یمه پتنگ په وصال سوځمه بې ناره ښه یم
د ترانې په څیر مقام یم د مطرب په نغمه
د زیر و بم په ټال زنگېږم ترهرتاره ښه یم
همیشه ناست دي د تائي پرزړه لاله داغونه
هغه تورخال دخُم په څنگ کي بې گفتاره ښه یم

هانو - -رمنی


زه به څه وايم و يار ته د زړه غم
چي مي نه ويني د ډکو سترگو نم
بې دردان دي څه خبر دعشق له درده
و درد منو ته معلوم د عشق قدم
يو يو غشئ ئې رسا پر سينه لگي
يار چي كش كا پر آبرو نرئ قلم
دائی خط دسپيني خولې پررخساراغئ
كه چينه د كوثر وينم سنبل خم
هيڅ مي مخ نه دئ اوښتی ستا له حسنه
( تا ئي ) اخلي ستا پر سپينه خوله قسم

كابل ـ جون ۱۹۷۹



زه له فراقه انتقام اخلم
شپه د وصال ده لب د جام اخلم
باد چې پریشانه په ځیگرزنگوي
د هغو زلفو ول آرام اخلم
یا په کوهسار کي ده د زرکو ژړا
یا و فرهاد ته شیرین نام اخلم
د غمازانو په کوڅه هیا هوى
چي ئې خبر په صبح وشام اخلم
هر قدم خاوري ئې تائي کړې رانجه
ځکه دلبرته نوم غلام اخلم

المکه کلینک ، کندهار ـ افغانستان
دسمبر ۲۰۱۲




زه آبرو کي چي مژگان ئې قطار وينم
شوخوسترگو لښکر جنگ ته تيار وينم
بيا به سرې کاندي منگول دچا په وينو
کښلې توره چي په لاس کي ديار وينم
يار آبرو کړلې نرۍ مشاطې جوړي
که تازه بچی پيدا څه د ماروينم
دا ئې ياد د کندهار په زړگي راغی
چي په غيږ کي د دلبر مي اناروينم
هره شمعه په حساب محفل کي سوځي
( تائي ) کله پتنگانو شمار وينم

المکه کلينک ـ کندهار ثور ـ ۱۳۹۳

زه چي تر په ګرمو اوښکو ګريـوان وينم
لنـدوسـترګو کي  تـصويـر دجـانان وينم
بـورا ولـي  بـه پـه اورســوځلې نـه وي
داچـي شمـعه پـه لـمبو کي ګريـان ويـنم
يــا د بــدر پـه شــپه جـوړه مهماني ده
يا پيکۍ دی پــرجبــين ئې پـريـشان وينم
دماهي په خير رونـېـ سترګي کباب سوم
بې تکـبيـره مـي مـرګی څـه اسان وينم
هسي يار ( تائي ) په خوب دی کښيوتلی
په وعـده بـانـدي ئـې کله پـښيـمان وينم

مشن هسپتال ـ کوئيټه
اپريل  ۱۹۸۴




زه چي رخسار دي په خوله کي وینم
گویا شبنم په شگوفه کي وینم
بیا دي د تورو زلفو ول په گریوان
فوج دپرنگ دي په مارجه کي وینم
یوه مسکا دي دسرو شونډو په ناز
می د ساقي په پیمانه کي وینم
د وصال عمر دي د برق په شاني
اوس دي هر یاد په افسانه کي وینم
هجردي داغ ایښی پر زړه د تائی
مسته سیالي ئې په لاله کي وینم

فوج دپرنگ .... د مارجې وجنگ ته اشاره ده
دراده غاړه   هانو ـ جرمنی   جون   ۱۹۹۵

زه د سـپند په شـان سوځـلو ته پـيدا يم
لـکه زرکه پـه سـرو سـترګـو پـه نـوايم
بـيله اوره مي ژونـدون په اوږو بـارسي
سمـنـدرغـونـدي د اور په مـينځ کي پايم
يارمي بيا منګولي ښخي زماپه تن کړې
چــي د زړه پــه ويــنو رنګ لکه حنـا يم
د حـباب نفـس ئې هـم له غـمه وچاود
چـي د سـوي زړه اهـــونــه ورتـه وايم
هـرلحـظه لـکه ښـيښه ( تائي ) په ويـنو
تـــل د خُـم پـه ميو ډک لــــکه مينـا يم

مشن هسپتال - کوئټه
اپريل ۱۹۸۴



زه چي نن ستا د سپين مخ   په تماشا يم
د غنچې په  ځير په پټه  خوله ګويا يم
بيمار کړی  يمه ستا بيمارو  سترګو
کوم سبب  بې  طبيبانو ته  زه وايم
يوزمان دي لکه شمع  بې اوښکو نه سوم
درسته شپه دي د محفل  بله  رڼا يم
دا د زړه غمونه ټوله يو په بله
د مطرب د تار نغمه کي درته وايم
هلکان دي چي خفه وزي له کلي
دا خو ښه چي زه مئين ( تائي ) پر تا يم


قندهار ـ افغانستان

زه په یو نفس اباد په بل خراب یم
سمندرپه غېږ کي پروت لکه حباب یم
بل څه نسته یم پرکار پر سر راڅرخم
د نا اهلو له کرداره په عذاب یم
یارمي کښلئ دی لړمون په ژوندئ ساه کي
اویزان په قناره کي د قصاب یم
د جهان غم وښادئ دي سره نغښتي
په هرموج کي ئې روان په پیچ وتاب یم
هسي داغ د غم په زړه د ( تائي ) وینم
د لاله په څېرسوخته سینه کباب یم

پراگ دچیک جمهوریت


زما د شعر به زمزمې وي زه به نه یم
د رباب به هم نغمې وي زه به نه یم
بې اجله به سیلاب د زمان درومي
تیر یادونه بې ځپې وي زه به نه یم
یلدا شپه به مې د تور بخت نښانه وي
اوښکي سترګي به هم سرې وي زه به نه یم
دا د ژمي مازیګر به د ژوند راز وي
پکښي نغښتي به قیصې وي زه به نه یم
هیڅ میراث به د ( تائي ) در پاته نه وي
یو سوړ آه به له سینې وي زه به نه یم

المکه کلینک کندهار ـ
افغانستان ۲۰۱۳



زه چې لار کې انتظار د ګل اندام یم
سترګې کوزې د نرګس په څیرسلام یم
بلبل نه یم چې پر ګل ترانې وایم
زه د عشق د میخانې د میو جام یم
یوه ورځ به مې له حاله یارخبر شي
چې په فکر دوصال ئې صبح وشام یم
د یارمخې ته جواب په اشارت کړم
زه دعشق په کارکې پوخ نه یم لاخام یم
هرعاشق دې د شعرونو خریداردی
په کلام کلام ( تائې) شیرین کلام یم

پغمان ـ کابل اګست ۱۹۷۹




زه د یارپه میـــنه هسي مستانه یم
چه خبر نه په ساقي نه پیمانه یم
بلبـــل نـه یم چي پر ګل ترانې وایم
درخســار شمعي سوځلې پروانه یم
یاد چي تل دسرولبانو په زړه ګرځي
د ســاقي لـــه خُمه ډکه پیـــمانه یم
د وطـنـه را بـهر دهـجرت تاؤکړم
د یار هارلره پیـیلي دُردانـــه یم
هیڅ سینه کي تائي رازساتلای نه سي
خپلو اوښکو څه رسوا په زمانه یم

هانو ـ جرمنی اکتوبر ۱۹۹۵


زه مئین هم په ساقي هم میخانه یم
ځکه ناست دخُم په دور رندانه یم
بیا دي بلي دخلوت شمعي که شیخه
زه ساقي وچنګ و نۍ ومیخانه یم
یم د میني په راز نغښتئ له ازله
سپلنۍ غوندي سره اور ته نزرانه یم
دمخ خال مي په مکتب دعشق لوستلی
په ویل د خط ئې هسي رندانه یم
همیشه چې د ساقي له خُمه غواړې
زه ( تائي ) هغه لبریزه پیمانه یم

کوټه سنګی - کابل
اپریل ۱۹۸۱



زه ساقي ته انتظار د پيمانې يم
دا دخُم خنگ ته چي ناست د ميخانې يم
بُت پرست په شان سودا کړم د بُتانو
خريدار ئې د ياقُوت او دُر دانې يم
يا مي کاڼو باندي ولى لېونى دى
چا خرخ کړئ هم په خرخ د زمانې يم
دائې بيا دى زما په زړه اور لگولى
چي دعشق په محفل بلي سرې لمبې يم
هميشه لکه چي باد سرگردان گرځم
را ايستلى ئې ( تائي ) له آشيانې يم

السلام سعودی هسپتال ، سرانان کمپ کوئټه
نومبر ١٩٨٨




زړګۍ ئې راځه وړئ پردې لار ئې لټوم
کوڅه په کوڅه ګرځم ښار په ښار ئې لټوم
بازار ته تللئ نه دئ په دا خپل کلي کي ورک دی
د ډیر عمر بېمار ؤ اوس بیمار ئې لټوم
یوسورپه وینو لژند بل مژګانو زخمي کړئ
اوس ګرځم په سرو ګلو سور انار ئې لټوم
دې سترې میخانه او د ساقي ډکو پیالو کي
د خُم پر دور ګرځم هرکنار ئې لټوم
همېش سرپه صحرا د لیوني ( تائي ) له لاسه
په سرو کوکارو ګرځم په چغار ئې لټوم

يارانه شفاخانه ـ کندهار

زه دي نـن د انـاري شـوندو شـراب جوړوم
پټ سـينه کي مي پـښيلۍ زړه کباب جوړوم
بـله شــمعه چي فـانوس کي دي لمبې پاشي
د رخـسارو پـلوشــو تـه دي حجـاب جوړوم
يوپربل چي پرسينه باندي پريشان دي پراته
هـر يو ول د تـورو زلفو پيـچ وتاب جوړوم
د ســاقي د خُم پــه دور قــدم اخـلم نـشــه
د ښــکلا د تـصويـرونـو دي کتاب جوړوم
هـر سهارچي د ( تائي ) دميني رنـګ اخلي
د هغــوتــازه ګلـونـو څــــه محراب جوړوم

ستا ياد بيا هم راسره سته د دوحې هوائي ډګر
۲۰۱۸ نوامبر



زه چي تل په خپل جانان باندي مئين یم
زِيِ په زلفو اوگریوان باندي مئين یم
د یوسف غوندی کوهي کي ځلیده کا
بِیا په څاه د زنخدان باندي مئين یم
درخسارخولوئِي زلفي واړي ښکل کړِي
یِم پېچلی ول گریوان باندي مئين یم
چي قطره ئِي د رخساره خولِي څاڅي
دِيِ گلاب او دِي باران باندي مئين یم
چي د لبو په پیاله ( تائي ) پریشان کا
هِمېشه په هسي جان باندي مئين یم

کندهار ده خواجه

زِه چي تل په خپل جانان باندي مئین یم

زېِ په زلــــفواوګـریـوان باندي مئین یم

زېِ د اورپه شعله سوي حساب نه کړم

بـِس پــرخــاه د زنـخـدان باندی مئین یم

زېِ محـنـت لکه غـنچه د شراب نه کړم

یِـارچي راسي پــرزمان بانـدي مئین یم

زېِ د حُسن شعلېِ ویـنـــمه پـــه څاه کي

دِ یــوسف ســره کـنعان بانـدي مئین یم

زېِ جـلوه درخسارګورم په هرجام کي


هِمېـشه ( تائي ) پـرجان بانـدي مئین یم

هانو بنار ـ جرمنی

by - Dr. Taie

زه چي ستاښکلې تنۍ له حجاب وا کړم
و ډک ښاخ دشکوفي تـه شـپه سبا کړم
بـــې نـفـسه مي فـغـان لکـه جـرس ځي
په راتګ بـه دي سارباـنه څه نــوا کړم
يوځل خپل د زخمي زړه په لـيـدو راسم
د قـصـاب پـــه قـنـاره ئې تـماشــــا کړم
دا د تـوروزلفو ول کي هسي ورک سم
که شانه غوندي سينه ټول تري فدا کړم
هـره پـاڼـــه ئـې ( تائي ) له مسـتۍ ډکـه
چې سـاقي سـره د تـــاک مـيـنه پيـدا کړم

پاڼه : زما دشعري ټولګي نوم دی
قناره : دقصابۍ په دوکان کي هغه اوږد لرګۍ دی چي
غټ ميخونه او چنګکان لری او دقصابۍ دلبندان ،
سږي او زړونه د خرڅلاؤ دپا ره په ځړولي وي .



زیبا د ښکلو ښاره سره انار ته دي درځم
د میني کندهاره شا لیمار ته دي درځم
بدن زخمي زخمي کړي ځوانیمرگ صیاد په غشو
درمل درته راوړمه و پرهار ته دي درځم
یو بوتی د کیمیا ئې د جهان د آفتاب روخو
سودا زما د سر ده دې بازار ته دي درځم
دا مات زخمي وزري چي پروازد قمري نه کا
په سرو وینو کي لژند و کوکار ته دی درځم
همزولو تورکفن کي ( تائي ) و نغاړئ په مینه
په تورو تورو شپو کي و دیدار ته دي درځم

جرمنی ـ دهانوښار

زه چي وينم يوځای ناست وي دلـبران
شــکر شــکر وي تــرتهــلي رقــيبان
بــی د يــدنــه سـي د رنځ شـفآ مشـکله
ځکه لاس تـر زني ناست دي طبيـبان
يو يو ول چې پر رخسارد زلفو راسي
چار چاپير پــر خـزانه سي ښاماران
دلته پورته له محرابـه سرې لمبې سي
چي خطبه کي دعشق رازسي را عيان
هريو تار چي ئې ( تائي ) دزلفو نيسم
د يلــدا ترشـپې اوږده پيـچان پيچان


کابل جولائ ۱۹۸۰

زړه مي څه پوښتې د تپ او د پرهار نن
چي زخمي دی د مژگانو په گذار نن
بانه گان کا هرکاته روغبړ د غیبر ي
په محراب کي د آبرو اختر سهارنن
یاد ئې بیا د خنده رویه پر زړه راغئ
چي سینه مي پټ تصویرسو دانار نن
د یارلوري ته نسیمه قدم ورو وړه
داغ ئې نه کړې گل دحسن د رخسار نن
هم طبیب دی هم رنځور ( تائي ) دمیني
ده د زني سیب دوأ ددې بیمار نن

ستا یاد میوهسپتال ، لاهور
جنوری ۱۹۸۵

زلفي توري دي رانغښتي په رخسار نن
د سنبل موج ئې زُم زُم کي کړاظهار نن
بادام واخيست نازک خيال له آهوچشمو
دا چي شوخ کاته په شوخوکړي نګارنن
يارساقي ؤ په ډک جام ياقوتي راغی
لا په تور نرګس کوي دزړونو ښکارنن
د آسمان له فتنو کله آرام ناست وي
چي د سر په سودا ګرم کړي بازار نن
هرګز مه بولۍ تائي بېغم له آهه
د منصور پشان که نه دی سرپه دارنن

دهانوښار ـ جرمني



زمانــه بـــه دي خــزان کا بــهــار ورو ورو
په رخساربه دي ښکاره کا غبار ورو ورو
بلـــبـلان چـــــي تـــــازه ګل کــا پــاڼي پــاڼي
داغ څرګند سي په بـدن ئې دخار ورو ورو
يـومي رنځ د عاشـقى بـل مـي هجـران دى
چي مي باسي له سينې څه کوکارورو ورو
دا ئــې يـــــاد د غــلامۍ نــدى نــوڅــه دى
چي پــه غاړه وړم د زلــفــو زنــار ورو ورو
هــار ئې وپـيــــيه تــــرتـيـب د يــار خيــالــونه
د ( تائي ) د زړه کا ګـرم بازا ر ورو ورو

منزل باغ - کندهار
اپريل ۲۰۱۱

زهير ښکاري مشکين خال د دلبر ورو ورو
پـرسينه چي برابرسي گوهر ورو ورو
بلي شمعي مي د زړه مجمر داِغدارکړ
کج نگاه وهي سينه کي نښتر ورو ورو
يوه ډکه پيمانه صدفي راسي
د ياقوت گرمي ښکاره کا ا ثر ورو ورو
د ا افعي تور ښاماران په نڅا راغله
چي زنگيرۍ په نسيم د سحر ورو ورو
هر ساعت د مينوشۍ ساقي ته ناز کړم
چي تائي ته وړه لبريزه ساغر ورو ورو

هانو ښار ـ جرمنی

زه و ته چي خوله په خوله وای څه به ښه وو
ځنګ پرځنګ مي را سره وای څه به ښه وو
بڼ کي شور د بلبلانو پرغنچو وای
موږ ئې هم په ننداره وای څه به ښه وو
یو په یو وای د وصال هنګامه ګرمه
د فراق ویره مونه وای څه به ښه وو
د مستئ مستي نغمې مو آو رولای
پروت رباب پر زنګانه وای څه به ښه وو
هسي ورک وای ( تائي ) ستا شوخو کتوکي
یو ؤ بل ته په کاته وای څه به ښه وو

هانو شفاخانه / جرمنی
جولائ ۲۰۰۰

زه مجلس ته ځم د عشق له لېونو
نه صحبت د شېخ زاهد له مسئلو
بېله مینې بل څه نه لرم سینه کې
هر نګاه یم د بُتانو په کتو
یوځل مست که د ساقي په پیمانه سوې
شېخه پرې به ږدې خلوت دې د کلو
د آسمان واړه کارونوته به خاندې
میخانه کي به نشه ئې په پیالو
هوښیاران به دي پرسان ته تائي راسي
که د میني لېونۍ سوې لیونو

یارانه معالجوي روغتون لو واله
کندهار ـ افغانستان مارچ ۲۰۱۷

زړه مي هله سو شيدا دا ستا د زلفو
چي نسيم راوړه هوا دا ستا د زلفو
بانوگانو چي دي لاس پورته نيولئ
غواړي غواړي خونبها دا ستا د زلفو
يو يوتاركې د ژوندون په قيمت مومم
خوښ يم خوښ پدې سودا دا ستا د زلفو
د زُم زُم اوبو حاجت د چښو څه دی
هرمرض لره شفآ دا ستا د زلفو
همېشه چي پر رُخساربانـدي تاليږي
( تائي ) تل كوي سودا دا ستا د زلفو

هانو شفاخانه / جرمنی
جولائ ۲۰۰۲

زما ئې ستا په تورحجاب ړو
په ډک خُم مي د شراب ړو
بنګ وجام ، مطرب ملګري
په آهنګ مي د رباب ړو
يو يو خط ښکلئ له خاله
ستا د حُسن په کتاب ړو
د کمان په کړو غشو
د دؤ ورځو په محراب ړو
هجرزړه د ( تائي ) وخوړ
ستا د سپين مخ په ګلاب ړو


دهانوښار ـ جرمنی

زنـــي ولـــګاوه اور د خــــط پـه کــښو
تبــسم ئې نـقش د لیـک کړ پـه حاشــو
بـې انـصافـه د فـلـک د څـرخ له ظـلمه
نــړوي د زړګي خــونــه لـــه ریــښــو
یارمي بیا راته تـازه غشي په زړه کړه
چـــي مي وزي لـــه سینې آهــونه ورو
د یـاقــوتـو بـازار وران سو جوهریانو
چي عرق سو را څرګند پرشونډوسرو
هـوسۍ ګرمه د  تائي غـېـږي ته راغله
زیــبا ستــرګي آراســـته وې پـــه آبـرو

دهانوښار ـ جرمنی

زمان په څرخ راغلۍ ستا د خال په راوستو
عرق د رخسار وينم د گلفام خط په لوستو
بخت او حيراني مي برابرسوه يوتربله
ځيگر ته چي خپرې سوې توري زلفي په بستو
يو ستړئ آه وباسي په چښلو کی د جام
خالي ئې ميکدې کړي د سرو مُلو ښايستو
دا بحر د حنا د لړمانه چي جگرخون دی
بدل نسو د شنوپانو لباس په اغوستو
هيڅ پدې بازارکي فکر نسته ليونتوب ته
تائي آسانه نه ده مينه هم په گلد ستو

د حضرت جي بابا معاينه خانه
کندهار ـ افغانستان



په ډک خُم مي د شراب ږو
زما ئې ستا په مست حجاب ږو
د ساقي په ميخانه کي
بنگ وجام ، مطرب رباب ږو
په شبنم دحُسن بڼ کي
يو يو څاڅکئ پر گلاب ږو
د کمان په کږو غشو
د دؤ ورځو په محراب ږو
د ( تائي ) له سرو لبانو
هر ساعت په ميوناب ږو

کيتلر شفاخانه ، د اوپن بخ ښار جرمني

زخمي زړه ګوره په غشو دمژګانو
څنګه کاندي آشنايي د مهرويانو
بی درمله زخم کله شفاموی
د زړه زخم لره جام دسرولبانو
يو دشمعي سربازي ده په مجلس کي
بل مستي ده د راغلو پتنګانو
دا مي يار منګولي سرې په حنا راغی
که ئې کښلی دی لړمون له شهيدانو
هيڅ ( تائي ) له ځان جهانه خبرنه يم
دامي ويني ځي که اوښکي له چشمانو


مونشن ـ جرمنی اپريل ۱۹۹۲

زلفو ول پر گریوان پریوت گلـرخانو
د زنـخ پـه خـال ایـسارسـو د لــبـانو
بیـا تـلاش بـه  می پـرسته د جـام وکړي
چـي د بـنگو پـیاله واخـلي له خـوبـانـو
یـوه پانـه بـه دي  بڼ کـي گلــه ښـه وي
پـه فــریــاد فـغــان د مسـتو بـلبلانـــو
دا دهـري پـیالې شرنگ محفل سازي ده
چـي ســاقي ویـشي جـامـونه پـه رنـدانو
هیـڅ خـالي  مشــه ( تـائي  ) پیـاله له مُلو
پـه دوعـا د لـیونـــیو مــلـنــگانــــو

امستردام ښار هالند

زړه مي هــلـه ډک پـه پـاڼو د یـاسین سو
و رقیب و تــه چي یار له خنـدا شین سو
بـهانـه ئـې تـور پیـکئ آراســته راوست
تیره تیـغ ؤ د خوشحال چی په جبین سو
یا ئې غوړشکي په رخسارد زلفوراغلې
یا سنـبل ؤ پــرچـینه د زُمــزُم شیــن سو
د تـنور خته ئـې زما له سیـنې واخیست
ټول لړمون چي مي له هجره آتشین سو
هریـوشعر چي ( تائي ) پـه پاڼه وکیـښ
د یـاقـوت پـشــاني گرم دل نـشـین سو

قرغه ـ کابل مارچ ـ ۲۰۱۱



زړه دي يـووړ لـه سينې څه پـه منـګولو
د خـوږ زړه سـوبـه مــي وکــړه په کټلو
بد ئې مه بوله که خوله درڅه طلب کړم
بـلـبل شـورکا د غـنچې پـه خـلاصـولـو
يـو ځل بيـا بـه د هوس پـه دور کـښيـنم
که مي يـار و څنګ تـه راسـي بـې ويلو
د زلـفـيـنو پـه هـرتـار زړونــه پـيـيه کا
هک حيـران يـم تـار پـه تـار دخلاصولو
هيڅ به خواست تائي له تا څخه نورنه کا
داچي خـوښ نـه ئې دخـولې پــه راکولو


کراچی ، پاکستان دسمبر ۱۹۸۷

زړه مي کښلی له سينې دی په منګولو
زې په پانه خرخومه د سرو ګلو
بازد سترګو پنجې ښخي په لړمون کا
هک حيران سمه طبيب ته د ويلو
يارچي لب پرلب د ميو پيالې اخلی
په احتياط وي ډک جامونه د ويشلو
د ښو پشان دی ياره يارى غواړم
هرګړئ د غيږ روغبړ کا په کتلو
هسى پټ په سينه ستا له غمه چوی
څه حاجت دی د ( تائی ) د قتلولو

کندهار ـ مى ۲۰۱۲


زړه څـه و پـوښــته اسـرار د سـرومنـګولو
څــه جـــلوه ده  د حنـــا پــه ایـښـو ولـــو
بند پـــربند چي دافـعي پـه شـان تـاویږي
لاتــیرئ کا هر یو ول ئې تــر څنــګولـو
یو مي غم لـکه کبـاب پــه اوښـکوسوځي
یـارهـــنـوز کـانـدی تـــدبیـــر دقـــتــلولـو
د ساقي په خُم کی سرې سکروټې ویش دی
چي پیالې ئې تـصویرواخیسـت له منګولـو
هســي وینمـه ( تـا ئي ) رخـسار لـه زلـــفو
پـــه سـرو ګلـو چـپـه پـروت ښـــاخ دسـنـبلو

کندهار ـ افغانستان          دسمبر ۲۰۱۳



زړه مي په کوګل کي دکباب په شان سوخته سو
بَـــل چي پـه سيـنـه کـي تـازه اور د بـيـلتانه سو
بيا بـه خپل زړګئ د اسـتا د لــبـو ميـلمه نه کړم
کلـه شـــرابي د بـل پـــه کـور کـــي اســوده سو
يــو ځــلي په مينه چي ئې ورکړې د رګـ ويـنـي
خيال ؤ چي دسترګو زما د زړه په کورميلمه سو
دلتـه پـه هـرول يـې شـانـه ورو وربـاندي کا ږه
چيـري چي هـرتار باندي د زلفـو زړه پيـيه سو
هرکله چي جام دعشـق له ميـو( تائي) واخيست
تـوله خُـم ئې تـش کـړ پـه چښــلو ديـوانـه سو

ستا ياد ، پارک هوټل ، راولپنډی
دسمبر ۱۹۸۴




زمزمه چي زما شعر خوله په خوله سو
د رباب په تار کي ونغښت ترانه سو
بیا ئې خته د تنور په لمبو داغ سوه
جوړ منګئ سو سم د پیغلو پراوړه سو
یو رنې سترګي ماهئ تیلو کي پوخ سو
د حباب په څیر ژوندون ئې پټه خوله سو
دا چي تاک زما د زړه تناکي خاندي
خپل واښکئ ئې د انګور دانه سو
همیشه چې د سرو لبو مې نوشي وه
ها تائي دي اوس دعشق په رنځ اخته سو

کندهار ـ افغانستان ۲۰۰۵

زيبا يار چي مي سر ايښى پر ځيگر ؤ
شپه د وصل هر گړئ راته اختر ؤ
بار بار خواست به مي د ميو بې اختيار كړ
هغه شپه چي هم ساقي ؤ هم ساغر ؤ
يار كه خپله ورته نه وايه حالونه
اغيار څه مو ددې شپې په حال خبر ؤ
درسته شپه چي جام په جام مو مينوشي وه
ما چي وروړ لاس وزني ته سحر ؤ
هميشه كله ( تائي ) وي دا وختونه
چي دي ايښى سر په غېږ كي د دلبر ؤ

تورنټو ـ كاناډا مارچ ۲۰۰۵



زلفي ول په ول چپه کړې ښایسته ؤ
تورپېکی پرېشان جبین کړ ګل دسته ؤ
بل به نه وي مست ملنګ په میخانه کي
که نظرکړې د ساقي په نشسته ؤ
یم خالي د میو جام نسکور په لاس کي
د حباب په څیر څپه د پا بسته ؤ
د فراق اوښکي به څه ګریوان ایسارکا
څه به راوړي له ځیګرد خوارخسته ؤ
هزارشمعي په خلوت کي که بلیږي
تائي خوښ دی په مجلس د شکسته ؤ

هامبورګ ـ جرمنی

زړه چې يوورړله سينې څه مهرويانو
اثرنه کا نصيحت مو ناصحانو
بيکسي کړم د مطرب ناوک له تاره
اه مي ونغښت په پرده د مطربانو
يوجلوه پورته د لبو د صدف سوه
اورئې بل کړ په دوکان دجوهريانو
دازما په زړه دي ښخي کړې منګولي
څه حنا آتش زني کړې په نوکانو
هغه تاب چي دزلفينو شانه وخوري
په ( تائي ) باندی يرغل سي د مارانو

هانو - جرمنی

زیـــبا مـخ دي راښــکاره کړه لـه نـقــابه
د پـــتنـګ پـشـان دي کـــړم سینـه کـبـابه
بیادي تیغ دخوشحال درست پر جبین وینم
ستا د ځـوکـو د پـــیـکي لـه پـیـچ وتـــابه
یـم راغـلـئ د مـــــیخورو لـه مجلـــسه
لکـه زلـفي چي پـر مخ زانـــګـي بیـتابـه
د رخـــسار پــه ننــداره دي بلـبل ګـرځي
ســـتا د حــسن چـمن ډک دی لـه ګـلابــه
هر ګـړی ( تـائي ) پـه نـوي غم اخته کړې
چي خماري سترګي پورته کړې له خوابه

السلام سعودی هسپتال سرانان کمپ ،
کوئیټه فبرور ۱۹۷۸

زما په زړه دي ميلمانه سوه بي حسابه

سخت غمونه د هجران اتش کبابه

بيګاه مه غواړه خولګۍ له ما نه غلې

هسي نه چي شمه تاته بې جوابه

ياره اوسم په کفن کي بدن نغښتۍ

غم دي راوستم د سترګو تر قصابه

دا د اوښکو په درياب يې سوده نشي

څه به ورکړې وچه خوله خواره حبابه

هسي ګرځم لکه زرکه په سرو سترګو

( تائي ) مه بولۍ نشه له سره شرابه

د فرانکفورت ښار ـ جرمنی ۱۹۹۹ م

زه چي تل گورم دا ستا جور و جفاته
هک حیران سمه د ښکلو دې دنیاته
بیله مابه څوک کم بخت په عشق کي نه وي
ستا چي توري سترگي نه گوري وماته
یا دي زلفي مشاطې په شانه راوړې
یائې وینمه په تال د رخسار خواته
درد و غم په عاشقي کي هومره نه وي
لکه تا چي کړه د زړه ښیښه راماته
هریو دال ته چي کاته کړم قد مي خپل وي
د ( تائي ) سینه ستا میني کړله ماته

دال : ( د دال حرف )
قرغه ـ کابل جنوری ـ ۲۰۱۰

زه له لاسه د تا ژاړمه و تاته
ولي نه لري پروا زما ژړاته
بل څه نه لرم چي ستا بلا ګردان سي
سپلنۍ به کړم څواني ستا وبلا ته
یاره یوځلي زما ترڅنګه راسه
چي محتاج نسم تاویذ یا وملا ته
دم په دم په ما نازله څه بلاسي
چي امید مي دبوسې سي ستاوخواته
هرهر څوک له وفاداره وفا غواړی
زما تائي دوفا خواست سو بی وفاته


ستا یاد - لاهور پاکستان
اګست ۱۹۸۴

زه چي وګورم ستا زلفواو رخسارته
څه عجب سره جاروزي ول انارته
بې صبري مي دسينې په طواف ګرځي
چي نسيم پېکۍ پريشان کړي ورخسارته
يو يو حرف دي پټوم د ګرمي ميني
چي نامه دي ورکومه و رويبارته
ددې کلي خلګ واړه پريشان ګوري
دا چي زه پريشانه ګورم ستا بيمارته
هرساعت چي شوڼدي نيسمه له تندي
( تائي ) مست راغی د ميو وبازار ته

هانو جرمنی


زه چې یاروته کاته کړم یار وماته
هغه دم مي دهجران روژه سي ماته
بار بار ډک خمونه تش کړمه د میو
ولي هیڅ مي دعشق تنده نه کاماته
یارمي ویښ نه کړې ساقي دنازله خوابه
لړ په ورو قدم را اخله د خُم خواته
د زرګر په سرَه کوره چې ویلي نه سي
کله هغه والي ځي غوړ دلیلاته
هله نن دي د( تائي ) درنځ پرسان کړه
د رنځورو طاقت کله سي سبا ته

د افغاني ډاکترانو اتحادیه کوټه ـ پاکستان
می ـ ۱۹۸۸



زړه مي ستا و گل ته د رخسار کړه الواته
څومره له عالمه چي مي پټ ساته ساته
بیا دي بیقراره لب پر لب باندي در وړم
مست چي پر رخسار د زلفو ولونه وي پراته
یو زما زړه نه دی ستا د زلفو بندیوان
ډیردي اسیر زړونه په زندان کي دي پراته
درد د محبت دي هره ورځ په زړه تازه سي
هیڅ آرام مي نه سي په واته ننواته
هغه ورځ تائي دی له خوښیه جامې نغښتي
پټ چي دي د سترگو ترکونجو ورته کاته

ستا یاد - کراچی - پاکستان اگست ۱۹۹۹



زړه مي پـه لړمـون كي هـلـه اور واخيـستـه
تاچي پـه چارسـو كي رانجه تور واخيــستـه
بيا به دي پالنـگ تـه پـه احتياط سره درځم
نن دي په بـوسه كي بنـګړو شور واخيـستـه
يـاد دتورو  سترګو دي مېلمه پر سينه راغئ
كلـي د زړګي كــې هــلـتــه كــور واخيـسـتـه
دا بـه دي ساقي تـل پـرمابانـدي احسان وي
جـام كه مي له خُـمه څه دوه نور واخيـستـه
هره ورځ  تائي  چي د يـار پـه كلي راسي
نـوم د ليـونـي ئې كـور پـه كور واخيـستـه

ده خواجه كندهار افغانستان

زه دي ســـمه سپـــلنۍ دا ستــا و غـم تــه
ســـر ســرتـــو دي لـېونی ســـم وعــالــم ته
بـــڼ بـــه بــيا د امـــيدونـــوغـوټـــۍ وا کا
که د ستـــرګو اوبـــه ورکـــړم و شـبنـم ته
يـو يـو ول چي ئې سهار وږمه بـوسه کا
هک حيران سم د هـر ول وپيــچ و خم ته
دا چي ستا د رخسار خط ئې پرې ليکلۍ
جـار سم جـارسـم د هِغه خـطاط قلم ته
هــمېـــشه چي وفــانــوس تــه دي کـړېږي
تائي سـوځي ستا دسپين رخسار و شم ته


شم يعني ( شمع )

د هانوبنار - جرمنی

زلفوول چي سوحجاب وسپین رخسارته
د زنخ و څاه ته ولویدئ کنار ته
بازار واړاوه خپل نرخ د تورومشکو
چي پېکي خوشبوئي ورکړه و سهارته
یادول چې میخانه ، ساقي ، پیاله هم
هغو رندو لاس نیولئ کندهارته
د قصاب پر قناره ئې ویني څاڅي
زخمي زړه په حیرت ګوري حوالدارته
هره ساه ئې په فانوس کي اوراخیستئ
د ( تائي ) شمعه وهي سر و سیتارته


اديسه بنار ـ اوکراين

by - Dr. Taie



زیبا زلفي ول په ول جلا جلا که
تار په تارئې د سینې پر میدان وا که
بله شمعه د رخسار کړه په فانوس کي
بیا له سروشوندو لبریزه پیاله را که
یوه ډکه خوله خندا غیږي ته راسه
د سرو میو د گرمۍ نازدي پر ماکه
د بلبل غوندي سهار د بهار بڼ کي
د امید غوټۍ مي یو په بله واکه
هر کاته دي تیره تېغ د کربلا دی
د ( تائي ) زړه دي شهید د کربلا که

کندهار - دسمبر ۲۰۱۱



زلفي ستا چي تاب په تاب شته
لا سينه کي د عشق تاب شته
بس د خُم خواکي به ناست يم
څو ساقي ، پياله شراب شته
يوه شپه هم له رخساره
پر سينه د زلفو خواب شته
د آتش گرمي چي وخوري
د هغه گلابو آب شته
هومره جام دي ( تائي ) غواړي
څو ئې حال مست و خراب شته


هانو ښار ـ جرمنی

زما جام کي چي لا يو څاڅکئ شراب شته
پروت په سروسترګو اثرمي شکرخواب شته
باور وکه ستا د ميني له ګرمۍ يه
طاقت کله په سينه کي د آفتاب شته
يوه شپه چي زه و يار با ده نوشي کړو
هم ساقي شته هم پياله مطرب رباب شته
د ګلونو په موسم کي پياله غواړه
چي نرګس پټ د سنبل په پيچ وتاب شته
هر يو رند به دي تائي په پاڼه ستائي
چي کتاب کي دي هربيت په خپل حساب شته

ماربورګ ښار ـ جرمنی

څوپه خم کي لا يو څاڅکۍ د شراب شته
زما په سروسترګو اثر د شکرخواب شته
د بلبل د ترانوڅه خبر دادۍ
باوروکه په چمن کي لا ګلاب شته
په خالي کوګل رباب زما سيالي کړي
يونفس مي په ژوندون کي لا حباب شته
چي ئې سترګي ستا په سترګو دي ليدلي
د کوه قاف د شاپيريو کله خواب شته
ستا ځګر ( تائي ) دعشق په کوره پوخ سه
هري شمعي ته پتنګ سينه کباب شته

دکيف بنار ـ اوکراين




ساقي راوړه پياله راوړه سلامته
زه ئـې اخلمه د خُم له برکته
سرگردانه چې هرښاخ ته دگل درومي
بلبل سر سو په فغان له محبته
راکوه لبريزه جام د ميخانې څه
يم راغلئ د رندانو له نوبته
چي د سيند هري څپې سره زنگيږم
د حباب په څير نفس وړم له وصلته
مى و نى چنگ و رباب ساقي وحُسن
همه واړه دي ( تائي ) بلند قيمته

هانو ـ جرمنى

زینت کا په منګل دي د حنا سره راځه
زیبا خوله دي غنچه ده له مسکا سره راځه
بیا د میو جام لره درځم و میخانې ته
ساقي د خُم په دور له مینا سره راځه
یوه لحظه مي کښینه مخامخ لکه ائینې ته
دا سترګي نرګسي دي د حیا سره راځه
دسپین مخ په تجل دي زما دزړه خونه روښانه
پیکۍ دي که لړ پورته له رڼا سره راځه
هرڅاڅکی دي عالم ته ( تائي ) افسانه وینم
ګریوان ته دي داوښکو له بهاسره راځه

د افغانی ډاکترانو اتحادیه کوټه ـ پاکستان
مې ـ ۱۹۸۸



زه به څه کړم د وفا طمع له تا څه
څه به واورمه له خولې د بې وفا څه


بیا دي سرې کړه لې پنجې زما په وینو
وائي رنګ مي منګول واخیست له حنا څه

یا دي زلفي په ګریوان نسیم چپه کړې
یا څپه وه د سنبلو له نڅا څه

دا شبنم دی چي د ګل له مخي څاڅي
که قطره خوِلې د دلربا څه

هیڅ پروا د بې پرواؤ ځخه نه کا
داچي وینمه ( تائي ) ژیړ له طلا څه

منزلباغ جاده ـ کندهار جنوری ۲۰۱۱



زگيروئ مي خيژي ټوله شپه دلـړمانه له درده
ځکه پـرکټ بـانـدي دهـجريـم ويـــده له درده
بيـابـه رقيـب راتـه د ميـــني پـيـغـورونـه کوي
گراني که مړ نــه سوه مـه ستا دبيلتانه له درده
يـاره پـيـغور د رقيـبـــانـو راتـه مـه جوړه وه
يـوځلي راســه وپـرسان تـه مـي دزړه  له درده
دسپين رخساردخولو لاري چي ګريوان ته وينم
لکه حباب شم په درياب کي وچه خوله له درده
هــمره دي غشي د بڼو ( تـائي ) په زړه منلي
چي تـرسهاره وي سـرپروت په زنګانه له درده

د کاروان کوڅه ـ کندهار
اپريل ۲۰۰۵

زړه زمابـانـدي غمـونه په ورووروړ.ده
پـه اوربـل دي سره ګلونه په ورووروړ.ده
بـانـه سر پــر سر ګـذار کا لـه کمانه
پـر سـينه نازک يـادونه په ورووروړ.ده
يـارمي هسـي د بـوسـې پـر وخت ويـله
پـه رخسار باندي داغونه په ورووروړ.ده
دا د ښـــکلو پـه يـاري کـي وفـا نـسته
د وعـدو وعـدو يـادونه په ورووروړ.ده
هيـڅ دي زړه خالي لـه زخمه تائی نه سو
نـور د وصل مرهمونـه په ورووروړ.ده


مشن هسپتال کوئټه اپريل ۱۹۸۴

زړه مي ځكه ورځ تر بلي نوليده
يارچي زما آه و فرياد نه اوريده
بې دردان وه څه خبر دعشق له درده
چي د ميني ناوې څنگه وديده
يامي اوښكو نيمه شپه توپان برپا كړ
يا شبنم ؤ پر ګلپانو اوريده
دا د ښكلو په زړه راسي كله رحم
ښاماران وه پر سينه يې تاؤيده
هسي ښه سو د تائي سياه بختیَ يه
چي پر هسي بې وفا مئين كيده

وديده ـ واده كيده
كراچی ـ پاكستان اپريل ۲۰۱۱

زلفو رگ په رگ چي زړه زما تاړه تاړه
سترگو دي په کانو کړه تبرَه چاړه چاړه
باسي مي له خولې څخه دا ستا اوردهجران
کاږم چي آهونه اسويلي ساړه ساړه
يوځلي گيلې کوې د ميني پخوانی
غوارې بيا لمبوته تل لرگی زاړه زاړه
داچي په سرو سترگوکي خيالونه راولم
اوښکي مي گريوان ته وړي ياقوت واړه واړه
هډ په هډ په ياد مي هغه شپه ستا دوصال
کوم چي دي له غيږي خپل تائي شاړه شاړه

ستا ياد مشن هسپتال اکتوبر ۱۹۸۵



زلفو پــه جــنــگ دی   سینه کي زما زړه
ډیر شوخ وشنګ دی   سینه کي زما زړه
بـلــو لمــبو کي  د عشــق ســــــوځیږی
سـوئ پتنګ دی   ســـینه کي زما زړه
یـــوه نـغمـــه ده  د مـــطــربـــانــــو
هم نی وچنګ دی  ســـینه کي زما زړه
د یـار وصــال تـه  پــه مجـمر نــاڅي
د دیــد ملنګ دی   ســینه کي زما زړه
هـره ورځ یـــارتـــه  د ( تائی ) وایـــه
دا ستا ترڅنګ دی  ســینه کي زما زړه


کل کاجی ، نوی ډهلی   فبرور   ۲۰۱۱

زمـان چي راځـه يـووړه فـرزانــه زما دزړه
هـجران خاوري ايـرې کړه آشـانه زما د زړه
بــازار کي مي د حسـن پـټي شپــې سبا کولې
اوس ټــوله ښـار کي اورم تــرانه زمـا د زړه
يـاد مي پــه شـعله کي سپـلنـۍ که انـــنګو تـه
چــي و وايـم سـره اورتــه افـسـانـه زما د زړه
دنيـمي شپـو پـه يـاددي درخسار شــمع بـلومه
ســاتــمه پــه مــارانـــو خـزانـــه زما د زړه
هـرجام ته دي تائي پـه ميـخانه کي منتـظردئ
لــبرېــزه سـاقي راوړه پــيمــانـه زمـا دزړه

د هـانوښار- ښاري روغتون
جرمنی ۲۰۱۶ م

زلفوتـــاؤ له رخسار واخیست
ول ګـریـوان تـــه پناه یـوورِه
بــــادام کانی پـر سر وخـوږ
چي ئـــئ سترګو نــګاه یـوورِه
یــــاد د شـــونډو فلک سورکړ
کـــډه لـــــمر تر سما یـوورِه
دا د خـــال وخــــط کتــاب ئې
لـــه ګل پانـــو بـورا یـوورِه
هم ئــې هـــجر هم ئې یــاد دی
لـــه ( تـائي ) ئـــې دنـیا یـــوورِه

کل کاجی ، نوی دهلی ـ هندوستان
فبرور ۲۰۱۱



زما سره دي شپه وکړه
څومره ئې مزه وکړه
بوی ئې د ګلابو ؤ
مخ چي دي خوله وکړه
يوځل دي پوره کړه له
بله دي وعده وکړه
دا وه د وصال نغمه
کوم چي تا پوره وکړه
هر ځلي( تائي ) غيږکي
تا د ناز تکيه وکړه

ستاياد مشن هسپتال مارچ ۱۹۸۶

زلفو هله په رخسار باندي هوا کړه
چي ئې غوټه د کاکل په نسيم وا کړه
بلبلان چي د چمن په مستي راغله
غنچې هم ورته په ډکه خوله خندا کړه
يوئې سترګو پرسينه زخمي زخمي کړم
بل ئی غشي د کمان په زړګي را کړه
دې مجلس کي مي د شمعي قدر وليد
ټول محفل ورته خندله دې ژړا کړه
هميش تيرسو دوصال په اميد عمر
نن وخڼګ ته د ( تائي ) راسه خندا کړه

دراده غاړه ـ هانو جولائ ۱۹۹۸

زما د زړه خونه خوتا را تار په تار کړه
زما د وینو سرخي تا جارتــررخسارکړه
بیــماري دي د نرگسو ژوند راتــریخ کړ
ول د زلــفودي افعي مــاران تــیارکړه
یوه شپه به مي لا ستا وصال نصیب سي
چي په میــنه راتــه وائې ځان تــیارکړه
د خلیل په دود مي سوځې سرو اورو کي
درتــه چا وې چي تــائي دومره آزار کړه
هیڅ ئې مــه ایـږده ساقي پیـاله د میــو
هــر یو جام دي و ( تائي ) لـره تیار کړه

کابل ـ افغانستان

زلـفو ول چي پـه رخسار نسـيم هـوا کړه
و بـوسـې تـې ستـا د لــبـو لار پـيـدا کړه
بيـا بـه مورکړې نه پو هيـږم په چا بـوره
چي منګول دي واړه پـوري پـه حنا کړه
يـو غـزله په غـزل کی غـزل خـوان سه
د مطــرب لــه تــاره بـــيله پـرده واکړه
دا د عشق خطبه چي پورته له مـنبرسوه
په ګرمي ئې محراب تل قبلې ته شا کړه
هلـته قبـرد ( تـائي ) کانـو کی جـوړ که
د لتــه تـه ئې پـه پـاسـتـه قـالين پاتاکړه


پاتا - فاتحه اخيستل
کندهار جون ۲۰۱۳

زما په برخه چي دلبر د جفا خوی کړه
په گریوان مي را روان د اوښکو جوی کړه
بیله تا مي د زړه مینه ما ته نسي
خدای لپاره د وصال دي راته روی کړه
یاره ستا و مهمانۍ ته مي له سترگو
سره یاقوت مي د گریوان له پاسه توی کړه
دا زخمي زخمي زړگۍ به پرې رفو کړم
که مي لاس کي ستن دوصل تارد موی کړه
همیشه چي له گلبڼه سنبل راوړې
د ( تائي ) غیږه کي خپور د زلفو بوی کړه

مالمو - سویدن جون - ۱۹۹۵

زیبـا سترگي که راپـورتـه  پـه تمکیـن سه
توري زلفي پر رخساربانده چین چین سه
بې پـروا  وتـور پیـکي تـه دي دا وا یـه
د سیـنې و ســـم گـــذار تـه جبیـن سه
یـوه ډکـه د ســاقي پـیالـــه نوشـــي کړه
بیا د تاک غوندي سینه پروت پرزمین سه
دا گلـــونـه رنـگا رنـــگ تــــازه چمـن کي
مخ گلاب ، شونډي انار زلـف یاسمین سه
هله پوره د ( تـائي )  پـه تـنده اورسي
پـر رخســار که دي دخط غبـار راشین سه

کوپن هاگن ښار  ـ ډنمارک
جولائ   ۱۹۹۶ ـ




زندگي مي سپلنی شه
خو پياله ډکه له می شه
بهاربه د ميو وخت دی
ډک جامونه پياپی شه
يو آهنگ د مطرب شرنگ شه
د ساقي دلاس بنگړی شه
د شرابو په دوه خُمه
زماعقل ليونی شه
هسي مست که په سرولبو
د ( تا ئي) پورته زگيروی شه

نوی ډهلی فبرور ۲۰۱۱


زه دي وينم شوخي سترګي باده نوشه
په ګلګون شراب چي مست ګرځې پرجوشه
بازار هسي زور اخيستئ دئ د ميو
مُحتسب د خُم په خواکي پروت خاموشه
يو قطره لکه شبنم پر ګل غوړيو
په ژړا راغلم د ګلو تر آغوشه
د بدن ويني مي ټوله ښيښه اخلي
چي د تاک غوندي ايستاد نه شم بې دوشه
هيڅ په فکر ئې ( تا ئي ) د مستئ نه ؤ
شېخ چې وليد په خلوت کي پروت مدهوشه

ارغنداب ، کندهار ـ افغانستان




زه چي ناست يم په محفل کي دي مدهوشه
ستا د خُم له ډکه جامه مى فروشه
بلي بلي لمبې پورته له سينې دي
د سرو ميوپه پياله ئې که خاموشه
ياقوت ويني د ځيگر ستا په طلب خوري
ټول رندان درته زنگيرۍ له خروشه
د بلبل چغار چي مست په چمن ويني
د بورا په وزر گل شه پرده پوشه
هر يو ټال چي د رباب تر کوگل وزي
د ( تائي ) د سوي اهه له اغوشه

پراگ ، د چيک جمهوريت
جون ۱۹۹۸



زه دي ناست يم په قطار کي پياله وېشه
په لبريزه پيمانه راسه نژدې شه
بادامي لانده ليمه څاڅي گلاب ته
څڅوي قطره قطره بهار همېشه
يونظرسه دغنچې وشگفتن ته
سره ياقوتو ته جاريږه مست دروېشه
د خوښۍ جامه هغوی څنگه په تن کا
چي خبر وي د اسمان له تېره نېشه
ها ! ساقي سره ( تائي ) غاړه غړئ سه
چي صدف ته جام نيولی لب ئې زبېشه

هانو ، جرمنی اگست ۱۹۹۷



زيباسترگي كه را پورته شوخ نگا كه
دغه مږه كاته دی جارسم جنگ برپا كه
بيا ورږمه سه د سهار په بڼ دگلو
د اميد غوټۍ مي يو پر بله واكه
يوځل شمعه سه دميني اوردي بل كه
د پتنگ پشان ځواني مي نيمه خواكه
دزړه ويني چي مي تولي پرجوش راسي
هر كاته دي تيره تيغ د كربلا كه
هر هر چاؤ ته كه رند دميخانې ئې
د تائي غيږی ته مست راسه خندا كه

حضرت جي بابا ـ كندهارافغانستان
فبروري ۲۰۱۸

زما ربه راپوره مي دغه مراد که
د جانان په ګرمه غېږه کي مي ښاد که
بس سينه کي مي د ميني اور رابل که
بيا د عشق په مدرسه کي مي استاد که
يو رونې څاڅکی د شبنم پر مخ دګلو
هسکه غاړه مي پر پانه دشمشاد که
دسېلاب پشان چې زړه له نقصان ډک وي
ورک دهغه شيخ زاهد بيخ ؤ بنياد که
همېشه چي په خدمت کي آسيا شم
دا سينه د ( تائي ) سخته تر فولاد که

کندهار رستورانت ، نورنبرگ ښار ـ جرمني
جون ۱۹۹۸

<u>زه رنځور یم دعشق په علاج مي تلوار کړه      ساقي ماته یوجام علیحده را تیار کړه</u>

زِ- زړه مي سل ځایه ته په اره را اره کړه      بیا مي جوړه دزړه څه پیکي ته شانه کړه
یو ځل بیا دي پېکۍ الو ول په رخسار کړه      ساقي ماته یوجام علیحده را تیار کړه

بِ - برائي مي آشنا سپینه خوله راته راکړه      ول د زلفو ئي پټ د رخسار څه رنا کړه
راته ډکه ساقي دسرو میو ښیښه کړه      بیا مي جوړه دزړه څه پیکي ته شانه کړه
یو ځل بیا دي پېکۍ الو ول په رخسار کړه      ساقي ماته یوجام علیحده را تیار کړه

يِ- یو په یو ئې که پرې ټول رګونه دپاسه      هله زړه د سینې په منګولو راباسه
په لړمون کي مي پټ د انګورو دانه کړه      بیا مي جوړه د زړه څه پیکي ته شانه کړه
جام د میو لبریز آماده تر سهار کړه      ساقي ماته یوجام علیحده را تیار کړه


دِ- دغه ډکي پیالي دي د خم پېماني کړه      دارندان چي دي ناست ټوله مست رادلي کړه
یوځل زړه له سینې مي په خم راغوټه کړه      بیا مي جوړه دزړه څه پیکي ته شانه کړه
د شرابو ګرمي د صدفو بازار کړه      ساقي ماته یوجام علیحده را تیار کړه

هِـ - همېشه ئې نشه د رندانوقطارکي      راسه کښینه ( تائي ) نن د خُم په کنارکي
مطرب کش که شهبازداغزل مي نغمه کړه      بیا مي جوړه د زړه څه پیکي ته شانه کړه
ستا په څنګ کي د خُم ګل ښکاره دبهارکړه      ساقي ماته یوجام علیحده را تیار کړه

## دیارانو مجلس ، ارعنداب دهلې میله

زړه مي ډک ښــاخ د انـګور که
پــه نـکاح مي د تـــاک لـور که
بـیا بــه زوم د ښـکلي تـاک سم
سـاقـي پــوه مي پـه دستورکه
یــو ځـل ول د زلـفــو تـاؤ که
را تـــه جـوړ دار د منصورکه
د شـــــرابـو پــه دوه خـُمـه
زمـــا سیـــنه د اور تـنـــورکه
همــــیشه راځــه پــرســان تـه
دا طبـیـب ( تــائي ) رنځـورکه

ونیسیا ـ ایټالیا            اګست   ۲۰۱۳



زړه زما ټوټې ټوټې که
دا ټوټې وړې وړې که
برخه برخه ئې جلا که
اور د مینې په پسې که
یوه برخه ترې را واخله
په سرو اوښکوکې خشتې که
د بېلتون مالګه پر پاش که
په لړمون کي ئي پخې که
هله وایه ( تائي ) ته
خدای دي ګل زما د سینې که

دغزني ښار ـ دپسرلي موسم
دکابل سفر دملګروسره

زړه مـي هــلـه سـوه دنـيا تـولـه تـاريـکه
يـار چي کـش کـړه پـه آبـرو د قــلـم ليکه
بې وسي مي درخسارپه خط کي ليک وه
مـا چـي و کتـئ دا خــط لـيـکه پــه لـيـکه
يـو يـو مار مي د سيـنــې پـه ربـاط ولـيد
ســرئې ايښئ ؤ د نــاز پـــه مـلا بـاريکه
داچي وران ئې پـه جبـين پـيکئ نـسيم کړ
سم ئې پـورتــه سوه شـعلـه له زيـبا ټيــکه
هــر ســـهار لــکه ( تائي ) په جام د مـيو
د سـاقي ډکــو پـيــالـو ســـره سيـالي که

هانو - جرمنی سیپټمبر ۱۹۹۹

زه بـه هیـرکړم ستـا میـګوني لبـان څنګه
توري زلفي  توري سترګي مـژګان څنګه


بـرایـي دي خـوب پـر مابـانـدي حرام کړ
نن بـه صبـرکړم د اوښـکو بـاران څـنګه

یــو نـظرد شــوخــوسترګو مي شـــفا ده
بـې دیـــدنه مي طبیــب کا درمـان څنـګه

د شبنــم پـــه څیـر پـه پټـه خوله ژړاکړم
چـي تیـریـږي پـر ماشـپـه دهجران څنګه


هـمره غـشی د (تائي ) پـه زړه ویشته سی
چـي ئـې وکاږی حســاب پـه دیـوان څنـګه

د ادیسه ښار ـ اوکراین       اګست     ۲۰۰۷



زړه مي تل پوښته له حاله
ای د زړو مسته ملاله
بهار گل در ته خجل دئ
ستا د حسن له جماله
یو هلال ئې تصویر واخیست
ستا نرۍ ورځو له خیاله
دا دسترگو کرشمې دي
کړي سینه لړمون پایماله
هریوغم دي جدا وکړه
د ( تائي ) سینه کي ځاله

د دبی ښار جولائ ۲۰۱۲



زلــفي ولــونــه دي پــه ميـنــه تــاؤ وولــه
پــرجـبين به وي  پــريـشــان تــوره كـاكـله
بـوسه واربـه دي هـرپـانې تـه لـمركوزؤ
چــي شـبنـم بـه دى سـهار ولاړ له بـغلـه
يونـگاه ته چي دي ناست دخم په خوا دى
مشـكيـن خـال ته نـظروكـړه  گلاب گله
د لالـه غـونـدي چـي ووزي لـــه دې بنـه
داغ بـه تـور پـه زړه لري تـربـل منـزله
هـرحبـاب دي پټـه خـوله څـپه نـوشي كا
د ( تائي ) پـه زړگي نـازكـوه سـاحلـه


پيښور ، پاكستان ـ مارچ ۱۹۹۸

زړه مي تاغوندي دلبر لري خوش رنګه
سپــينه خـوله ؤ سـره لبـان ياقـوتي رنـګه
بـاغ د حـُسـن چي نسيم د سهار راوړي
د خـولګۍ غـوټۍ دي وسپړي سل رنـګه
يا قوتي لباس ئې واغـوست په شـنو پاڼو
د انـــارو پــه وجـود سـوه جـامه تنګه
دا دميــني پــه لمــبو کي چي سـوځيږم
دا دســـتور مي دی را وړی له پتــنګه
هسي رنګه چي ( تائي ) په مستي ناڅي
جام له ميو په سيالي ناست دی له بنـګه

منزلباغ جاده ، کندهار
دسمبر ۲۰۰۶


زما آه چي له سينې ځي نفس تنګه
په دې آه مي آسمان ولويږي له جنګه
بلبلان چي د چمن په پرواز راغله
سروګلونوکړ لباس زمرد رنګه
ياد ئې تل د آتشي شوندو لمبه ده
د سره اوربوسه ئې زده کړ له پتنګه
دابه وائې د سهار غوټۍ سپړيږي
چي پالنګ کي غځيده کا شوخ وشنګه
هغه شپه چي تائي يارسره ميلمه ؤ
مست پر سپينه سينه راغلې تورلونګه

کراچي ، پاکستان مارچ ـ ۱۹۸۶



زما لاره نن يوه سوه دا ستا بله
نسم تاته رسيداى شوخه بلبله
برايي چي مي په خوب كي دلبر وليد
لكه زركه ما په سروستركو ژړله
يو يو غشئ د كمان يې خطا نه ؤ
پر سينه سينه چي زما ئې اوروله
دا خندا كي مي ملګرئ د خندا وې
په ژړا مي ولي ولاړې له بغله
هسي اورد بيلتانه تائى پرزړه وړي
لكه شمعه چي پرسروړي لمبه بله

د هانوښار - جرمنی ۰
۲۰۰۳ سپټمبر



زیبا یارچي قدم واخیست و چمن ته
غوټۍ وسپړی ګریوان و شگفتن ته
بله شمعه پر سر اورمحفل ته راغله
د پتنگ سره ملگرې سوه سوختن ته
یاره دا خو ستا د حُسن تجلي ده
چي طوطیان راغله دقندوجوئیدن ته
دا په شنوپاڼوکي نغښتئ گوهرپریووت
که نازک لباس ئې راوړ گلبدن ته
هر یو ول چې په کنارد لبو پریوزي
د ( تائي ) په جام باده سي وریختن ته


فرانکفورت ښار ـ جرمنی جون ۲۰۱۱

زړه مي پټ خپله قصه راته کوله
ما بلا په ځان قبوله کړه پخپله
بې کاږه بخته به نه وي هسي چاري
رنګينه ګلا نو توره کړه بلبله
يو پرهارمي لاروغ نه وي بيا زخمي سم
هسي نه چي زه زخمي وم له اوله
دا د شمع و ځان سوزيه ته چي ګورم
رګ پر رګ مي په وجود کا لمبه بله
همسايه كه څنګ پرڅنګ (تائي) ويارسو
لکه دوې سترګې يوځاي نه سوه هيڅکله

قرغه ـ کابل

زه چي ستا دسپين مخ په نګاه سمه
ګل لکه نرګس ډک له حيا سمه
بند په بند شانه غوندي اره اره
وصل چي په زلفو د آشنا سمه
يمه د ماهي په ښير په اور کباب
مرګ ته بې تکبيره په رضا سمه
دا ځلي که ورک سومه له تاڅخه
بيا به دوباره بيرته پيدا سمه
هرښکلئ مي ښخي کړي منګل په زړه
پښه خوله( تائي ) لکه حنا سمه

د کيف ښار ـ اوکراين
اګست ۲۰۰۷



زه چه داستا نـازکي شونـډي تکي سرې اخلمه
ګويـا پتنګ پـشان بـوسه له سـرې لمبې اخلمه
بيا د رګـو څه پوليـتې وينـو څـه تيل جوړه وم
د زړه خلوت تـه درخـسار بـلی ډيـــوې اخـلمه
يـاردرخسار پـر خـزانه دي ښـاماران پيـره دار
څنـګه بـه ول د تـــورو زلـفـو لـه سينې اخـلمه
داسپنه خوله دي ميخانه شونډي دي جام دشراب
نن دي سـاقي لـه ميـخانې ډکي پـيا لي اخـلمه
هيڅ مي شـفا په مرهم نه مومي تائي زخمونه
کـــله دارو د طبيـــبانو لـــه نـسخې اخلــمه


بوداپست ـ هنګری ۲۰۰۷ اګست

زکات د سپيني خولې ته انتظار وکم که نه
په دې قزاکو سترګو اعتبار وکم که نه
بېګاه چې مي د ميو پېمانې دي تشي کړي
نن بيا د خم په دور څه خمار وکم که نه
يو ځلي دي د سترګو تر کونجو راته نظر که
د مخ په آئينه کي دي سينګار وکم که نه
دنيمي شپې په خواچي دي ول ول پرسينه راسي
انتظار دي درسته شپه د سپين رخسار وکم که نه
هرول د تورو زلفو د تائي د زړه په کورکي
په بڼ کي د سنبلو دي دربار وکم که نه

ده خواجه . کندهار ثور مياشت ۱۳۸۹

زړه يې راغلبـيل كـړ دا دوه رنګه زمـانه
وينـم د شيـخ لاس كي د ســروميـو پـيمانه
بــويـه د ګل راغــئ پـه چمن د نـوبـهار
ســازه كـړه بلــبلو پــر سرو ګلو تـرانه
يو اور د هـجران دی بل غـمونه دجـانان
مه كړه خـدايه مــه كړه دا غـمونه بيګانه
درسته شـپه فغان كړم دفراق له دردوغمه
ژاړمـه ســوځيږم لـكــه شـــمع وپـروانه
هره شپه ئې لوند وي بالښت په ګرمواوښكو
څنـګه ( تـائي ) وباسی داسـترګی دوګانه

کابل - افغانستان          مارچ ۲۰۱۱



زما سینه کي میلمانه دي
ستا یادونه ستا غمونه
باسي باسي له کو ګله
تل ساړه ساړه آهونه
یوځپه ځپه سیلاب سي
د کلونو یاد یادونه
دا د ښکلو ستر د ستوردی
چي پر زړو ایبردي داغونه
همره داغ ( تائي ) منلی
چي تري جوړ شوه کتابونه

کل کاجی ، نوی دهلی - هندوستان
مارچ ۲۰۱۱

زانګي په هرتار کې دعشاقو زړونه زړونه
سپین مخ چي پریشان کا ستا دتورو زلفو ولونه

بس که په تندي دي نور د قهر غوټه مه بړده
ویره لړ په کارده د عاشق له شواخونه

یا دي مستي سترګي دي بانه مي ترزړه کاږي
یا دي اوږدې زلفي د یلدا د شپې یادونه

دا میګوني شونډي دي ډک جام د میخانې دي
نه شي د ساقي له خمه هسي شرابونه

هره شپه غرقیږم په ګرداب دګرمو اوښکو
خورمه ( تائي ) خورمه د فلک کاږه څرخونه

پراګ ـ دچیک جمهوریت جون ۲۰۰۷

زرزر ځله که څرخ تیز کا خنجرونه
لا تیرئ کا ستا مژګان تیره سرونه
بله شمع چي د ګل په شان لمبې کا
پروانه لکه بلبل کا پروازونه
یار به ماته جام د لبو را عطا کا
ښکلیدای که سره لبان په پیغامونه
د یوی ښاخې په تن کي به ئې وینې
هم اغزی ؤ هم غنچې هم سره ګلونه
هره شپه ګوره ( تائي ) رخسارد ښکلو
شپه کي ګرم وي د شمعي محفلونه

بخاریست - رومانیا
اګست ۲۰۰۷

زلفو په ګریوان چي ول په ول وغوړاوه
مست ئې په بوستان کي تور سنبل وغوړاوه
بڼ چي ئی دحسن د بهارپه غیږ کي پرانیست
ګل ئې په چغارو د بلبل وغوړاوه
یار چي مي له نازه دواړي لبي آتشي کړې
ښاخ ئې د انارو یو پر بل وغوړاوه
دار ئې د منصورراته د مینی په رازونغښت
شوخ چې پرجبین باندي کاکل وغوړاوه
هرببېت ئې شانه بوله ( تائي) د تورو زلفو
پانه د دیوان چي نن غزل وغوړاوه

منرلباغ جاده ـ کندهار
جولای ۲۰۱۱

زلـفي دي نـــګاره ول پـه ول راخـوځـوه
زړه مي پـه هرول کي په وروورو رازنګوه

بل دي کا اورونــه په رګو دمینـي رنـځ دي
راســه ځنګ تـه راسه شپه پــه وصل رڼوه

یــو دي سپین رخســارکه لـــه پلوه نمـایان
بــل دي تـورپیکی پـه جبـین تـل راغـوړا وه

دا دي مـیلمه وینمـه پـر زړه داغ دهـجران
بـس که ازار بـس که نـور ازار مـه ټــولـوه

هـمره چي تـائي دي په فراق کي کـړه ولـۍ
یــوځـلي اغــیار هـــم پـه دې اور وکـړا وه

ستاياد هالنډ ـ امستردم
سپټمبر ۲۰۰۰

زه چي جام د شـراب غـواړم لـه دلـبره
و پيـالـوته بـه ئې ناسـت يم تـرسـحره
بيـا ئې و وينـم تـور ول چـاپيرتـر لبو
لکه لـيـري چي له اور شـې خاکسـتره
يـولـحظه دا ستـا د سـترګو له شـاهينه
پـه پـرواز نـه ځـي زما د زړه کـوتره
دغـه ستـا د ليـونۍ ميـني اثـر دی
چي ګريوان په اوښکولوندوړم ترګودره
هـميـشه چـي دي د لـبو ميـنوشي کا
ستا ( تـائي ) کلـه آرام کا بې ســاغره

هانو ښار - جرمنی زما شخصي باغچه
اګست ۲۰۱۷

دا چې و وینم ستا زلفي ترکمره
زه دي واخلم ډک جامونه مکرره
زیبا شونډي چې ترول یاقوتي وینم
بلندي گوره له اور او خاکستره
مسته مسته په سایه د حجاب راسه
یاد مي ساته په نازناز لکه کوتره
سروه قده سیمین رویه سنبل مویه
د لبرخویه شوخ وشنگه شوخ پیکره
په قُل قُل سره تائي پیاله نوشي کړي
هر پی مخی ورته جام ږدي لب شکره

هانو ښار ـ جرمنی

زما په زړه دي سترګو د نازاورولګاوه
اور ئې په سينه کي لور په لور ولګاوه

بڼ کي د سروګلو د بلبلو په چغارو
سرو نازکو شونډو دي لا نور ولګاوه

يار راته د ميني په قيصه کي صبر ووايه
ماچي ئې په درکي سرنسکور ولګاوه

دا دخط لښکري چي ناڅاپه پررخسار شوې
اور ئي مېخانه کي ښه په زور ولګاوه

هلته ئې لمبې د ميني پور ته شوي آسمان ته
( تائي) چي مړاوه هجر به نور ولګاوه

ده خواجه کندهار ۱۳۹۲ ثورمياشت

زړه تـه زمــا وګـوره  خپل زړه تــه د ي ووايـه
سـترګو ته مي څه ګورى سترګو ته د ي ووايـه
بـــاد د سبا راغـئ  مشــكو نــــرخ آرزانـه سو
وائې خيست د ولـونـو بوى زلـفو تـه د ى ووايــه
يـــم د خُـم پـه خــواكي نـــاست د ميخانې خُـمار
جـــام د مــيو راوړه  شـــــونډو تـــه د ي ووايـه
دادى د بـهارمـوســم سپړي د نــــرګس غـوټـۍ
ورو بـــاڼو راپـورتـه كه سـترګو تـه د ي ووايـه
هـر مـوج ئـې طـوفان لري سـتړى دسـينې څـپې
غيـږ تـه د ( تـائي ) راسئ څـڼو تــه د ي ووايـه


الماس كلينک  كندهار ـ افغانستان
دسمبر   ـ   ۲۰۱۴

زړه مي ستا و زړه تـه چي د ميني ارمان و وايه
ڎاڎکئ څاڅـکئ ويـنومې وتـاتـه قـربان و وايه
بيـا دي ورته جنگ د خمارو سترگورا ياد سي
غـشي د مـژگانو دي آبـــرو تــــه کـمان ووايه
يـو ځلي وريـاد کا واړه غـوړشکي ستا دزلفوهم
را چي سي ځيـگرتـه ئې پـيچلی طـوفان ووايه
دا د ميـــخانې د خُم پـــه دور چي زنگيړي تل
ټول واړو رنــدانوتـه د ميـــو مســــــتان ووايه
هيڅ علاج ئې نسـته بېله ستـا له شوخوسترگوڅه
رازچې په سينه کي ( تائي ) زړه ته پټهان ووايه

منزل باغ جاده ، کندهار ـ افغانستان

زه بـه دي څنـګه هیـروم  خـولې خـولې زړګیه
پټ پــه سینه کي دي ساتم لـه زمانــې زړګیه
بیـا لکه مست دمېخانې سوې د رنـدانو سـالار
تـل د سـاقي لــه خُــمه اخلـې پـــیمانې زړګیه
یاد به دي تل وي باریک خطه درخسارپه صفحه
کـه د څراغ پــشانــي بلي کــړی لمبې زړګیه
دا د شـانې پـشــان ټوټـه ټوټـه بـدن دي قـربان
ته چي پـه غـم کي ئې د زلفو نیمي شپې زړګیه
هم دي آرمان هم دي مقام دئ د ځګرپه کورکي
(تـائي )  د ویــنو پـه قسمت کي د سینې زړګیه

مونـا کـو ـ اروپا        جولای ـ ۲۰۱۳




زیبا زلفي دي اوږدې سوې ترزمینه
د فرهاد نعره په غره کي سوه شیرینه
بلبلان ئي زمزمه د ګل پرښاخ کا
چي ئې ولیده په بڼ کي تن سیمینه
یو یو ول ئی د زم زم پرچینه پریوت
پری صفا سوه د انار پیاله رنګینه
داچې ولیده سینه ستا په ګریوان کي
آسمان بدرکي ښکاره کړه سپوږمۍ سپینه
هغه دم چي ئې د مینی ابتدا کړه
توئ کړه توئ کړه تائي اوښکو سره وینه

هانو ـ جرمنی

زرکي بـــيا په سيل راغلې لــه کهساره
د فـرهـاد خــون جگــرراوړي تـرښـاره
بــاده راســه د چــمن تـر گـلـو تـاؤ سـه
په مضمون د خـط مي پـوه که له اسراره
يــوه پـــانهــه لــه شــــيــرين وطـنــه راوړه
گـــلاب گـل ؤ انــــارگـل لــه کـنـدهـــاره
د ســاقي د خـُـم لــه ميـو ډک دريـاب ســه
د مـطـرب پـر پنـجه ناست لــيونئ تـاره
هره شپه چې د تائي په وينو سرې کړي
پر منگول ئې حِـنا کـښـېږدي يار آبـداره

داستانبول هوائي ډگر ـ ترکيه




زلفو ول دي په نازواکړ د دلبرله سپین رخساره
ملائم نسیمه راغلې د سینې تر زیبا هاره
بانه وچ له انتظاره د زابل بادام له جوشه
د انار په مینه مسته اوس راځه تر کندهاره
یا خو جام د شراب راکه یا پیاله سپینه له بنگو
خوښ یم غېږکي دي نشه سم سرمي ایښئ ترسهاره
دغوټۍ د یوې پاڼي چي نصیب مي پکښي نه ؤ
خلگو یوړې گېډۍ مستي ستا دحُسن له گلزاره
هم دي اوردهجر بل دی هم جداسوم له همزولو
د تائي د زړه مرغۍ دي اوس پروازکا بې قطاره

د قرغي بند کابل ـ جوزا میاشت ۲۰۰۴

زما په زړه کي د مستئ بزم پيدا که
بيا دي شوندې د ساًقي ډکه ميناکه
بيلتانه دي هسي رنگ په تن ضعيف کړم
چي انارته رسيداى نه سم بې تاکه
يوه مسته د پېکي څپه خپره که
سم د مشکو په بازار جوړه غوغاکه
د سحر نسيمه ورو په چمن را سه
د اميد غوټى په نرمه بوسه وا که
هره پانه دي ( تائي ) له آتشيه
د غنچې گريوان پاره کړ سينه چاکه

دارغنداب د توتو ميله .. کندهار



زر داغونه مي سینه کي په گریان سوه
په ځیگرچي بانه غشي له کمان سوه
بدن واخیست دلاله تصویرله شوندو
په زړه داغ له بڼه ووت په دامان سوه
یارمي ولیدی شین خال په میان د ورځو
رانه هیر هلال و ستوری د آسمان سوه
د جانان د سپین رخسار جلوه سوه پورته
چي ناتوانه ورته ښکلي د جهان سوه
هله خوښ اوسه ( تائي ) دیار راتګ ته
چي د بڼ واړه ګلونه ترې قربان سوه

هانو ـ جرمنی

زما مینه چي د یار په تور کاکل سوه
په چمن کي پخه برخه د سنبل سوه
بېهوده خبري مه وایه زاهده
نوره ډکه مي کاسه د تحمل سوه
یار مي نه گوري ژړا د زړه په وینو
غلغله له چمن پورته د بلبل سوه
د فانوس په کور کي بل یم لکه شمع
په محفل کي مي ژوندتوله سوځېدل سوه
همېشه چي ئې له غمه سرگردان ئې
تائي ټوله کهکشان دي نقش محل سوه

ستایاد دفرانکفورت ښار ـ جرمنی

زمـا د زړه تـنده چي ماتــه پـه شراب شوه
مشــغولا مي لا د حـُسن پــه کـــتاب شوه
برائي مي هـومره جـام له ساقي نوش کړه
زړه  سينه مي ټول په ميوکي غرقاب شوه
يار پـــه شــپه چي د مهتاب په آب ؤتـاب ؤ
دواړه لاســه مې د زلـــفو پــه تـــناب شوه
داچي سپين مـړونـد ئې سر زمابالـښت کړ
زلـفـوولـونه ئې زما پــرمخ سيـلاب شوه
هســـي ډوب چي شـــوم د شوخو پـه کتـلو
پـــه  تائي  دي ويـره ډيـره د قصاب شـوه


داستانبول هوائي ډگر ـ ترکيه ۲۰۲۰ م

زیب زینت د زني خال د دلبر گوره
د ساقي د میخانې قلندرگوره
بیا لښکري دي د خط پررخسارراغلې
خال دي مست ددې لښکرو افسر گوره
یار چي بله د رخسار شمعه کړه شپو کي
په تجل ئې زنخدان منور گوره
دا ښایست ئې په صفحه د رخسار کېښود
که اذان باندي بلال په منبر گوره
هسي ناڅي لکه سپند تائي سوختن ته
مسته پانه ئې د یوان سمندر گوره

کابل ـ افغانستان


زړګۍ بــه پــه نـڅاکي تـخـنوم لــکه نغمه
پـــه تـــار کی د مطـرب ئې نـڅوم لـکه نغمه
بلبل غوندي پرواز چي دغنچې پـه لمن وینم
هـــرپـــانـه د امیـــد ئې غـوړوم لـکه نغمه
یو د حسن خیـال ئې راته جوړدمیني ټال سي
کـوګل کـــي د رباب ئـــې لټــوم لـکه نغمه
دشپـې پـه تـاریکه کي دغنچې په لمن نغښتۍ
هـر ځـاڅـکۍ د شـبـنم ئې لمسوم لـکه نغمه
هر درد د تائي چي د هجران په پرده راسي
نـاوک بــه ئې مـطـربــه ښـکلوم لــکه نغمه

د هانو ښاري روعتون ـ جرمني



زيرۍ ستا د راتلوڅکه پر ما کيږ ي
دواړه سترګي چي مي سرپرسرر پيږي
بَل مي اور د عاشقۍ په سينه هسي
چي د ژمي په ښيله مي ګرمي کيږي
يو د بله شوخي سترګي په سيالي کي
ګوره دوې بني په يو کور کي اوسيږي
دا خو ښه دئ د هجران په داغو شين سو
اوس خو لويه فيروزه له زړه جوړيږي
هر يو رند د ميخانې به پرې خفه سي
دا ( تائي ) چي ئې په مرګ ځني بيليږي

ستا ياد هانو ـ جرمنی
جولائ ۲۰۱۳



زما په زړه کي چي د میني اور بلیږي
لکه شمع وار په وار ئې کور نړیږي
بیا به تاؤ دسپین رخسار له ګرمۍ واخلي
ول ول زلفي چي ګریوان ته را رسیږي
یو د یدن ئې زما زړه کله آرام کا
مګرسرې شونډي د یار راته مسیږي
د تنګ لاس فکر مي مه کوه آسمانه
زړه مي خُم غوندي سرومیو ته پراخیږي
همیشه کړم خاکستر رانجه د سترګو
سپلني چي د ( تائي ) یار ته دودیږي

ستایاد دهامبورګ ښار ، جرمنی
مارچ ۱۹۹۶

زلـفو ول چي و رخسار ته بې پروا ځي
عندلیـــب دی تـازه بڼ لــره تـنـها ځي
بـوی د زلـفـو ئې نسیم پـه څپو راوست
یـــا کاروان د نـافـه مشــکو له خُتا ځي
یـا ســاقي زما پـه وار جـامونـه تش سوه
یـــا مـي زړه لــه ډکه خُـــمه بیـنوا ځي
د ګلرخ چي نیم نـظر پــه عاشــق وسي
څه حاجت دی چي و دَم تې مسیحا ځي
همېـــشه ( تائي ) د تــاک لــور و دوله
اوس د رزلــرګئ تـابـوت لــره زما ځي

ونیسیا - ایټالیا جولای ۲۰۱۳

زړه مي په سينه کي په تاب نه راځي
مخ ته مي د ميني ګلاب نه راځي
بيا مي کور د صبر طوفاني ښکاري
موج د ګرمو اوښکو رکاب نه راځي
يمه بې نصيب دمېخانې خُمار
سرې سترګي ساقي او شراب نه راځي
دا د زړګي زخم می ناسور سو جوړ
بوئ ئې له سينې د کباب نه راځي
هلته چي ( تائي ) و ياريوځاي وه ناست
بږغ د هغه ځای د رباب نه راځي

يارانه شفاخانه کندهار

زه د زلفو هغه ول یم چې رخسار باندې راځې
هغه جام د مېخانې یم چې خمار باندې راځې
بل څه نه یم بېله میني د محراب په کناروکي
زې د نور هغه زره یم چې عطار باندې راځې
یم نغمه د مستی نغښتې په صفحه د زیروبم کې
دمطرب هغه شهبازیم چې پر تار باندې راځې
دل ، جګر په مبخ پېیلی په بازارد قصابی کي
هغه زړه د قناری یم چې پر هارباندي راځې
هسې ډوب سم په فکروکي د تائې په پرېشانیه
د فلک ناخوالې ټولې وار په وار باندې راځې

عطار ـ دعطارد ستوریٔ


هانو ـ جرمنی اګست ۲۰۱۶

زړه مي سوځي سينه سوځي ګريوان سوځي
ستـــا د هـجـر اور مي هـسي بـريان سو ځي
بــل اورونــه مـي تـرخـولې لـوګۍ رابــاسي
آه مي ســوځي نـــالـــه ســوځي زبـان سوځي
يــوه سـره لمبـه را تــاوٴ مي پـــر وجـــود ده
رګ مي سوځي غوښـه هم استخوان سوځي
دا د يــــار د آتــشي شــونـــــډانـــــو اور دئ
شعـر مي سـوځي قـلم سـوځي ديـوان سوځي
هســي پټ د ( تائي ) زړه سيـنه کي سپند سو
سپند ګـردان ئې د خوږمن په درمان سوځي

هانو - جرمنی     نومبر - ۲۰۱۱

زلفو کـي دي لاري د شـانـې ځـي وراځـي
ګـوتـي پـه سینـګار د مـشاطې ځـي وراځي
بـوی د میو راغـی د شـیخـانـو لــه محـفله
ډکـي و خـلـوت تـه ئې پـیـالې ځي وراځي
یاد چي پکښي ستا دآتـشي شونډو راګرځي
بـلي مـي سیـنه کي سرې لمبې ځي وراځي
دا دي رقیـبانـو درتـه بیـاکړې څـه خبـري
د میـني جـوابـونـه دي جـوپـې ځي وراځي
هلته چي ( تائي) د میني څلۍ غېږ کي ونیو
سرې سترګي سـاقي ؤ پیماني ځي وراځي

منزلباغ - کندهار- افغانستان
اګست - ۲۰۱۰



زیبا زلفي چي گریوان ته لور په لور ځي
گویا سپینو خزانوته ښامار تورځي
بیگاه شپه چي مو پانوس ته تیروله
د هغو یاد و سینې ته شورماشورځي
یا حباب دی د سیلاب څپوراوړئ
یا د ورخو جام نرگس لره نسکورځي
دائې وینمه تور خال د زني خوا کي
که منبرته د اذان دی بلال تورځي
هریو څاڅکی ئې( تائي )عرق گلاب دی
پر رخسار چي د دلبرو پر هر لورځي

دکولن ښار ـ جرمنی

سرپــرسر تـوبې وبــاسم چي برهم ځي
زمــا تـو بي او ستا وعـدي قـدم قدم ځي
درسته شــپه مي ستا په ياد همره ژړلي
بــانه غشي دي زما لــه زړه بي نم ځي
زړه دزلفو په تورتم كي هسي ورك سو
يـو دلاري مسا فر دى پــه تـورتم ځي
پـه ښـايست دغنم رنـــگه بـه جاريږم
د جـنـــتـه پـــــه غـنــم پــسي آدم ځي
چي پـرزړه بانـدي سوراخ منلئ نه سي
هـا گوهـر بـه ( تائي ) كله تر صنم ځي

هانو ښار ـ جرمنی

زماپه شعرکي بل اور دی  سمندرپکښي پخيږي
تل تازه وي په آهونو    له سينې چي پورته کيږي
بورا شمعي ته لمبه سوه  بلبل توردعشق په اورسو
له اوبو ماهی راووت گرمو تيلو کي داغيږي
يا خوناب ښاڅي له سترګويا می ناب سوپه جامونو
يا ينه لړمون زخمي دي چي پرهارپرهار شوړيږي
داغ د هجرئې ميلمه سو پرسينه مستانه کښيناست
تورحبش دی پاچهي کا هيڅ له تخته نه کوزيږي
هرمرهم د طبيبانو ( تائی ) ايښی پر سينه دی
بې وصاله به روغ نه سي يا دلبر ورته مسيږي


هانو  -  جرمنی

یو عجیبه ښار ته راغلم
زخمي زړونه هم خرڅیږي
یو ؤ بل غېږکي نیولي
بیا ئې سرې وینې بهیږي
د زمان د ستور حیران کړم
یو را درومي بل تېرېږي
دې بازارکي چې روان دي
د بودیَ تر تال تیریږي
وائي راسه ( تائی ) راسه
هر څه دلته حلالیږي

کندهار ـ افغانستان

زړه مـي ډکــه پيـاله هسـي شـراب سوځي
لکه اوښــکه پـه سره اور چي کباب سوځي
بيـا بيـا تـاب په ولـونـو واخلي خورې زلفي
چـي گـرمي دي لــه رخسـاره حجاب سوځي
يـوسـاعـت مي مـونــده نـشي آرام زړه تــه
ســتا د حــُسن پلوشې چـي مـحراب سـوځي
د مرهـم پـه ځـير ئې مـه پـريـږده زخموته
ځاځکي ځاځکي مي داوښکو گرداب سوځي
هــر يــو خـيال تې تائي هسي شور ورکړی
پـه غــزل چــي دي د پـاڼــي کتــاب ســوځي

ده خواجه کندهار ـ افغانستان




زیبا لب په درست جهان کي یار زمادئ
ساقي خُم د میو ډک که وار زمادئ
برایي چي مي په فکر ګرځیدلې
نن په لاس د هغو زلفوتار زمادئ
یوار بیا ساقي د خُم په دور راسه
د رندانو په قطارکي وار زمادئ
درسته شپه چي ئې دخوبه ۇ ایستلئ
پدې کلي کي ناري چیغار زمادئ
هم ئې زړه هم ئې اختیار له لاسه ووت
چي دلبر وې د ( تائی ) اختیار زمادی

کل کاجی ، نوی ډهلی
فبرور ۲۰۱۱

زخمـي زړه پټ په سینه کي ښکارد چادئ
پــه خنــجر کاري کاري گـــــذار د چادئ
بلـلـي بلـي مي  سیــنــه کي لـمبې نــه دي
دغـه پــروت پـه لــړمـانـه انـگار د چادئ
یـــارکه ول پــه ول حجاب نــه وي سـاتـلی
دا د زلـــفـوتـر پــیـوست رخـسار د چادئ
دا قـدم چی پــه تـمکین د خم ترڅنگ ږدی
دغـــه رنـــد د میخـــانې خـــمار د چادئ
هـله راسـیَ ( تـائي ) زړه لـه سـینې کښلئ
ډیـر ارزان ئې خـرڅــوی پـه کار د چادئ

هانو  -  جرمنی
دسمبر  -  ۲۰۰۰



زلفي ول په سينه پروت نگار دچادئ
د ځوانئ په نشه مست دلدار دچادئ
بې موجبه ښايستو مي زړه ازاركا
سرپرسر چي ازار اخلي كار دچادئ
يو يورگ چي عليحده دزړگی پرې كا
د پيكي په تيره څوكو كار دچادئ
دلبر پټ نه دئ سينه كي زخمي كړئ
دغه سور چاودلئ زړه انار دچادئ
هيڅ نظرئې د ( تائی ) په مينه نه سي
داچي يار يار يادوي كوكار دچادئ

د فولډا ښار ـ جرمنی
جون ۲۰۰۵

زه بـه څـه وايـم چـي چيـري زمـايـاردئ
هميـش زړه مـي و د يـدن تـه بې قرار دئ
بيا به كلـــه شــی پتنګ د شمـع پـه شاني
شمعي سـر بـاندي د اور ايـښئ دستار دئ
يـو ځل راسـه دخـوږمن زړه ننداره كړه
چي اخيـسئ ئې د تـرکو سـخت ګذار دئ
د مـلا پـه څير خـطاب پـه منبر نـه كړم
مـا سينـه كي پـټ سـاتـلئ خيـال د ياردئ
هيڅ ئې شيخ پـه خلوت نـه سـي ښـكلولائ
چي تائي ښكل كړئ يارپرسپين رخساردئ

شركت ميوه ـ كندهار    نوامبر ۲۰۱۰

زلفو ول چي چپه پروت په سپين رخسار دئ
دا د شپې او ورځی يو قسم رفتار دئ
بيا ئې فوج د حُسن تاخت دزړه ميدان کړ
لونګين چي پر سينه د سهار هاردئ
يو هلال چې د ابرو په تصوير وينم
هغه يار مي ښايسته د کندهار دئ
دا چي تل ورته خجل نرګس د بڼ سو
د هغه ګلاب هميش افتخار خاردئ
هر يو ښکلی ئې منګل په زړګي ښخ کا
هر يو ول تا ئی ته جوړد دلدار دار دئ

کوپن هاګن ښار - ډنمارک
جولائ ۱۹۹۶

زیبا ول ئې پیچـیـده پیـچیــده مـار دئ
هـریـو مـارئـې علیـحـده د زړه پـرهـاردئ
بیـلتـانـه مــي کړه د صبـر روژه مـاتــــه
ګـرمـي اوښـکي مــي بـاران د نــوبـهـاردئ
یــا مـــوسـم د پــسرلی پـــه بـــڼ د ګلو
یـــا لیـلا لـــبـاس پـــه تـن ستـــاره دار دئ
درست صـورت چې دغنچې په پاڼوروغ دئ
د هغــه ښـکلي مـــي کور پـــه کنـدهار دئ
هیـڅ نـورځای د تـائي زړه کي دغـم نسته
د صیـاد پـه غبرګو غــشوکي دا ښکار دئ


الماس کلینک ـ کندهار مارچ ۲۰۱۴

زمـا آه چي د ظــالم زړګي تسـل دئ
دا دسپيـن جبـين دپاسه تور كاكل دئ
بدرګه چې پـه سـلګو كړه ګرمه مينه
ماوركړئ هـا ظالم ته اختيار خپل دئ
يـا جــلوه ئې د ورغـوي پـه حنـا سوه
يا ئې وړئ زما دوينوخيال منګول دئ
دســاقي شراب خو مــانــدي نــوشـلي
چــاليــدلئ دخـم خـواكي زماپــل دئ
هريو تـارچي ئې تـائي زړونه پيپه كا
دا خو تل د كندهارۍ ښکلواوربل دئ

الماس كلينيک كندهار اپريل ۲۰۱۴

ز ني خال ته چي دي جام د ميو خم دئ
ځکه زړه مي هسي چاک لکه قلم دئ
بيا ئې موج په سپين رخسار دخوَلو راغی
که پر گل د شگوفې قطره شبنم دئ
يو يوڅاڅکی پرگريوان له دواړو سترگو
تر لمنی مي لا تير د اوښکو نم دئ
د شرابو په نشه مي زړگی وچاؤد
دغه ستا په سرو لبانو مي قسم دئ
هيڅ ئې راست( تائي ) قامت ليدلی نه دئ
د مژگانو هر وريښته ئې پر ملا خم دئ

د هانو ښار - جرمنی ۱۹۹۸



زړه مي ډک ځـکه له غـمه د ګردون دی
چـــي مئـين پـــه بـې وفـاؤ د پـــــرون دی
بـاد چې ول د زلــفو پـورته له رخسار کړ
په شـعله ئې زړه زما سوختـه لـړمون دی
ياد چې ځاځکی د خولو ئې په زړه راسي
د ساقي د خم پـه ځېر مي ځګر خـون دی
د سنبلو پـرېـشان خيال پـه کوثـر پرېـوت
په صفحه کي ئې د خط دغه مضمون دی
هر مئين بـــه بـانـدي پـوخ سمـندر کانـدي
د تائي دشـمع پـه شـاني اورژوندون دی

الماس کلينک ـ کندهار
مارچ ۲۰۱۴

زړه زما کي چي زخمونه پټ پنهان دي
ستا د حسن تصويرونه يې درمان دي
بل سفر لکه پرکار کولای نه سي
هميشه پراته پر زړه باندي يکسان دي
يوه ورځ به دي وغاړي ته را تاؤ سي
چي ساتلي دي افعي تور ښاماران دي
دا چي زما قتل تې لاس پورته نيولئ
ښه پوهيږم چي دا ستا کاږه مژګان دي
هسي تير وتیَ تائي په وعدوپوچو
بدر شپه باندي سهار پوهيدل ګران دي

د ستهکولم ښار - سويدن
می ۱۹۹۶

زمـا شــعر خــط و خال دئ
د اولـــي شپـــې هـــلال دئ
بــله شــمــعـه د مــحـفـل ده
د پتــنـگ ســوَځــلئ بـال دئ
يـو پـېـچـلـئ مـارپـر گـنـج دئ
زيب زينت د سپين جمال دئ
د حـافـظ د کـيـف پـيـا لــه ده
خُم په څرخ کي د کولال دئ
هـم ( تائي )هـم ئـې قـلـم دئ
هـم تيـره تيغ د خوشـحال دئ

دبروسل ښار ـ بلجيم می ۱۹۹۶

د بسمل د نفس حال دی
زما شعر ئې مثال دی
د سحر پرېشان پیکي دی
بند د خط پر کنار خال دی
فوځ د حُسن د دلبر دی
یا منبر باندی بلال دی
د فلک د گوشمالیه
د خیام د فکر تال دی
هم تائي ، رباب، آهنگ دی
هم ساقي عنبرین خال دی

الماس کلینک ـ کندهار    مارچ    ۲۰۱۴

زما اوښکي چي له سترګو و ګريوان تـه را خپرې دي
پټ دنــنه تـازه سـوي د لـړمـون سکـروټي سـرې دي
بيـا مي خـُم د گرمـو اوښکو دی دغـم په جوش راغلیَ
تورو سـترګوتـه مي ګوره ددې خم په توښ سرې دي
يـوه ميـنه ده چـي کانــدي پـه عـالـم دا هسي چاري
سوځي څوك په خاموشیَ کي هـم دچاسوي نارې دي
دا کـاروان د نــافـه مشکو د خـتن د لــوري راغئ
که پرتـې پـه ګريـوان باندي د شهلا زلفي خورې دي
هيڅ توپير ئې تائي نسته که شاهي که غلا مي وي
د محمود پـه عاشقیَ کـي د ايــاز نـاز و نخرې دي

د ماين راده غاړه هانوښار ـ جرمنی

زلفي چي سهار پر سپين رخسار نسيم راوړي دي
ګل ئې د سنبلو د زمزُم چينو ته وړي دي
بوخي را ته ونيسي سرې شونډي اناري نرۍ
دا ناز ونخرې ئې بيا د کوم کلي را وړي دي
يو ځلي نرگس ته ئې د ناز په سحر وگوره
توري توري سترگي چې په تورو رنجوکړي دي
دا مي درته ووې چي تش خوند د لبو وگوره
تا خو ملا جانه اننگي ور زخمي کړي دي
هره پاڼه وينمه تازه پر ښاخ د گلو دي
دا له گلستانه څه گېډۍ ( تائي ) راوړي دي

د ماين راده غاړه هانوبنار ـ جرمنی

زیباخال چي دآبرو مینځ کي مشکین ږدي
تورپیکۍ په سپین جبین باندي چین چین ږدي
بیتابی د کوم ګلرخ ده و عاشق ته
چي تر سر لاندي ئې لیچي مرمرین ږدي
یاحبش د خُم پر دور قدم واخیست
یا پرسرو شونډانو خط خیال عنبرین ږدي
دا زخمي زړه مي هوکۍ سو د محبوبي
چی پر زخم مي مرهم یار نمکین ږدي
هسي بخت به بیا له کومه لور ی راسي
چي تائي سره دلبر سر پربالین ږدي


پراګ ـ د چیک جمهوریت
جون ۲۰۱۱

زړه زما چـــي د بڼـو غشـی صنـم ږدي
سخت داغـونه د هـجران راتـه د غم ږدي
بـې اختيـاره چي شپه روڼه کاپه عشق کي
د ګلــپـاڼی مخ بـوســه ســهار شبـنـم ږدي
يـــوځل داغ راتـــه د هـــجر پـــه ســينه کا
کلــه کلــه د طبيب پـــه شـــان مـــرهم ږدي
د زړه درده پـــه شـــدت دي نـــه پـــوهيږم
که دي څوک پر زخم مالګه يا مرهم ږدي
هغه وخت چي ئې دلبـو په جام مست سي
تـــائی کلــــه لـه مستـيه څــه قـــــلم ږدي

هانو ـ جرمنی سپټمبر ۲۰۱۱

زلفوکي اسيريم که مي ته د ځان ترخنگ کړي
راشې و محفل ته راځه ليري د زړه زنگ کړي
بيرته نه ستنيږی يــــاره ستا لښکر دحُسن
زه دي صلح غواړم ته خبری تل د جنگ کړي
يو دی ښاخ دگلو د بـــهار لـــه بڼه يو وړ
بل دي سرې منگولي بيا زما په وينورنگ کړي
داغونه دبيلتون مي د حسرت په اوښکو مينځم
ته نغمې کړې سازي د رباب پورته آهنگ کړې
هومره چي تائی ته ځيرد سترگو ترکنج گورې
غواړې چي ميلمه ئې بيا د ميني پر پالنگ کړې

هانو - جرمنی سپټمبر ۲۰۱۱




زړه مي په نـغموکي د ربـاب راڅخه وړي
عقل مي د شونډو پـه شــراب راڅخه وړي
بنـد چـي کا پــه ولـونـو کــوګل دنـنــه زلـفي
زړه مي له لړمونـه پـه شتاب راڅخه وړي
يـوطرف ساقي  بـل طرف ميګوني شونډي
دواړه لـه سينې مى زړه کباب راڅخه وړي
دا نـرګس د سترګو بــل يـي غشي د بڼــو
شــعر ؤ قـــلم ؤ هــم کتــــاب راڅخه وړي
هره ورځ په خواست چې تائي له ياره غواړي
طمـع د بـوسـې يـې د مخ آب راڅخه وړي

کندهار رستورانت
دنورنبرگ ښار   جرمنی

زمانه چې ځوانـي عمر پـه ارمان وړي
لېونيو پشـاني څيـري مي گـريوان وړي
بَل ئې اور دميـني پـوري زما پـه تن كـړ
داچې سرو نـازكو شونډو باندي پاڼ وړي
ياد ئې تل راته مشكل پـه كښي ښكاريږي
چې د هجر پـه مـحبس مي بنـديوان وړي
دا د ډكـي خـولې خندا ته چې ئې غوږسم
تـه وا ټول غـمونه زما څـه د جهان وړي
هيڅ زمرئ ئې په ځنگله كي وړلائ نه سي
د تائي زړه چې په تش كاته خوبان وړي

كندهار الماس كلينيک ۲۰۱۴



زلفي توري ول په ول چي ځنځيري کړي
پري تړلي سخت د مينی ليونی کړي
بيا چي زړونه له سيني په ځولۍ يوسي
سمدلاسه ئې رخسارته سپلنی کړي
يار خيرات د سپينی خولې په ما ونه کړ
ځکه ما باندي گُمان د ليوني کړي
د شرابو له تلخۍ زاهد ته وايه
هريوجام ئې صد هزارخوند تر گني کړي
هغه ورځ به سي قبول د يار په در کي
چي تائي د ميو جام خپل دوه مني کړي

دوه مني ( دوه منه ) کندهار کي پخوا دکيلوگرام داستعمال ترمخه من اوچارياک او سير دوزن د مقياس واحدونه وه.

کندهار ، د جدي مياشت ۱۳۹۱

زه و یار پروني ناست ؤنن یوازي ژوندون هسي
د فلك جفا ته څه کړم چي ئې جوړکړبیلتون هسي
بل اورونو ته پیدایم سپلنۍ زه له ازله
دمخ خط کي مي لوستلی چي دعشق دی مضمون هسي
یویورګ پر مستي راسي په لیدو د خوبرویانو
ټوله یو د بله وائي دی د میني قانون هسي
د یارمخ ښکلئ کتاب دئ پکښی لوله د خط کرښي
هره لیکه کي لیکلی جنون هسي مجنون هسي
هله سوځه سوځه چي سرتوره شمعی نه سې
د لاله پرزړه چي داغ دی د ( تائي ) په لړمون هسي

ستایاد ـ کویټه مشن هسپتال ۱۹۸۴

زما د میني رنځ که مات وزر د پروانې لري
جاردي ترخندا سم چي ډک جام د میخانې لري
بل به پیدانه سي په رخسارکي ښایستې نجلۍ
تاغوندي لیلا چي د شرابو پېماني لري
یم دي میخانه کي د سرومیو مخمور ناست ساقي
سرپرسرئې راکه چي نشه مي زمانې لري
داسي توري زلفي چي رخسارباندي پریشانه دي
نسته ښاماران چي هسي رنګه خزانې لري
هره شپه کړي رونه په ژړا لکه شبنم ( تائي )
څه عجیبه شورئې پټ سینه کي ترانې لري

پراګ ـ دچیک جمهوریت
می ۱۹۹۹

زړه مـــي جـام د ســاقـــي وويـني بـېمـــارشي

د يـــوه څـاڅـکي شـــرابـــومنـــت بـــــار شي

بـازار گـــرم مي دا ستـــا وصـــال پـســنـد ســو

دا چـي ســـرمـي پـــه دنـنه هــــــر بـازارشـــي

يـــو ځـل ول د زلــفـو تــاؤ پـــه رخسـار کش که

چـي دراز تــر يـــلداشـپې ئـې هـــريـــوتـــارشـي

دا چي گــرځـم ملک پـه ملک ستا پـه طلب کي

ژونـــد مي ټـــوله يـوپـــه بله ښـار پـــه ښـارشي

هــغه شـــپه ( تـــائي ) تـــه شپــه ده د شبـقـدر

چي په ځنگ کي درسته شپه پروت دخپل يارشي

د ماین راده غاړه هانوښار ـ جرمنی

زما له سترګوڅخه پاڅي جيحون هسي
که لحظه له يار جداکړم ژوندون هسي
بېخودي د سرولبانو پاته نسي
د مخ خط کي دي ليکلئ مضمون هسي
يا کباب په سيخ پيېلئ دئ ورتيږي
يا مي سوځي ستا د هجره لړمون هسي
دا چي نن په فرياد سر لکه جرس يم
له جانانه را جلا کړم پرون هسي
هيڅ توپير ئی له مجنونه سره نسي
د تائي په ازل ليک ؤ بيلتون هسي

ستاياد ـ کويټه مشن هسپتال ۱۹۸۴م

زیبا یار چي په رانجوکړې سترګي توري
په کوګل ئې ســرې لمبې کړه لې راپـوري
بیلتــانه ئې هسي چـــاري په مـا وکـړې
کلی کور مې پـه حال ژاړي هـم سرتوري
یـوځل و ګــوره پـه بڼ کي پـــه چـغار دي
ها ، بلـبـلي چي د مــیـني حـال مي ګوري
دا پـــــه کلي کي بــــالــه لېــونی نـشم
لېونـتوب خـبـرمي تــللې پـه هر لـوري
همدا اوس دي د رنځور ( تائي ) پرسان کړه
پــه سبـا بې وي ربـښکـې تــر زني پوري

مشن هسپتال ، کوئټه ـ پاکستان
۱۹۸۳ سپتمبر

زمـا پـه شان میـن شه چي دي وینه کي بل اورشي
جــوړدي پــه سینه کي پټ د میـنـي شورماشورشي
بـــاغ شــه دګلــونو پـــه ســنبلو مالا مـال شـــه
ګل دي د نـرګسو ښـایسته پـــه رنجــو تــور شي
یار راځـه په خوب کي د هـجران غمونـه وپوښـتل
غم د هـجـر یـو دی کلـه نـــور غـمونـــه نـورشي
درست صورت لمبې شي چي دي سرې شوندي رایادکړم
راکـه شـراب راکـه چـــي زړګۍ مي لږ ټکورشي
هغه وعـده دي غـواړم چي تائي تـه پـه درواغ وه
بیــا بــه امیــدونــه را پـیدا د زړه پـه کـور شي

مابنام ، دشهرنو پارک
کابل ـ افغانستان ۱۳۵۹

زلفي توري چي رخسار ته څنګ په څنګ شي
راسـي راسي وګريوان ته چنګ پـه چنګ شي
بـيــلــه تيـغه مـي د زړه ويـــني كـــا وچـي
دا چـي نـاز او مـكيزونه رنـګ پــه رنګ شي
يو هـجران بــل مـي رقيـــب آسيــا ګوره
مينځ كي زه لـكه دانــه چي سنګ په سنګ شي
دواړه ســـترګـي پـــه كـمان هسي ويشـــته كا
لــكه بني يــوه كور كي جنګ پــه جنګ شي
همـيشه ! شمـعي ( تائي ) چـي سـر ئې بـايلود
دا راغـــلـي د محـفل پــتنګ په تنــګ شي


موناكو ـ اروپا جولائ ۲۰۱۳

زړه مي يخ هله د لبو په بوسه سي
چي ئې داغ پرسپين رخسار باندي ښکاره سي
بې سوځلو به د شمع په شاني مرمه
ښه دئ ښه دئ زړه دعشق په اورسوخته سي
يو يو څاڅکئ مي داور پرسروسکروټو
د کباب په شان پر خپل وجود لمبه سي
دا زما ژړا سلګئ نه دي نو څه دي
چي ګريوان په اوښکو تر اوچکيده سي
هسي اور د عاشقئ ( تائي ) پر زړه وړي
يارخوله بل ته ورکوي غم ئې دده سي

هانو - جرمنی


زړه ئې سورئ کړ   پـه مـژګانو پـوري ؤري
چه ئې سترګي په رنـجو کړې دواړي توري
بـيــلتــانـه ئې هسـي رنـګه قـيامت راوست
نـه پـه لمر مي  طاقـت کيږی نـه په سيوري
يـــاره  ستـا تـــازه د حـسن چــــمن ويــــني
عـنـدلـيب د زړه پـرواز کا سـتـا پـه لوري
د هـــجران د شـپـی پـُرسـان کــوی دلبـره
پـه ژړا شـوې سرې سکروټې سترګي توري
هـــمره زيـاد سـوه د ( تائی ) پـرزړه غمونه
څـوك شـمـيرلئ سي د شپې دآسمان ستوري

هانو   ـ جرمنی   دروژې مبارکه مياشت
۲۰۰۱ م



زیبا زلفي چي خولو کي چکیده سي
خوش قسمت بې تر باران لاندي بیده سي
باد چې تار په تارپریشان پرسېنه خپور کا
ټول لنډي ماران تر سبب لاندي لیده سي
یو یو ځاځکی ئې ځیګرتوپاني یوسي
رګ په رګ چي په سینه کي بریده سي
د درد آه ئي نیمه شپه کلئ بیدار کا
چي په نبښ د افعي مار ځوک ګزیده سي
هر ښامار ئې تر رخسار هسي تاؤیږي
چي په سپینه ورځ تائي ته تابیده سي

فرانکفورت ښار ـ جرمنی



زیبا یار به راته راسي که به نه سي
مرور به را پخلا سي که به نه سي
برایي مي یار په خوب لیدی وخواته
دغه خوب به مي رشتیاسي که به نه سي
یارچي پټ ترسترګولاندي شوخ کاته کړه
نن به زما وخوا ته راسي که به نه سي
د زړه ویني چي رخسارؤ ته ئې ورکړم
د عشق پور به مي ادا سي که به نه سي
هره شپه د یار په یاد له سترګو درومي
( تائی ) اوښکي به دریاسي که به نه سي

ستایاد ـ کویټه   مشن هسپتال ۱۹۸۴

زلفو ول ته دي سنبل هسي حيران سي
چي تصوير ئې کهکشان باندي روان سي
بلا واخلي شعاعي خط دي د حُسن
هغه سپند چي ستا نظرته آتشدان سي
يار مي بيا د څراغ تېل کړې زما اوښکي
چي محفل ئې شعله وار هسي روښان سي
د کباب پشان پوخ نه يمه سره اورکي
چي لاله غوندي مي زړه تورله اسمان سي
هر نفس ئې مست داستان دعندليب دی
د ( تائي ) پانه چي نقش پر لبان سي

دراده غاړه دهانو ښار ـ جرمنی

زړه زماچي له خدای غوښتی دلدار راغی
شپه د هجر سوله تیره سهار راغی
بخت طالع مي سخت حاجت دزړه پوره کړ
د کلونو جدا یار په کنار راغی
یار هغه وي چي د یاره خبر واخلي
شکر شکر و پُرسان ته نګار راغی
دا پا چا د زمانې می نن غلام دی
په خوږه ژبه چي یار په گفتار راغی
هرحاجت دي ( تائی ) تل هسي پوره وي
چي په لاس د زلفو ول دي د یار راغی

ستا یاد مشن هسپتال کوئیټه
جون 1984

زړه زما چي ليونۍ سو ستا غموکي
سل بلاؤ واخيسته په تورو خولو کي
بل اورونه د هجران رانه چاپير دي
د خليل په دود مي سوځي سرولمبو کي
يار که غواړي د شرابو جام دي ډک که
ليونۍ گرځه دعشق په مدرسوکي
دا دی بيا ئې له سروسترگو اوښکي راغلې
زماچيويني تويوي يارپه چړوکي
همره زيب دي تائي پروت دی په گفتار کي
چي غزل دي آراسته سوه په پښتو کي

دروژې مياشت ۲۰۰۴ هانو ـ جرمنی

زه چي وينمه هرول ستا په سينوكي
پېچ و خم پراته د سرو په خزانوكي
بويه دا چي نن مي يار راته ساقي وائ
سره شراب ئې راكولائ په پيالو كي
يوځل پرېږده چي حجاب دي كړم لږ پورته
سپلنۍ دي سم د عشق په سرو لمبو كي
د مُلا تاويذ به چيري پرې اثركا
چي توبه د ميني نسته په توبو كي
هر شاعربه د توشيح سينگار وي كړئ
د ( تائي ) توشيح آهنگ سوه په پښتوكي


د ماين راده غاړه هانوبنار ـ جرمنی

زړه حلال مي په اختر كه د مكې
چي ادآ دي كړ طواف د مدينې
بيا حرم ته شه داخل په بدن وللئ
زړه صفآ كړه د عمرونو د كينې
يوقطره يې دسينې له پاسه كښيږ ده
د زم زم اوبه چي اخلې د چينې
د دوعا په ځاى مي ياد دميني رنځ كه
ټينګي وتړه په ګوتو نښانې
هم كعبه كي مي دلبرته سلام وايه
( تائي )غواړي د خوښۍ ډكي پيالې

دمنزلباغ جاده كندهار جون ٢٠١٢


زړه اسـیر سـو سـتـا د خال وخط دانه کي
پـه دوسـتـي دي سـوم رسـوا پـه زمانه کي
باد دهجر چي دي تــاؤ زما پر زړه سو
اور ئې بـل کړ پــټ د ننه لړمانــه کي
یـا صـدف وینم یـاقـوتو پــه بـــازارکي
یـــا تـصویـر دئ د سرو لبـو پېما نـه کي
دا چي اور ئې دهجران سیــــنه کي وژنم
سـاقي را کـه را تــه می پــه پــېمانه کي
هـــــیڅ آرام ئې ببـلـه خُـمه په څه نه سي
تل چي وینـم ( تائي ) ناست په مېخانه کي

ستا یاد مشن هسپتال کوئیټه پاکستان
مارچ ۱۹۸۳ م



زړه  په مینه هومره سترۍ دی تائي
لکه عیني د گور مړۍ دی تائي
بې حُبابه بل مثال ئې لیدای نه شي
دغمونوسیند را وړۍ دی تائي
یو کاته ئې ټول کمان غشي ترې تاؤ کړه
لا سینه کي پوروړۍ دی تائي
داپرښاخ دچمبېلي چي پریشان پروت دی
دا افعي مارزخمي کړۍ دی تائي
همیشه چي د غمونو باندي شور دی
ته وا غم په کال زو کړۍ دی تائي

زو کړی - زیږېدلی
د شپې  دوې ۲ بجې د استانبول نړیوال هوائي ډگر



زه ویار چــي سره ناست یــو په خنداکي
سپـینه خـوله هم پـه خنـداکی راته راکي
بــاده مســـته چی طلـب د مـی نـــاب کا
ډکــه ډکــه پـیمـانـه لــه خـُمـه بیا کي
یـو ئې ســترګی درګو وینــي په جوش کا
شــوخ بـانـه ئـې عــلیحده زخـم پیدا کي
درستـه شــپه د خُم پـه دور مینوشي کړي
په سهارکي بیا ځان جوړ شیخ و ملا کي
هیـځ پتـنـګ ( تائی ) لــمبوکی نـاله نه کا
عنـدلیب دی چـي غـنـچه پـه نـوا وا کي

د مائین دراده غاړه ، هانوـ مي ۱۹۹۹

زماشراب دي ديارشونډي نه انګورو په دانه کي
ساقي ډکه پياله راکه پېمانه په پېمانه کي
بد نصيب مي زړه داغدارکړلکه عين لاله ګل وي
دغه تور حبش پاچا دئ دسينې په خزانه کي
يو ګذارئې خطا نه ځي چي کمان په تير ويشته کا
هر يو وارئ ئې کاري دئ د ځګر په نښانه کي
د خليل په دود ئې وسو دهجران په سرو اورو کي
د تائي زړه خوبرويانوپټ د مينې په بانه کي
هسي تاؤ د رخسار واخله لکه ول د تورو زلفو
( تائې ) نسته فريادونه په سوختن د پروانه کي

ستا ياد - يارانه روغتون
کندهار - افغانستان

زړه وړي لــه هرچانــه چي خنـــداکوي
نــاز او مکـيـــزونـــه چـی ليـــلا کوي
بيــغمه چي ژونـدون کي له لړمـونـه سو
غــوږ نيســه ربــاب تــه څـه وينا کوي
يـــاد چـــي ئې د ســـرو لـبـو د ميو سي
ميـــنه هـــغـوی کلـــه پـــه ميـــناکوي
درسته شپه چي سوځي په لمبو کي شوخ
عشــق دئ چـــي ئې شمـــع ؤ بـــورا کوي
هميشه دخـاموشـیٔ مُهـر پـه خــوله لري
زړه د ( تـائي ) گــوره څـه غوغا کوي

زما شخصی باغچه ـ د هانوبنار ـ جرمنی
اگست ۲۰۱۰

زه بــه ښـنـګه کړم کاتـه پـه دنيـا سـترګي
چـي له مـا ښـخه جـدا دي دا سـتـا سترګي
بيـلـه يـاره چـي بـل لـور   تـه نه سـتـنيږي
هـک حيران يم چيري واړوم  دا سترګي
يـمه خـوښ چي دواړو سـتـرګو نـابيـنا سم
بــيـلـه تـا ښــخه کــه ويــنـم د چـا سترګي
داچـي پـاس دي دئ مـژګانـو لاس نيولیٰ
راڅـه غـواړي د يارئ خـونـبها  سترګي
هيـڅ د مـينـي راز تـائي  ساتـلای نه سي
ځــکه ويـنــي ئـې جـهان پـه ژړا سترګي

زما شخصي باغچه ـ هانو   ـ جرمنی
اګست    ۲۰۱۰

زماپه برخه نصیب نه سوه خوشحالي
همیشه یم د فلک په ګوشمالي
باربارتاؤ ئې درخسار له ګرمۍ واخیست
ما چی ولیدل ماران پر چمبېلي
یار که ماؤ ته ډک جام د میو را کا
په غوړو د غلامۍ به کړم والي
د یارتورنرګس چي زړونه له سینې وړي
سپین نرګس يې کله کړه لاۍ سی سیالي
همیشه وایه ( تائي ) د عشق سندري
هرغزل دي وي تر بل غزل عالي


زما شخصی باغچه ـ هانو ـ جرمنی
اګست ۲۰۱۱

زما له رنځه طبيب لاس تر زنه کښلئ
چي پر زړه يمه د زلفو مار چيچلئ
بينوا لکه بهار په انتظار کي
د ميوې په پخيدو سره وتلئ
يونګاه په کوکو سترګو راته وکه
د فراق تېغ لړمانه باندی کوټلئ
د سينګار په آئينه کي راته ګوره
ستا ليدو ته په اميد اميد راغلئ
هر اندام( تائي ) د عشق په څپو راسی
چي و دار ته شم د زلفو ورختلئ

زما شخصی باغچه ـ هانو ـ جرمنی
اګست ۲۰۱۰


زه خــوخيـال د تورو سترگو له خماره يم ايستلئ
د ســـــاقي ډكي پيـــالې لــه انــتــظاره يــم ايستلئ
بلنـد قـده ، شـكرلبـه ، دُر دنـدان شيـرين ســخنـه
تـــا د حـسن پـه لښــكرو تـل د ښـــاره يـم ايستلئ
يـو پيـچلۍ ول د زلفو د سينې له پـاسه پروت يـم
د ســحر نسيــم راوړئ لـــه رخســاره يم ايستلئ
د توربخت غمونه پرېږدم د نرگس په څېر له ښه
دا چي ستــا شـوخـو كتـلو له سينـگاره يـم ايـستلئ
هيڅ له ځانه خبر نه يم چي تائي باده نـوشي كړم
ستا مېگونو ســركو شـونـدو له اختياره يم ايستلئ

ستا ياد كراچي ـ جنوري ۱۹۸۳ م




زما چي اوښکی له گریوانه څڅېدلې
ستا په یاد کي مي له سترگو بهېدلې
باد ، د هجردي راتاؤ زما پرزړه ؤ
سرې لمبې چي په کوګل مي بلېدلې
یو په یو دي کړه د زړو خونه ویرانه
چي غوټۍ دي د ځوانۍ راغوړېدلې
دا زما په زړه دي هله خنجر ښخ کړ
په مجلس کي چي رقیب ته خندېدلې
هغه وخت دي تائي بخت د میني تور ؤ
چي پر هسي بې وفا مئېن کېدلې

ستا یاد ، مشن هسپتال کوئټه ۱۹۸۵
جنوری



زما په اوښکوتر د ميني گريوان زړه دئ
په شعله ئې آ تشين د آسمان زړه دئ
بليدل چي په فانوس کي لکه شمع
د هغوئ ارمان اوبه په جهان زړه دئ
يو مثال ئي د سرو ميو ليده نه سي
دساقي په خم کي پروت مى ناتوان زړه دئ
د گرمئ په تاؤ سينه ټوله کباب کا
چي د ميني په کاته مي د جان زړه دئ
هديره کي هلته بلي شمعي ناځي
قبرستان کي د تائي څراغان زړه دئ

هانو ـ جرمنی ۱۹۹۵ م



زړه ، يــنــه كه ســپـــلني سي
دادي هـــم تـــاتـــه لـوګي سي
بيـــله تا كه بـل تـــه ګورم
سردي پـرې زما له مغزي سي
يــو ځل مست غيــرږي ته راسه
چــي مي لـــيري پـرېشاني سي
دا چــي مـــا لـيـونئ بـــــولي
هـــا ! دي ټـولــه ليــوني سي
هـــر كـــتو تـــه صـــدقـــه دي
ځـــواني ټــولـــه د تـــائي سي

د ماين راده غاړه هانوبنار ـ جرمنى

زړه ؤ سينه پـه پـرهـارو سـوه ته به کله راسې

وروستئ سلګئ هم په وتو سوه ته به کله راسې

بڼ کي د ګلو هـر سهار چي دي سنبل نځيـږي

تــور ښاماران پرتـاويـدو سوه ته به کله راسې

يــووړه سـيلاب د اميــدونـو ارمـانـونـو دونيـا

د ژوند کښتئ په ډوبيـدو سوه ته به کله راسې

داچي بهيـږي دزړه ويني په ګريوان له سترګو

قطره قطره پـه تـوئيدو سوه ته به کله راسې

هره ورځ ويـنمه ( تائي ) لکه د شـمع پريـواته


لمبــه لمبــه په سوځيـدو سـوه تــه بــه کله راسې

د حضرت جي بابا معاينه خانه

کندهار ۲۰۱۷ م


زه در تلمه غمه ولي پریشان راغلې
څه حاجت ؤ چي په شپه د توپان راغلې
بېره نه کړې د سينې له سوي آهه
کښلې توره دي جارېږم قربان راغلې
يودي اور راباندي بل دي بل الوئ کړم
سوي زړه ته چي آهو ګرېزان راغلې
د شفق په څېر ګرمي مي سينه چوي
په سرو لبو چي د رنځ په پر سان راغلې
هر نګاه ( تا ئي ) ته تيغ د کربلا سوه
چي په ښکار مي د سينې په نښان راغلې

د ماين راده غاړه هانوښار ـ جرمنی




زاهدان درته حیران وینم خوش رنگي
هم جمله محبوبی ستا د در ملنگي
بانه پورته شوخي سترگي که له نازه
ای د ښکلوپه ټولۍ کي شوخ وشنگي
یم د میو جام نسکور کټورئ لاس کي
د رخسار له خُم دی اخلم پیالې بنگي
د هجران فوځ د سینې پرمیدان خپورسو
په تسخیر ئې د زړه خوني کړلې تنگي
ها ! ښایست چي تائی ولید کندهارکي
د ولات ښکلی وې ټول ورته بدرنگي

الماس کلینک کندهار مارچ ۲۰۱۴



زورور پــه لاس تیـره تـوره نـیولې
ګـوره بیــا د چا مــرګي لـره راکښلې
بې پروا له سیني باسي ژونـدي زړونه
بـیا کړی مالـګه د فـراق پر دوړه ولې
یـو یـو ګل دي د رخسار سبا تـازه وي
هـغـه شـپه چې وې زمـا لبـي زبیښلې
د زاهــد ، مُلا تـاویـذ بـه څـه اثرکا
چي پیـاله د عـاشـقۍ وي چـا نـوشــلې
هســي ولي پـه وعــده سولې پښېمانه
سپینه خـوله خـودي تائی ته وه ساتلې

ستا یاد مشن هسپتال کوئیټه پاکستان ۱۹۸۲ م




زړې ښځې که یو ؤ بل وي مخ پـوښلي
مستي پيغلي دي د زلفو نقاب ښکلي
بــرايي چي مــي د لــبو جام اخيستئ
نن مي تــوله ورځ شونــډان سره نښلي
يودي زلفي بل دي ورځي بل دي سترگي
يــو پــه بل توري بلاوي دي اغښلي
دا مـي يار پـه ميـنـه زړه زما آزار کړ
که فـلک مـي پر تـنـدي هسي را کښلي
هــغه شــپه دي تر قيامته سبا نـه سي
چي تائی تې ســره لبان وی وربخښلي

دکسل ښار ـ جرمنی    می ـ ۱۹۹۹

زمان څرخ هسي روان په کر و فَر دئ
آسیا سنگ ئې ریز مریز د لر و بَر دئ
بَلوي چې په محفل کې هزار شمعي
خبر کله د پتنگ په بال و پَر دئ
یو د مستو مینوشي ده په محفل کې
بل شوخي ده رقص نڅا ده شوروشَر دئ
د رندانو د مجلس هسي زینت وي
دا زیبا عروس سینگار په سیم وزَر دئ
هر سوړ آه چې د سینې له غمه وزي
د تائي دعشق داستان ئې زیرو زوَر دئ

موناکو ـ اروپا جولائ ۲۰۱۳




زلفي د آشنا چي نن پريشاني دي
ول په ول اوښتي دي پيچانی دي
بيا به يې موجونه پر سينه راسي
څوکي ئې په ولونوکي پنهانی دي
يو که له لمني مي ګريوان ته ځي
سرې اوښکي له سترګوچي رواني دي
دا د دنيا ناوې به سينګار مومي
داچي پټ سينه کي مي مهماني دي
هله به تائی د رنځ طبيب ته ځي
جوړي که د وصل دوا ګانی دي

کندهار - افغانستان اګست - ۲۰۱۰

زه چې وینمه ستا سترګي مکرجني
په سيالي کي سره تللي لکه بني
بانه غشي د آبرو په کمان ولې
څاڅکي څاڅکي څڅوې د زړګي ويني
يا آسمان تورو وريځو باران راوست
يا له تورو سترګوځي مي اوښکي سپيني
د حباب پشان جامه يمه خپل تن ته
حاجت نلرم چي واغوندم رنګيني
هر ګړۍ چي تائي شوخ کتو کي وژني
خنجرڅه نيسې په لاس کي دل سنګيني

دهامبورګ ښار - جرمنی ۲۰۰۰



زلفي توري ئې رخسار باندي خپرې کړې
ول پــه ول ئې په گريوان خورې ورې کړې
بيامــي و پـوښتـه ارمـان د زړه دي څه دئ
وېـل پـرې که مي داستا د زړه قطرې کړې
يارمـي زړه لــه سينـې باسـي بيـا مي وژني
چــي ئې نن راته مصرى تـوري تيرې کړې
دا ســـرخى ئې د حـنا کـــله بــاله ســي
دا خـو زما په وينو يار منگولي سرې کړې
همېشـــه چي ئې پـــه قـــهر شـوخ کاتـــه وه
د تائي ويـــنى ئې ځان تـه پـښمانې کړې

هانو ـ جرمنى ١٩٩٩

زمـا د زړه داغـونه ټـوله  را تـازه شـوه پـه لاله کښي
د یـاقـــوتـو بـــازار راغی  د صـــدف پـــه قــباله کښي
بیـا جوړه  منګولي سرې سوې  د  رګو پـه ګرمو وینو
تـل ژونـدي زړونـه رابـاسـي   لـه سینې پـه آه ناله کښي
یـو ئې خیال د توروسترګو بـل د خط له مســته زوره
دا نـرګـس وسـنـبل وینــم     د رخــسارپـه رسـاله کښي
داچي پټ سینه کي شین دی   زړه زمـا د یـارغـموکي
څه عجب له خُمه راغله  سره شراب په شنه پیاله کښي
هغـه سـرې انـار  غـوټۍ دي  تـــائي  مــوج له کنـدهاره
که د سـروسکروټو وېش دئ  د سـاقي پـه حواله کښي

ستا یاد  الماس کلینک  کندهار  ۲۰۱۴ م

نه غوارم مطربه ستا رباب ، مستي نغمې
زړه د آسمان شین سو په نا له زما د سینې
نه پتنګ په شانی د شمع په لمبه سوځم
بلبله نور دي نه اورم سره ګل ته ترانې
نه یمه شبنم چي پر پاڼه ګل غوټي سم
یا مسته بورا سم د سرو ګلو دغنچې
نه مستی نغمی په نڅا د پیغلو اورم
دې اتڼ کي نه وایم څلمو ته ترانې
نه نور ښایسته وینم ( تائي ) په مینه مینه
هغه مسته مي راغله جام په لاس د میخانې

یارانه روغتون ، د کندهاربنار

زړه دي يو وړ پـه منـګولـو لـه سينې
بيـــا رهي سوې و طرف تــه دمکې
بـاج د ميــني دي زمـا د زړه اخيـستی
نـــور بــه څـه کړم شـــکايت د زمانې
يا پـه زړه کي دي هيڅ رحم مهرنسـته
يـــا شـرميږې بــه زمـــا لـه يـارانې
د پتنګ پشان مـي سوځې سـرولمبوکي
پـر مابـلي کړې د شـمع پـه خير لمبې
هسي يارو تائی خلاصی تنی پروت ؤ
بـــرايی چـــی ؤ ميـــلمه د مـيخانې

ستا ياد دلوی اختر شپه السلام سعودي هسپتال
کوئيټه ١٩٨٥ م

زمـا دلـــه آشـفـــتـــه پـه غم د چـا ئـې

لـه اولـــه افـــسـانـه عـالـم د چـا ئې

بلبـلان ټول ثــنا خـوانـه د چـمن دي

تـه مي پـاـٻـه پـــرورده پـه نـم د چـائې

یـو یـو زخم ته مـرهم د وصل غواړي

تـه صـنم د زړو طبیـب صـنـم د چـائې

دامـېن زړونـه ژوندي خون ځـگر دي

سـرې منگولی پـه هردم پـه دم دچـائې


همېش سرپه لاس تائی ځي ستادیدارته

تـــه پـه لُور قــدم د نـاز قــدم دچـائې

مونـاکو ـ اروپا جولائ ۲۰۱۳

زیبا سترګي چي رنجو باندي نرۍ کړي
خجل سترګي د زمرۍ او د هوسۍ کړي
بیا د حُسن لښکر تاخت د زړه په لورکا
داچي غشي د مژګانو په لیندۍ کړي
یو یو ول د تورو زلفو دی سنبل سي
آراسته چي د سروشونډو پرغوټۍ کړي
درسته شپه چي دي سرزماغیږکي ؤ ایښی
په افعي افعي مارانو مي بازۍ کړي
هسي څنګ ته په تمکین د تائي کښېنه
چي تر زړو د رقیبانو ویني توۍ کړي

کندهار - جون ۲۰۱۲



زلفي ول چي پيچ و تاب پر سپين رخسارکړي
افعي مار سي مخته ځي وروسته گذارکړي
بدخشان ئې په لمن کي اوښکي توی کړې
دا چي زما سره جفاوي خپله يار کړي
يار کږې وريځي کمان بانه کړه غشي
په دوستی به ئې زړه ځنگه اعتبار کړي
د هجران غمو مي زړه سينه کي شين کړ
عادت نه لري د نئ په شان چغار کړي
هرڅوک غاړي لره جوړ کا هار دګلو
د تائي شعرد گل په غاړه هارکړي

المکه کلينک ، کندهار اپريل ۲۰۱۳

زخمي نه ئې لاچي مار خوړلئ نه ئې
ول په لاس د زلفو تار نيولئ نه ئې
بَلي شمعي د محفل پتنگ ته ووې
دا چي ناڅې دعشق اور سوځلئ نه ئې
يوه ورځ به د ساقي پياله نوشي کړې
تر هغو چي لا مرگي بللئ نه ئې
د ساقي له خُمه څه پوه ئې زاهده
چي يو څاڅکئ د شراب چښلئ نه ئې
هميشه که دي تائي شوخو ته گوري
بيا هم وائي چي مي سم ليدلئ نه ئې

ستاياد کوئيټه مشن هسپتال ۱۹۸۴

زه بــه مى لـــه خمه څــه كــړم نــازنيــني
ستا سرې شونډي دي تر جام راته شيريني
بـرايـي مي زړه دوه غـبـرګه سـره وچاؤد
نن لـه ســترګو څخـه ځـي كـوتـلـي ويني
يــو د بله پــه سيــالي كي دواړه سترګي
لـــكه بــنــي چــي دعــوې كا سره سپيني
دائـې ونـغــښته غنــچه زرغونــو پــانو
كـه پــه تــن كړې محبــوبـا جامې رنګيني
هــرګلرخ چــي د نـرګس مړاوي كتـل كا
تائـي پـورتـــه سي فـــتنې لـه شرمګيني

منزلباغ جاده ، كندهار ٢٠١٠

زمانه کي يګانه ئې
د سرميو پيمانه ئې
بانه غشی کج ابرو دي
تل د زړو په نښانه ئې
يوړک جام د خُم د ميو
هم ساقي هم ميخانه ئې
دُر دي غاښ لبان ياقوت دي
سر تر پايه خزانه ئې
هره شپه چي تائي سوځې
د تار مسته ترانه ئې

د بايروت ښار - جرمنی
دسمبر ۲۰۰۶

زما د زړه داغونه تږوله را تازه شوه په لاله کښي
د یاقوتو بازار راغی د صدف په قباله کښي

بیا جوړه منګولي سرې سوې د رګو په ګرمو وینو
تل ژوندي زړونه راباسي له سینې په آه ناله کښي

یو ئې خیال د توروسترګو بل د خط له مسته زوره
دا نرګس وسنبل وینم د رخسارپه رساله کښي

داچي پټ سینه کي شین دی زړه زما د یارغموکي
څه عجب له خُمه راغله سره شراب په شنه پیاله کښي

هغه سرې انارغوټۍ دي تائي موج له کندهاره
که د سروسکروتووبش دئ د ساقي په حواله کښي


د ماین راده غاړه هانوبنار ـ جرمنی

زلفي اوږدې لـــب انـاري ښکلي دي
ډکي پــيـالې مي د ســاقي ښکلي دي
برائي څنګ ته مي مـدهـوشه راغله
نـن ئې مـنګــولي حنـائې ښـکلي دي
يــوار ئې بيـا ومـــلا قات تـــه ورځم
کــندهــارئ ښـکلي ازلـي ښکلي دي
دغه انـارچي کــندهاري دي نـــازک
هـومـره د پېغلو ا ننګي ښـکلي دي
هـره ميوه ( تائي ) جــدا لري رنـګ
د زني سېب خـو نوخدائي ښکلي دي

ستا ياد ، حيدری کلينک کندهار
جوزا ۱۳۹۲ هـ ، ش

زما کوګل کي دي اورونه سمندر پـه کښي پخيږي
سرپـرسر په آه تـازه دي له سينې چي پـورته کيږي
بيـا د دغه اور سکروټي د ګـريوان پـرلوري راسي
سپـلني غوندي مي سوځي سم دا اور په تـازه کيږي
يـو د ميـني لـمبـه تـاؤ ده بـې وفــا صـنـم لـه لاسه
هر يورګ مي پوليته سودې لمبه کي سوځل کيـږي
د انـګور پـشـــانـي ډکه لـه تـنـهــاکو مـي سيـنه ده
بـله شمــعه د محـفـل يــم پـه بـدن مي اور بلـيـږي
هـره ورځ هـره لحظه مي ميـنه ميـنه قـربــاني ده
امــتحان له تائي اخـلي دي کوره کي څــو پخيږي

د ماين راده غاړه هانوښار ـ جرمنی




زړه مي هره ورځ له غمه نرئ کيږي
له کاري کاري زخمونو څه سرئ کيږي
بيلوي چي يار له ما نه ما له ياره
دا آسمان لکه چي اوس ليونئ کيږي
يم حيران د ليوني خاطر له لاسه
چي هر دم ئي په نظر سپلنئ کيږي
د سرو شوندو په رموز دي ښه پوهيږم
ځکه هره ورځ مي مينه په مې کيږي
هله خوله راکه ( تائي ) دي په سفر ځي
په سفر کي سخت زړگئ هم نرئ کيږي

دهانو ښار ـ جرمني
اگست ـ 2018


زه د هغې شمعي تن يم چي محفل کي تل سوځيږي
زما په حال يو خداى خبر دى چي پرما داڅه تيريږي
بيا دي ټينگ له ستوني نيسم د فلک نامراده څرخه
زما د ميو جام دي مات کړ نن ډک خم له ما پاتيږي
يم د عشق په سمندرکي روڼ حُباب ساحل راوړئ
هغه آه د نيم بِسمل يم چي وروستئ له تنه خيژي
د مطرب هره پنجه کي د رباب له زير ؤ بمه
زه د تار هغه نغمه يم چي رندان ورته مستيږي
هر لحظه مي سربازي ده د فانوس په پلوشوکي
تائي شمعي سره سوځه چي سهار مجلس ختميږي

ستاياد ـ مشن هسپتال ، کوئيټه ـ پاکستان
جنوري ۱۹۸۴



زما پشان نن غیږ کي پروت دلبردچادئ
د وصال په خوښۍ مست سحر د چادئ
بیله شمعي چي محفل کي نن ویلیږي
راته وایه دامن هسي تر د چادئ
یار ساقي ؤ درسته شپه په جام د میو
هسي لب پرلب لبریز ساغر د چادئ
دا د شمع د ځان سوزۍ مخکي چي سوځی
بې پتنګه هسي بال ؤ پر د چادئ
هم تائی اوهم ئې یار په مینوشي کي
بیله تاکه بل نسکور ځیګر د چادئ

هانو ـ جرمنی




زه غوټۍ دهغه ګل یم چي اغزومینځ کي سپړیږي
د هغې شمعي رڼا یم چي پتنګ راته سوځیږي
بیرته راسه راڅه واخله دا د ژوند نا کاره څلۍ
چي جانان ئې راڅه یوړ دا آسمان دي ونړیږي
یوه توره د ربیله ده د ښاري پنجروخواته
زه راغلۍ مسافریم د ناکس زړه راسړیږي
داچي ځم له د غه ښاره ددې ځاۍ له ناپاکۍ یه
د سیلاب څپو اخیستۍ هریوبام پرما نړیږي
هلۍ قبر ئې ژرکاږۍ دا ژوندۍ تائي په ګورکۍ
د اجل مرغه ئې نسته نه ګردش له سترګو کیږي

ستا یاد او تاریکه اسمان ، کابل ـ قرغه

زلفي توري ول په ول چي زولنې شي
جـوړي جوړي ليـونـوتــه بـهانې شي
بـليده کا پـه فـانـوس کي رخسار شمع
داچي غاړي ته را تاؤسپيني خولې شي
يــو ساقي يــوميـخانـه له يــوه خـُمه
چي د سرو شـونډولبريزي پېمانې شي
د ځيگر پـر ميدان تاؤ د اوږدو زلـفو
هـر کمنـد کي ئې د مشکو خزانې شي
هر بيگاه چي ئې تائي شکري غواړي
تبــسم کــي ورتــه ډکــي پــېمانې شي

يارانه شفاخانه ، کندهار ۲۰۱۸ م




زاهـــدان چي څوښي اړه وي ګفتار کي
لـکه زاغ مشوکه کـش کاپـــه غبار کي
بلـبل نـــه ئې چي غُـــنچه پـه نوا واکړې
که هـــرڅـــوګرځې د حُسن په بازارکي
يـــوه ډکـه پيـــاله راکــه لـــه ســرو ملو
چـــي انـار مـي سيـالي وکـا کـنـدهارکي
دا دي بـــيا آسمانه څـرخ د بـدئ تـــاؤکړ
چي دي ورک لکه نغمه کړمه په تارکي
هره ورځ مي د رګونـوخونـريزي کړې
د تائي پرزړه داغ کـښېږدې لاله زارکي

د ماين راده غاړه هانوښار ـ جرمنی

زه چي پروت وینم پریشان ول په رخسار کي
تور افعي نشه نفس اخلي گلزار کي
بلا گڼه د نرگس پر مېنه راسي
چي په مړو سترگو کاته کړي په خمارکي
یو پټ راز دی د ساقي د پیالوشرنگ کي
شي ښکاره ئې لیونتوب په غیرږ د یارکي
د سرخۍ مثال چي وینم ستا د لبو
څه عجیبه لذت پروت دی په انارکي
هرمطرب چي دي صفت د حُسن ساز کا
د ( تائې ) د آه څپه پریوزي په تار کي

د مارچ ۱ -- ۲۰۲۱ کیتلرروغتون
اوپن بخ - جرمنی




زړه مي پريوت بند د زلفو په هر تارکي
مشاطې چي سازاوه يار په سينگار کي
بيا به ډکه لمن يو سې مئين زړونه
داچي سرې منگولي گرځې په بازار کي
يارچي جام د ميو راوړي پيالې بنگي
اور به پوري په کوډله د اغيار کي
د مطرب هره پنجه کي چي عيان سي
پيچيده نغمه د زړه پورته سيتار کي
هريو شرنگ ئې د بنگړو په ليچوشورکا
ځکه سر ايښئ ( تائي ) په غير. ديارکي

د ماين راده غاړه هانوښار ـ جرمنی

مست چي پروت دی شوردميني په اسرارکي
زيبائي د تورخط وينم په رخسارکي
چي وږمه ئې د رخسار پر چمن راسي
بادام گل ئې سي له ښاخه په نثار کي
د ريا جامه کي تورزاهد ښاغلئ
يو عجيبه ليونتوب دی په دې ښار کي
په رانجوچي سلائي کش کړه پر ورځو
دم دستي ئي کړ پيدا بچئ په مارکي
شنو بنگړو چي به تائي پرمړوند شورۇ
هغوی سرې کړې نری شونډي په سينگارکي

د ماين راده غاړه هانوښار ـ جرمنی



زما له سترگو چي سرې اوښکي پرگريوان سي
فتنه ساز د زمانې مې دا آسمان سي
بيله ستا له زيبا مخه چي نور گورم
دا کاته مي دې ميلمه د گورستان سي
يو د زلفو تار ئې زړه له سينې يوړ
دا مُلا ، شيخ ؤ زاهد دي شاهيدان سي
د زخمي سينې احوال مي راسئ گورئ
در معلوم به سوئ زړه زما دهجران سي
هميشه ( تائي ) محفل ته پټه خوله ځه
نه ، چي آه دي سره لمبه په خپل د يوان سي


هانوبنار ـ جرمنی ۲۰۰۱

زلفي ول پر ول اوډل آسانه نه دي
تورپېکي ته رسيدل آسانه نه دي
بلبل مسته نغمه سرکا وغنچې ته
د پتنګ په شان سوځل آسانه نه دي
يونګاه ته دي د سترګو ارمانجن دي
مست نرګسوته کتل آسانه نه دي
داچي ناست دميخانې ملنګ دي خال دی
له دې خُمه جام چښل آسانه نه دي
هغه خط چي و تائي ته فرهاد ورکړ
له کوهساره څه راوړل آسانه نه دي

ستا خيال   وينيسيا ښار

زلفي توري چي گريوان ته رخسار پرېږدي
چمبېلي ئې پـه سيـالي بانـدي مـار پرېږدي
بـلبـل هــله سره غـنچه پـه نـــوا وا کړي
چـــي وبـــڼ تـــه ئې وږمـــه د سـهار پرېږدي
يــو ځـل بيـــا به د سرولبـو مـی نـوشـي کړم
کـــه مي ســره انـار د بڼ تــه مالـيار پرېږدي
درســته شـپه لکه شبــنم پـه ځـان کړم روڼه
څـو د حُــسن وگلــشن تـه مي يــار پـرېږدي
هـر يـو څاڅکی د ( تائي ) داوښکو اور دی
بـــې مـرهـمه بــه ئې کلــه پـــرهار پرېږدي

هانو ښار ـ جرمنی ۲۰۱۱ م




داچي گرځم بيله ياره په گلزارکي
زمانه راته چپه سوه په روزگارکي
پرگريوان پريشاني راسي ول ول زلفي
بيا به لاس ترکمرتاؤ کړم په سينگارکي
باريکي د دغه شعر به هغوی ويني
يوسوړاه چي د سينې وړي په پرهارکي
د مخ خال دي د عاشق له کسي وکيښ
د زمان تحفه دي جارسم په رخسارکي
تا ئي گرځي لکه زرکه په سروسترگو
هميشه گردن کشي کړي په کوهسار کي

د ماين راده غاړه هانوښار ـ جرمنی

زړه ئي واخیست تورو زلفو په تاوان کي
چي مي لاس افعي ته وروړ په گریوان کي
بُت پرسته چي دا ستا په سودا نه سي
د آسمان گوهر به نه لري په ځان کي
یارچي توراوربل کي کېږدي سپین گلونه
ځورلسمه ئې ښکاره مست کهکشان کي
دا دي مینه ده چي آه له سینې باسي
څاڅکی اوښکي په ځیگرکي جوړتوفان کي
هیڅ ئې مه لیکه ( تائي ) د ا سرې بڅري
هسي نه چي اور دي پوري په دیوان کي

ستا یاد هانو ښار ـ جرمنی



زيبا يار چي ځان سينګار کا په اختر کي
نقاشان د چين شکست خوري په هنرکي
بيـا تــازه د بهارګل پـيکي کي کښيـږدي
ول د زلفوپريشان پرېږدي په ځيګر کي
يــوه نيـمه ســلائي ستـرګي کا تـــوري
و آئـيـنې تـه پـه موسـکا موسـکانـظرکي
د ګلــشن بـلبـلي تـول پــه مستـي ناځـي
يـارچـي يـو ځلي چـمن کي تـش ګذرکي
هرناوک چي مطرب کش د رباب تارکا
د ( تائي ) ښايسته غـزل شيـروشـکرکي

ده خواجه کندهار ـ افغانستان

زیبا خاله ته له کومه را پیداسوې
چي د میو خم ته ناست تک وتنهاسوې
بیا دي کړمه په فغان د یار د حسن
سپلنۍ غوندي د اورمسته دونیا سوې
یوځل لاس په تورو زلفو پیچ وتاب وې
پیوسته بیا د ساقي د خم میناسوي
داچي شپه ؤورځ دي خیال ساتمه زړه کي
د یعقوب په څېر می سترګي نابینا سوې
هسي مست چي میخانې له ( تائي ) راغلې
مشکین خاله اوس وځان لره بلا سوې

د ماین راده غاړه هانوبنار ـ جرمنی

زړه مي ستا و زړه ته خپل د میني داستان وایي
هرڅاڅکی د وینوئې وتاته قربان وایي
بیا دي ورته جنګ د خمارو سترګو وریاد کا
غشي د مژګانو دي آبرو ته کمان وا یی
یو ځلي وریاد کا واړه غوړشکي ستا دزلفوهم
را سي و ځیګرته ئې پیچلی طوفان وایي
دا د میخانې د خُم په دور چي زنګیرۍ تل
واړه وجامونوته د میو مستان وایي
هیڅ ارمان ئې نسته ببله ستا له شوخوسترګو
پټ چې په سینه کي تل ( تائي ) په ارمان وایي

د ماین راده غاړه هانوبنار ـ جرمنی

[309]